# د مالِک عیسیٰ مسیح په حقله د حضرت متی زیرے

## پیژندګلو

د حضرت متی زیرے د اِنجیل شریف اولنے کِتاب دے. د حضرت متی دا زیرے تقریباً دوه زره کاله وړاندې په یونانی ژبه کښې د حضرت متی رسول په وسیله لیکلے شوے دے، څوک چې د حضرت عیسیٰ مسیح ګواه او شاګرد وو. په دې زیری کښې هغه واقعات درج دی چې حضرت عیسیٰ مسیح څنګه معجزې وکړې، مثالونه یې بیان کړل، او د خُدائ پاک د لارو تعلیمات یې ورکړل او دا هم بیانوی چې په هغۀ مُخبری څنګه وشوه او څنګه په سولیٰ مړ شو. هغه بیا دوباره ژوندے شو او خپلو شاګردانو ته یې حکم وکړو چې زیرے خور کړئ. حضرت متی دا بیان وکړو چې حضرت عیسیٰ څنګه مسیح دے، هم هغه چې خُدائ پاک غوره کړے دے چې خلقو ته د ګناهونو نه خلاصون ورکړی. حضرت متی د زړې لوظنامې نه ډیرې حوالې استعمال کړې دی چې دا خبره ثابته کړی چې حضرت عیسیٰ څنګه په خپل وجود کښې د مسح کړے شوی په حقله د پیشګویۍ لوظونه پوره کوی. حضرت عیسیٰ مسیح چې د بادشاهانو بادشاه دے هغه د دې اعلان کولو دپاره راغلو چې د خُدائ پاک بادشاهی نزدې ده. حضرت عیسیٰ لوظ کړے شوے خلاصونکے دے، او د هغه لوظ پوره کوونکے دے کوم چې حضرت اِبراهیم سره خُدائ پاک کړے وو چې د دُنیا ټولو قومونو له به هغه برکت ورکوی.

حضرت عیسیٰ په خپل خِدمت کښې، تر مرګه پورې او د مړو نه بیا ژوندی کیدو کښې هغۀ د صداقت ژوند تیر کړو، او مونږ ته د دې اظهار کوی چې په خپله نیکۍ او تابعدارۍ مونږ صادق نۀ شُو جوړیدلے بلکې دا چې مونږ په خُدائ پاک باور وکړُو چې د ایمان په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسيلې سره مو هغه صادقان وګرځوی. د سختو مشکلاتو باوجود حضرت متی خلقو ته
هدايت ورکوی چې د مخالفينو په مقابله کښې ټينګ ودرېږی. او په ډېر سکون سره دې
خپل حفاظت د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې محسوس کړی. حضرت متی د دې خبرې
اظهار کړے دے چې د دُنيا هر يو اُمت، قوم، قبيله او د هر نسل او هرې ژبې خلق په
حضرت عيسیٰ مسيح کښې خلاصون حاصلولے شی. د حفظ کولو دپاره ۲۸:۱۱ آيت
"اے تاسو ټول چې خوارى کوئ او پنډ مو درونده دے، ما له راشئ او زۀ به آرام
درکړم."

## د حضرت عيسیٰ نسب‌نامه

۱ ۱ د عيسیٰ مسيح نسب‌نامه، نسل د داؤد، نسل د اِبراهيم. ۲ اِبراهيم د اِسحاق
پلار وو، اِسحاق د يعقوب، يعقوب د يهوداه او د هغۀ د ورونړو پلار وو. ۳ او يهوداه د
فارص او زارح پلار وو، د دوئ مور تامار وه. فارص نه حصرون او حصرون نه رام
پيدا شو. ۴ د رام نه عمی‌نداب پيدا شو. د عمی‌نداب نه نحشون پيدا شو او د نحشون
نه سلمون، ۵ د سلمون نه بوعز، د دۀ مور راحب وه، د بوعز نه عوبيد پيدا شو، د دۀ
مور روت وه. د عوبيد نه يَسی، ۶ او د يَسی نه داؤد بادشاه پيدا شو. داؤد د سليمان
پلار وو، د هغۀ مور اول د اورِياه ښځه وه، ۷ د سليمان زوئ رحُبعام وو، د رحُبعام
زوئ ابياه، د ابياه زوئ آسا. ۸ د آسا زوئ يهوسفط، د يهوسفط زوئ يورام او د يورام
زوئ عُزياه، ۹ او د عُزياه زوئ يوتام او د يوتام زوئ احاز، د احاز زوئ حزقياه، ۱۰
د حزقياه زوئ منسی، د منسی زوئ امون، د امون زوئ يوسياه، ۱۱ د يوسياه زوئ
يکونياه، او د هغۀ ورونړه په هغه زمانه کښې پيدا شول چې بابل ته جلاوطن کړے شو.
۱۲ د جلاوطنۍ او بابل ته د دوئ د بوتللو نه پس د يکونياه نه شلتی‌ايل پيدا شو او
شلتی‌ايل د زرُبابل پلار وو، ۱۳ زرُبابل د ابيهود، او ابيهود د اِلياقيم او اِلياقيم د عازور
پلار وو. ۱۴ او د عازور نه صدوق پيدا شو، صدوق د اخيم پلار وو، اخيم د اليهود، ۱۵

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

الیهود د اِلیعزر، اِلیعزر د متان، متان د یعقوب، ۱۶ او یعقوب د یوسف پلار وو.
یوسف د مریم خاوند وو چې عیسیٰ ترې پیدا شو څوک چې مسیح بللے کیږی. ۱۷ د
اِبراهیم نه تر داؤد پورې ټولې څوارلس پیړۍ دی، او د داؤد نه بابل ته د جلاوطنۍ پورې
څوارلس پیړۍ، او د جلاوطنۍ نه تر مسیح پورې څوارلس پیړۍ دی.

## د حضرت عیسیٰ پېدایښت

۱۸ نو د عیسیٰ مسیح د پېدایښت قیصه داسې ده چې هرکله چې د هغهٔ مور مریم
یوسف ته کوژدن شوه نو د وادهٔ نه وړاندې دا پته ولګېده چې د هغې اُمیدوارى د روحُ
القُدس نه ده. ۱۹ یوسف د هغې چنغول يو نېک سړے وو، نو هغهٔ د هغې د بدنامۍ نه د
بچ کولو دپاره په پړده کښې د کوژدن ماتولو اراده وکړه. ۲۰ هغهٔ دا اراده کړې وه چې
په دې کښې د مالِک خُدائ يوه فرښته په خوب کښې ورته راغله او وې فرمائيل چې،
”اے د داؤد زویه یوسفه، د مریم سره د وادهٔ کولو نه مهٔ یرېږه ځکه چې د هغې
اُمیدوارى د روحُ القُدس په قدرت ده. ۲۱ د هغې به زوئ وشى او تهٔ پرې عیسیٰ نوم
کېږده، ولې چې هغه به خپل اُمت د ګناهونو نه خلاصوى.“ ۲۲ دا هر څهٔ ځکه وشول
چې مالِک خُدائ د پېغمبر په وسیله څهٔ فرمائیلى وُو هغه پوره شى، ۲۳ ”ګوره، یوه
پېغله به اُمیدواره شى او زوئ به يې وشى او د هغهٔ نوم به عمانوايل کېږدى، چې مطلب
يې دے، خُدائ پاک زمونږ مل دے.“ ۲۴ هرکله چې یوسف د خوبه بیدار شو نو د
مالِک خُدائ د فرښتې حکم يې ومنلو او مریم سره يې وادهٔ وکړو او کور ته يې راوسته.
۲۵ نو بیا هغه تر هغه وخته پورې د هغې سره مِلاو نهٔ شو ترڅو چې د هغې زوئ پیدا
شوے نهٔ وو. نو هغهٔ پرې عیسیٰ نوم کېښودو.

## نذرانې پېش کول

۲ ۱ د هیرودیس بادشاه په ورځو کښې د یهودیه په بیتلحم کښې عیسیٰ پیدا شو. د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ د پېدايښت نه پس يروشلم ته د نمرخاتهٔ طرف نه د ستورو عِلم لرونکی راغلل ۲ او
وئيل يې چې، ”هغه د يهوديانو بادشاه کېدونکے ماشوم چې پېدا شوے دے چرته دے؟
ځکه چې مونږ د نمرخاتهٔ نه د هغهٔ ستورے په راختو ليدلے دے او د هغهٔ عبادت کولو
له راغلی يُو.“ ۳ هيروديس بادشاه او د يروشلم ټول خلق په دې اورېدو سره پرېشانه
شول. ۴ هغهٔ د يهوديانو ټول مشران اِمامان او د شرعې عالمان راوبلل او د هغوئ نه
يې دا تپوس وکړو چې، ”مسيح به چرته پېدا کيږی؟“ ۵ هغوئ ووئيل چې، ”د يهوديه په
بيتلحم کښې.“ او هغوئ د هغې پېشګوئۍ حواله ورکړه چې په کښې د نبی په وسيله
ليکلے شوی دی چې، ۶ ”اے د يهوداه د زمکې بيتلحم ښارې. تهٔ د يهوداه په لويو
ښارونو کښې هيڅکله هم ورکوټې نهٔ يې، ځکه چې ستا نه به هغه سردار راوځی چې زما
د خلقو بنی اِسرائيلو شپون به وی.“ ۷ هيروديس بيا د ستورو عِلم لرونکی په پړده
کښې راوبلل او د ستوری د راختو وخت يې ترې معلوم کړو. ۸ هغهٔ بيا دوئ بيتلحم
ته ولېږل او ورته يې ووئيل چې، ”لاړ شئ او د هغه ماشوم په حقله پوره پوره تلاش
وکړئ، او چې يې بيامومئ نو ما خبر کړئ چې زهٔ هم ورشم او ورته سجده وکړم.“ ۹
د بادشاه په حُکم هغوئ روان شول او هغه ستورے چې دوئ په راختو ليدلے وو د دوئ
په وړاندې روان وو او آخر په هغه ځائ ودرېدو چرته چې ماشوم پروت وو. ۱۰ هغوئ
د ستوری په ليدو ډېر زيات خوشحاله شول. ۱۱ کور ته په ننوتو يې ماشوم د خپلې مور
مريم په غېږ کښې وليدو او ورته په سجده پرېوتل. پس له هغې يې خپلې تيلۍ پرانستلې او
هغهٔ ته يې نذرانې پېش کړې چې په کښې سرهٔ زر، او د خوشبوئۍ دپاره لوبان او د مُر
چيړ وو. ۱۲ خُدائ پاک هغوئ ته په خوب کښې دا خبردارے ورکړو چې هيروديس
بادشاه له واپس مهٔ ځئ، نو هغوئ بيا په بله لار خپل مُلک ته واپس شول.

## مِصر ته هِجرت کول

۱۳ کله چې هغوئ رُخصت شول نو يوسف ته د مالِک خُدائ يوه فرښته په خوب کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغله او ورته يې وفرمائيل چې، ”پاڅه، ماشوم او مور يې د ځان سره کړه او مِصر ته
هِجرت وکړه، او تر هغې هلته ايسار شه چې زۀ درته ووايم، ځکه چې هيروديس د دې
ماشوم په تلاش کښې دے چې قتل يې کړى.“ ۱۴ نو يوسف د خوبه بېدار شو او شپه په
شپه يې ماشوم او د هغۀ مور مِصر ته بوتلل، ۱۵ او هلته د هيروديس تر مرګه پورې
ايسار وو. دا د مالِک خُدائ هغه وينا پوره کول وُو چې هغۀ د نبى په وسيله فرمائيلى وُو
چې، ”ما خپل زوئ د مِصر نه راوبللو.“

## د ماشومانو قتل

۱۶ هر کله چې هيروديس د ستورو عِلم لرونکو په دوکه پوهه شو نو سخت په قهر شو
او حُکم يې وکړو چې د بيت‌لحم او د خوا او شا هغه ټول ماشومان چې عُمر يې دوه کاله
يا د دې نه کم وى، قتل يې کړئ. نو د ستورو د عِلم لرونکو د معلوماتو په مطابق هغۀ دا
د وخت اندازه لګولې وه. ۱۷ دغه رنګ هغه پېشګوئي چې د يرمياه پېغمبر په وسيله
شوې وه پوره شوه چې، ۱۸ ”په راما کښې د چغو آواز واورېدلے شو، د لوئ ماتم او
ژړا آواز. راحيل په خپلو بچو ژړا کوى، هيڅ قسم تسلى نۀ قبلوى ځکه چې د هغې
ماشومان مړۀ شوى دى.“

## د مِصر نه واپسى

۱۹ نو د هيروديس د مرګ نه وروستو، د مالِک خُدائ فرښته په مِصر کښې يوسف له په
خوب کښې راغله او ورته يې وفرمائيل چې، ۲۰ ”پاڅه. ماشوم او مور يې د ځان سره
کړه او د دوئ سره د بنى اِسرائيلو مُلک ته لاړ شه، ځکه چې د چا نه چې د دې ماشوم
سر ته خطره وه هغه مړۀ شوى دى.“ ۲۱ نو هغه پاڅېدو، ماشوم او مور يې د ځان
سره روان کړل او د بنى اِسرائيلو مُلک ته راغلل. ۲۲ خو کله چې يوسف دا واورېدل
چې د خپل پلار هيروديس په ځائ ارخلاوس د يهوديه بادشاه شوے دے، نو هلته د تللو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه وویرېدو. نو کله چې بیا په خوب کښې ورته دا خبردارے ورکړے شو نو هغه د ګلیل
علاقې ته لاړو، ۲۳ هلته هغه په ناصرت نومې ښار کښې ډېره شو. دا د نبیانو په وسیله د
وئیلے شوې هغه پېشګوئي تر سره کول وُو چې، ”هغۀ ته به ناصری وئیلے شی.“

## د حضرت یحییٰ بپتسمه ورکوونکی وعظ کول

۳ ۱ په دغه ورځو کښې بپتسمه ورکوونکے یحییٰ راغے چې د یهودیه په بیابان کښې
یې دا بیان کولو چې، ۲ ”توبه ګار شئ ځکه چې د آسمان بادشاهی نزدې راغلې ده.“
۳ دا هغه ښوک دے چې د یشعیاه نبی په وسیله یې ذکر شوے دے، یعنې، ”په بیابان
کښې د نعرې وهونکی آواز دے چې د مالِک خُدائ لاره جوړه کړئ او د هغۀ لارې نېغې
کړئ.“ ۴ د یحییٰ جامې د اوښ د وړئ وې او د څرمنې پټئ یې د ملا نه تړلې وه او
مُلخان او ځنګلی شات یې خوراک وو. ۵ د یروشلم، یهودیه، او د اُردن د ګیرچاپیره
وطن ټول خلق هغۀ ته راټول شوی وُو. ۶ هغۀ هغوئ ته د خپلو ګناهونو په اقرار کولو
سره د اُردن د سیند په اوبو بپتسمه ورکړه. ۷ خو کله چې یحییٰ ولیدل چې ډېر
فریسیان او صدوقیان د بپتسمې دپاره راځی نو ورته یې وفرمائیل، ”اے د مارانو بچو،
تاسو ته چا دا خبردارے درکړو چې د راتلونکی غضب نه وتښتئ؟ ۸ او داسې کارونه
وکړئ چې ورنه ستاسو د توبې ایستلو پته ولګی. ۹ تاسو ځان سره داسې سوچ مۀ
کوئ چې ګنې تاسو د اِبراهیم اولاد یئ، ځکه چې زۀ درته دا وایم چې خُدائ پاک د دې
کاڼو نه هم د اِبراهیم دپاره اولاد پیدا کولے شی. ۱۰ اوس هم د ونو جرړو ته تبر نیولے
شوے دے او هره هغه ونه چې ښۀ مېوه نۀ نیسی هغه به پرې کړے شی او د اور لمبو ته
به واچولے شی. ۱۱ زۀ تاسو له د توبې دپاره په اوبو بپتسمه درکوم خو څوک چې به
زما نه وروستو راځی هغه زما نه ډېر زورَور دے. زۀ د هغۀ د څپلو پورته کولو جوګه هم
نۀ یم. هغه به تاسو له په روحُ القُدس او په اور بپتسمه درکوی. ۱۲ ښاخئ د هغۀ په لاس
کښې ده. هغه به خپل درمند په ښۀ شان پاکوی او غنم به په خپله خمبه کښې جمع کوی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو بوس به په هغه اور کښې سوزوی چې هیڅکله نۀ مری.“

## د حضرت عیسیٰ بپتسمه

۱۳ بیا عیسیٰ د ګلیل نه د اُردن د سیند خوا ته راغلو چې د یحییٰ نه بپتسمه واخلی. ۱۴
خو یحییٰ هغه منع کړو او ورته یې وفرمائیل چې، ”ما ته په کار دی چې زۀ ستا نه
بپتسمه واخلم او تۀ ما له راغلې؟“ ۱۵ عیسیٰ ورته وفرمائیل چې، ”په دې وخت هم
داسې کول په کار دی ځکه چې مونږ له دغه شان د خُدائ پاک صداقت پوره کول
مناسب دی.“ او بیا یحییٰ دا ومنله. ۱۶ د بپتسمې نه پس عیسیٰ د اوبو نه سمدستی
راوختلو او په هغه وخت ورته آسمان کولاو شو او د خُدائ پاک روح یې ولیدو چې د
کونترې په شکل په هغۀ راکوزېدو. ۱۷ او د آسمان نه یو آواز راغلو چې، ”دا زما خوږ
زوئ دے چې زۀ ترې راضی یم.“

## د حضرت عیسیٰ آزمېښت

۴ ۱ روحُ القُدس هغه وخت عیسیٰ بیابان ته بوتلو چې د اِبلیس په لمسون کښې
وآزمائیلے شی. ۲ هغۀ څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې روژه ونیوله او په آخر
کښې هغه نار نهور شو. ۳ بیا اِبلیس ورغلو او ورته یې ووئیل، ”کۀ تۀ د خُدائ پاک
زوئ یې نو دې کاڼو ته ووایه چې روټئ شی.“ ۴ عیسیٰ جواب ورکړو، ”صحیفې وائی
چې، بنی آدم تش په روټئ نۀ پائی خو هغه په هره هغه خبره پائی چې د خُدائ پاک د
خولې نه راوځی.“ ۵ بیا اِبلیس هغه مقدس ښار ته بوتلو او د خُدائ د کور په مناره یې
ودرولو ۶ او ورته یې ووئیل چې، ”کۀ تۀ د خُدائ پاک زوئ یې نو خپل ځان دلته نه
ښکته وغورزوه، ځکه چې صحیفې وائی چې، هغه به ستا په حقله خپلو فرښتو له حُکم
ورکړی، او هغوئ به تا په خپلو لاسونو کښې پورته کړی هسې نه چې په کاڼی تیندک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخوری.“ ۷ عیسیٰ جواب ورکړو چې، ”صحيفې دا هم وائی چې، تاسو په خپل مالِک
خُدائ پاک آزمېښت مهٔ کوئ.“ ۸ بيا اِبليس هغه د يو ډېر اوچت غرهٔ څوکې ته
وخېژولو او د دُنيا ټولې بادشاهئ او د هغې شان او شوکت يې ورښکاره کړل ۹ او
ورته يې ووئيل چې، ”دا هر څهٔ به تا له درکړم خو کهٔ ته راته صرف سجده وکړې او زما
عبادت وکړې.“ ۱۰ خو عيسیٰ ورته وفرمائيل چې، ”ورک شه اِبليسه. صحيفې وائی
چې، تهٔ تش مالِک خُدائ پاک ته سجده کوه او صرف هم د هغهٔ عبادت کوه.“ ۱۱ نو
اِبليس هغه پرېښودو او فرښتې راغلې او د هغهٔ په خِدمت کښې حاضرې شوې.

## د حضرت عيسیٰ په ګليل کښې خِدمت شروع کول

۱۲ هرکله چې عيسیٰ واورېدل چې يحيیٰ ګرفتار شوے دے نو هغه ګليل ته واپس
راغلو. ۱۳ ناصرت يې پرېښودو او په کفرنحُوم ښاريې کښې ډېره شو چې د درياب په
غاړه دے چې د زبولون او نفتالی په سرحد کښې دے. ۱۴ دا د يشعياه نبی خبرې پوره
کول وُو يعنې، ۱۵ ”د زبولون او د نفتالی علاقه، د درياب طرف ته د اُردن نه په خوا
کښې، د غېريهوديانو ګليل، ۱۶ کوم خلق چې په تيارهٔ کښې ناست وُو، هغوئ يوه لويه
رڼا وليدله، او څوک چې په زمکه د مرګ په سوری کښې ناست وُو، پرې رڼا وځلېده.“
۱۷ د هغې ورځې نه عيسیٰ دا بيان شروع کړو چې، ”توبه ګار شئ ځکه چې د خُدائ
پاک بادشاهی ستاسو مينځ ته راغلې ده.“

## څلورو ماهيګرو ته د حضرت عيسیٰ دعوت

۱۸ عيسیٰ د ګليل درياب په غاړه ګرځېدو چې دوه ورونړه يې وليدل، يو شمعون چې د
پطروس په نوم ياديږی او د هغهٔ ورور اندرياس. هغوئ په درياب کښې جال اچولو ځکه
چې هغوئ ماهيګر وُو. ۱۹ عيسیٰ ورته وفرمائيل چې، ”ما پسې راځئ او زهٔ به تاسو
آدمګير جوړ کړم.“ ۲۰ هغوئ سمدستی خپل جالونه پرېښودل او په هغهٔ پسې روان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول. ۲۱ کله چې عیسیٰ د دې ځائ نه وړاندې لاړو نو دوه وروڼه یې ولیدل، یعقوب د
زبدی زوئ او د هغهٔ ورور یوحنا چې په کشتۍ کښې یې د خپل پلار زبدی سره جالونه
مرمت کول. هغوئ یې راوبلل. ۲۲ هغوئ سمدستی کشتۍ او خپل پلار پرېښودل او په
هغهٔ پسې روان شول.

## د حضرت عیسیٰ تعلیم، بیان او بیمارانو ته شفا ورکول

۲۳ عیسیٰ په ټول ګلیل کښې ګرځېدو، د یهودیانو په عبادتخانو کښې یې تعلیم ورکولو او
د خُدائ پاک د بادشاهۍ د زیری بیان یې کولو او د خلقو هر رنځ او بیماری یې روغوله.
۲۴ د هغهٔ آوازه په ټول شام کښې خوره شوه او د هر رنځ بیماران چې په عذاب آخته
وُو، یعنې هغوئ چې پیریانو نیولی وُو، میرګو نیولی او شل یې ورله راوستل نو هغهٔ روغ
کړل. ۲۵ ډېر خلق ورپسې روان شول چې د ګلیل، د دِکپولس، د یروشلم، د یهودیه او د
اُردن د پورې غاړې اوسېدونکی وُو.

## په غر دپاسه د حضرت عیسیٰ بیان

۵ ۱ کله چې عیسیٰ ګڼ خلق ولیدل نو غرهٔ ته وختلو او هلته کښېناستو. او کله چې
د هغهٔ مریدان ورته راټول شول، ۲ نو هغهٔ ورته داسې تعلیم شروع کړو، ۳ ”بختور
دی هغوئ چې د روح غریبان دی ځکه چې د آسمان بادشاهی د هغوئ ده. ۴ بختور
دی هغوئ چې غمژن دی، هغوئ به تسلی ومومی. ۵ بختور دی هغوئ چې حلیمان دی
ځکه چې دوئ به د زمکې وارثان شی. ۶ بختور دی هغوئ چې د صداقت اوږی تږی
دی، دوئ به ماړهٔ کړے شی. ۷ بختور دی هغوئ چې رحم کوی، په هغوئ به رحم
وکړے شی. ۸ بختور دی هغوئ چې زړونه یې پاک دی، هغوئ به د خُدائ پاک دیدن
وکړی. ۹ بختور دی د امن راوستونکی، خُدائ پاک به هغوئ ته خپل زامن ووائی. ۱۰
بختور دی هغوئ چې د خُدائ پاک د رضا پوره کولو دپاره زورَولے کیږی، د آسمان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهی د هغوئ ده. ١١ تاسو بختور یئ کله چې خلق درته سپکې سپورې وائی، او
زوروی مو او زما له وجې خلق ستاسو په حقله هر قِسم دروغژنې بدې خبرې کوی. ١٢
دا هر څۀ تاسو په خوشحالۍ او روڼ تندی وزغمئ ځکه چې په آسمان کښې ستاسو
دپاره لوئ اجر دے، ځکه چې ستاسو نه وړاندې هم دغه رنګ دوئ نبیان وزورول. ١٣
تاسو د دُنیا دپاره مالګه یئ. کۀ مالګه بې‌خونده شی، نو بیا به څنګه مالګینه شی؟ دا بیا د
هیڅ څیز دپاره په کار نۀ راځی او بهر وغورزولے شی او د پښو لاندې کولو جوګه شی.
١٤ تاسو د ټولې دُنیا دپاره رڼا یئ. کوم ښار چې په غرۀ آباد وی هغه پټېدے نۀ شی.
١٥ چې ډیوه بله شی نو څوک پرې لوښے نۀ ږدی، بلکې د ډیوټ دپاسه کېښودلے شی
چرته چې د کور ټولو خلقو ته رڼا ورکوی. ١٦ او تاسو هم دغه رنګ د خلقو د وړاندې
رڼا خوره کړئ د دې دپاره چې هرکله هغوئ ستاسو ښۀ کارونه ووینی نو هغوئ به
ستاسو د آسمانی پلار، لوئی بیان کړی. ١٧ دا خیال مۀ کوئ چې ګڼې زۀ د دې دپاره
راغلے یم چې شریعت او د نبیانو کتابونه منسوخ کړم. زۀ د هغوئ منسوخ کولو له نۀ یم
راغلے بلکې پوره کولو له راغلے یم. ١٨ زۀ تاسو ته رښتیا وایم، ترڅو پورې چې
آسمان او زمکه ختم شوی نۀ وی نو د شریعت یو حرف یا د حرف نه یو زبر قدرې به
ختم نۀ شی، ترڅو چې دا هر څۀ سر ته رسېدلی نۀ وی. ١٩ نو کۀ څوک ورنه د شریعت
یوه ذره شان هم مات کړی او نورو خلقو ته د داسې کولو تعلیم ورکړی نو د آسمان په
بادشاهۍ کښې به د دوئ ځائ د ټولو نه لاندې وی. خو هغه څوک چې په شریعت عمل
وکړی او نورو ته یې تعلیم هم ورکوی، هغه به د آسمان په بادشاهۍ کښې لوئی بیامومی.
٢٠ زۀ تاسو ته دا وایم، ترڅو چې تاسو په صداقت کولو کښې د فریسیانو او د شرعې د
عالمانو نه زیات نۀ یئ نو تاسو بیا هیڅکله هم د آسمان په بادشاهۍ کښې داخلېدے نۀ
شئ. ٢١ تاسو اورېدلی دی چې زمونږ پلار نیکۀ ته وئیلے شوی وُو چې، قتل مۀ کوئ.
هغه څوک چې قتل وکړی هغۀ ته به ضرور په عدالت کښې سزا ورکولے شی. ٢٢ خو
زۀ تاسو ته دا وایم چې هر څوک چې یو ورور ته غصه هم وکړی، هغۀ ته به په عدالت
کښې ضرور سزا ورکړے شی. او کۀ هغه ورته کم عقل ووائی نو هغه به ضرور عدالت
ته جواب ورکوی، او کۀ چرې ورته لیونے ووائی نو هغۀ ته به د دوزخ د اور خطره وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ کۀ چرې تاسو د قربانۍ ځائ ته کوم څيز راوړئ او په دې وخت کښې درته رایاد
شی چې ستا ورور په څۀ خبره درنه خفه دے، ۲۴ نو خپله قربانی په هغه ځائ پرېږده.
لاړ شه، اول خپل ورور رضا کړه او بيا راشه او خپل نذر وړاندې کړه. ۲۵ کۀ د چا
سره ستا مقدمه وی نو زر ورسره روغه جوړه وکړه، کله چې ورسره عدالت ته په لاره
روان يې. هسې نه چې هغه دې قاضی ته پېش کړی او قاضی سپاهی ته، او تۀ قيد شې.
۲۶ زۀ تاسو ته دا وايم چې تاسو به تر هغې آزاد نۀ شئ ترڅو چې مو خپله جرمانه پېسه
پېسه ادا کړې نۀ وی. ۲۷ تاسو اورېدلی وُو چې هغوئ ته وئيلے شوی وُو چې، زنا مۀ
کوئ. ۲۸ خو زۀ تاسو ته دا وايم چې کۀ يو سړے يوې ښځې ته په بد نيت سره وګورى
نو هغۀ په خپل زړۀ کښې د هغې سره زنا کړې ده. ۲۹ کۀ چرې ستا ښۍ سترګه تا ګناه
ته ولمسوی نو وې باسه او وې وغورزوه. ستا دپاره به دا ښۀ وی چې د خپل وجود يو
اندام بائيلې، نه چې ستا ټول وجود دوزخ ته وغورزولے شی. ۳۰ او کۀ چرې ستا ښے
لاس د ګناه سبب شی نو پرې يې کړه او وې غورزوه. ستا دپاره دا بهتره ده چې د خپل
وجود يو اندام بائيلې، نۀ دا چې ستا ټول وجود دوزخ ته لاړ شی.

## د طلاق په حقله تعليم

۳۱ هغوئ ته وئيلے شوی وُو، کوم سړے چې خپله ښځه طلاقه کړی نو ضرور دې
هغې له طلاق نامه ورکړی. ۳۲ خو زۀ درته دا وايم چې کوم سړے چې د زناکارۍ د
جرم نه په بله څۀ وجه خپله ښځه طلاقه کړی نو په هغې باندې زنا کوی، او هر څوک
چې طلاقې شوې ښځې سره واده وکړی هغه زنا کوی. ۳۳ بيا به تاسو دا اورېدلی وی
چې زمونږ پلار نيکۀ ته وئيلے شوی وُو چې، خپل قسم مۀ ماتوئ خو خپل قسم د مالِک
خُدائ دپاره ضرور پوره کوئ. ۳۴ خو زۀ تاسو ته دا وايم چې هيڅکله هم قسم مۀ
خورئ، نۀ په آسمان، ځکه چې دا د خُدائ پاک تخت دے، ۳۵ او نۀ په زمکه ځکه چې
دا د هغۀ د پښو چوکۍ ده، او نۀ په يروشلم ځکه چې دا د لوئ بادشاه ښار دے، ۳۶ او
نۀ په خپل سر ځکه چې تۀ د دې يو وېښتۀ هم په خپله مرضۍ نۀ سپينولے او نۀ تورولے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي. ۳۷ تاسو يواځې د ”آو“ په ځائ ”آو،“ او د ”نه“ په ځائ ”نه“ جواب ورکوئ. د دې
نه زيات چې دے هغه د اِبليس کار دے.

## د بدل په حقله تعليم

۳۸ تاسو خبر يئ چې دا وئيلے شوی وُو چې، د سترګې په بدل کښې سترګه او د غاښ
په بدل کښې غاښ. ۳۹ خو زۀ تاسو ته دا وايم چې د هغه سړی خلاف مۀ ودرېږئ
څوک چې درسره بد کوی. کۀ څوک درله په ښی مخ څپېړه درکړی نو ګس مخ هم
ورواړوه. ۴۰ کۀ چرې يو سړے ستا په قميص دعویٰ وکړی نو تۀ خپل کوټ هم ورله
ورکړه. ۴۱ کۀ چرې يو اختيار لرونکے تا يو ميل په بيګار بوځی نو تۀ ورسره دوه ميله
لاړ شه. ۴۲ چې څوک درنه څۀ وغواړی هغه ورکړه او د داسې سړی نه مخ مۀ اړوه
څوک چې درنه قرض غواړی.

## د دشمن سره مينه کول

۴۳ تاسو خبر يئ چې وئيلے شوی وُو چې، د خپل ګاونډی سره مينه ساتئ او د خپل
دشمن نه کرکه. ۴۴ خو زۀ درته دا وايم چې د خپلو دشمنانو سره مينه کوئ، او څوک
چې تاسو زوروی د هغوئ دپاره دُعا کوئ، ۴۵ چې په دې تاسو د خپل آسمانی پلار
زامن شئ، څوک چې په بدو او په ښو يو شان نمر راخېژوی او په نېکو او بدو خلقو يو
شان باران ورَوی. ۴۶ کۀ تاسو صرف د هغوئ سره مينه کوئ څوک چې تاسو سره
مينه کوی نو بيا تاسو د کوم اجر اُميدوار يئ؟ ولې محصولچيان دغه شان نۀ کوی څۀ؟
۴۷ کۀ چرې تاسو يواځې په خپلو ورونو سلام اچوئ نو دا کومه نا آشنا خبره ده؟ دغه
څۀ خو بې‌دينه هم کوی. ۴۸ تاسو کامِل شئ لکه څنګه چې ستاسو آسمانی پلار کامِل
دے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خېرات په حقله تعليم

٦ ١ ”خبردار چې د خپلې پرهيزګارۍ ښودنه د خلقو په مخکښې ونۀ کړئ. کۀ تاسو
داسې وکړئ نو د آسمانى پلار سره ستاسو دپاره هيڅ اجر نشته. ٢ هرکله چې تاسو
څۀ خېرات کوئ نو په بيګل يې مۀ ډنډوره کوئ، لکه څنګه چې يې رياکاران په عبادتخانو
او کوڅو کښې کوى چې خلق يې صِفت وکړى. زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې هغوئ ته
اجر پوره مِلاو شوے دے. ٣ خو تاسو چې کله هم خېرات کوئ نو په داسې يې کوئ
چې ګس لاس مو په دې خبر نۀ شى چې ستاسو ښے لاس څۀ کوى. ٤ ستاسو
خېرات دې ضرور په پړده کښې وى نو ستاسو آسمانى پلار چې دا هر څۀ وينى چې
تاسو يې په پړده کښې کوئ، هغه به د دې بدل درکړى.

## د دُعا په حقله تعليم

٥ بيا دا چې تاسو کله هم دُعا کوئ نو د رياکارانو په شان مۀ جوړېږئ. هغوئ دا ډېر
خوښوى چې په عبادتخانو او چوکونو کښې د دُعا دپاره ودرېږى چې هر څوک يې
ووينى. زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې هغوئ ته خپل اجر پوره مِلاو شو. ٦ خو کله چې
تاسو دُعا کوئ نو خپلې کوټې ته ننوځئ، ور پورې کړئ او خپل پلار ته په زارو شئ،
څوک چې د پړدې په دغه ځائ کښې موجود دے. او ستاسو آسمانى پلار څوک چې پټ
رازونه وينى، هغه به بدل درکړى. ٧ او کله چې تاسو دُعا کوئ نو په دُعا کښې د
بېدينه قومونو په شان د بېمطلبه خبرو تکرار مۀ کوئ، د چا چې دا خيال وى چې د
ډېرو وئيلو په وجه به د هغوئ واورېدے شى. ٨ د هغوئ پېښې مۀ کوئ، ستاسو
آسمانى پلار ستاسو د غوښتو نه وړاندې ستاسو په حاجتونو خبر دے. ٩ نو داسې
دُعا کوئ، اے په آسمان کښې زمونږ پلاره، ستا نوم دې پاک وى. ١٠ ستا بادشاهى
دې راشى، ستا مرضى دې په زمکه هم پوره شى څنګه چې په آسمان کښې پوره کيږى.
١١ مونږ له خپل روزمره رزق راکړه، ١٢ او زمونږ ګناهونه معاف کړه، لکه څنګه چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ خپل قصوروار معاف کړُو. ۱۳ او مونږ په آزمېښت کښې مۀ اچوه، خو مونږ د
بدئ نه بچ کړه. ۱۴ ځکه کۀ تاسو د نورو نافرمانی معاف کړئ، نو ستاسو آسمانی پلار
به هم تاسو معاف کړی. ۱۵ خو کۀ تاسو نور نۀ معاف کوئ نو ستاسو آسمانی پلار به
هم ستاسو نافرمانی معاف نۀ کړی.

## د روژې په حقله تعليم

۱۶ هر کله چې تاسو روژه نيسئ نو د رياکارانو په شان ځانونه خفه مۀ ښکاره کوئ.
هغوئ خپل مخونه ځکه ورانوی چې خلق ووائی چې ګنې د دوئ روژه ده. زۀ تاسو ته
رښتيا وايم چې هغوئ ته خپل اجر پوره مِلاو شوے دے. ۱۷ خو هر کله چې روژه
نيسئ نو خپل سر غوړوئ او مخ وينځئ، ۱۸ د دې دپاره چې څوک دا ونۀ وائی چې
ګنې ستا روژه ده، خو تش ستا آسمانی پلار څوک چې په پړده کښې دے. او ستا
آسمانی پلار چې په رازونو خبر دے، هغه به تا له ستا اجر درکړی.

## د آسمان خزانې

۱۹ په زمکه ځان له خزانې مۀ جمع کوئ چرته چې هغه وينۀ وهی او زنګ کېږی او غلۀ
ورپسې کنډر کوی او پټوی يې. ۲۰ خو خپل ځان له خزانې په آسمان کښې جمع کوئ
چرته چې نۀ وينۀ شته او نۀ زنګ چې دا خرابې کړی، چرته چې نۀ غل کنډر کوی او نۀ
يې پټوی. ۲۱ ځکه چې چرته ستا خزانه وی هلته به ستا زړۀ هم وی.

## د وجود رڼا

۲۲ سترګې د بدن دپاره ډيوې دی. کۀ ستا سترګې روغې وی نو ستا ټول بدن به رڼا
وی. ۲۳ خو کۀ سترګې دې خرابې وی نو ستا ټول بدن به په توره تيارۀ کښې وی. او کۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چرې کومه رڼا چې په تا کښې ده، کهٔ هغه هم تیارهٔ ده نو بیا دا څومره لوئ تورتم دے.

## د خُدائ پاک مال

۲۴ يو غلام هم د دوو مالِکانو خِدمت نهٔ شی کولے. ځکه چې يا خو به هغه د يو نه
نفرت کوی او د بل سره مينه، او يا به هغه د يو وفادار وی او د بل نه به کرکه کوی.
تاسو د خُدائ پاک او د مال دولت دواړو يو ځائ خِدمت نهٔ شئ کولے. ۲۵ ځکه زهٔ
تاسو ته دا وايم چې د خپل ژوندون دپاره دا انديښنه مهٔ کوئ چې څهٔ به وخورو، څهٔ به
وڅښو، او يا څهٔ به اغوندو. ولې ژوندون د روټۍ، او بدن د جامو نه ډېر غوره نهٔ دے
څهٔ؟ ۲۶ د هوا مارغانو ته وګورئ، دوئ نهٔ خو کَرَی او نهٔ رېبی او نهٔ يې خمبو کښې
جمع کوی خو بيا هم ستاسو آسمانی پلار هغوئ له رزق ورکوی. نو بيا تاسو هغهٔ ته د
هغوئ نه ډېر اهم نهٔ يئ څهٔ؟ ۲۷ په تاسو کښې داسې څوک شته چې هغه په انديښنو
خپل ژوند يو ساعت قدرې زيات کړی؟ ۲۸ د جامو انديښنې بيا د څهٔ دپاره؟ په پټو
کښې ځنګلی ګلونو ته خو لږ خيال وکړئ، چې هغه څنګه راټوکيږی، نهٔ خو هغوئ
خواری کوی او نهٔ ځان دپاره جامې جوړوی. ۲۹ خو زهٔ تاسو ته دا وايم چې سليمان
چرې هم سره د خپل ټول شان او شوکت د دې ګلونو په شان ښائسته جامې اچولې نهٔ
وې. ۳۰ خو کهٔ چرې خُدائ پاک د پټو واښو له داسې جامې ورکوی، کوم چې نن شته
او سبا به په تنور کښې غورزولے شی، نو ولې هغه به بيا تاسو ته ښکلې جامې در نهٔ
کړی څهٔ؟ اے د کم ايمان خاوندانو. ۳۱ نو دا انديښنه مهٔ کوئ چې څهٔ به وخورو، څهٔ
به وڅښو يا څهٔ به واغوندو. ۳۲ په دې ټولو څيزونو پسې بې‌دينه زغلی، خو ستاسو
آسمانی پلار ستاسو د حاجتونو نه ښهٔ خبر دے. ۳۳ تاسو د هر څهٔ نه اول د خُدائ
پاک د بادشاهۍ او د هغهٔ د رښتينوالۍ لټون کوئ، نو بيا به هغه دا ټول څيزونه هم تاسو
ته درکړی. ۳۴ ځکه د سبا غم مهٔ کوئ، سبا به خپل غم په خپله کوی. د نن دپاره نننے
غم کافی دے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په نورو خلقو اِلزام لګول

۷ ۱ ”په نورو اِلزام مۀ لګوئ نو په تاسو به هم اِلزام ونۀ لګولے شی. ۲ ځکه چې
څنګه تاسو په نورو اِلزامونه لګوئ دغه شان به په تاسو هم اِلزامونه ولګولے شی، نو چې
څنګه تاسو د بل ناپ تول کوئ، دغه رنګ به ستاسو ناپ تول کولے شی. ۳ تاسو د
خپل ورور د سترګې خسنې ته ولې ګوته نیسئ خو په خپله سترګه کښې درته تیر نۀ
ښکاری؟ ۴ او تۀ څنګه خپل ورور ته دا وئیلے شې چې، راشه چې ستا د سترګې نه دا
خسنړے وباسم، خو حال دا چې په خپله سترګه کښې درته تیر نۀ ښکاری؟ ۵ اے
ریاکاره، اول د خپلې سترګې نه تیر وباسه، نو بیا به ستا سترګې وغړیږی چې د خپل
ورور د سترګې نه خسنړے وباسې. ۶ پاک څیزونه سپو له مۀ ورکوئ، خپلې ملغلرې
خنزیرانو ته مۀ غورزوئ. هغوئ به یې د پښو لاندې کړی او په تاسو به راوګرځی او
ریچې ریچې به مو کړی.

## غوښتل، لټول او ټکول

۷ وغواړئ نو تاسو له به درکړے شی، ولټوئ نو تاسو به یې ومومئ، ور وټکوئ نو
درته به کولاو کړے شی. ۸ ځکه هر څوک چې یې غواړی، هغۀ ته ملاویږی، او څوک
یې چې لټون کوی، هغه یې مومی، او څوک چې ور ټکوی، هغۀ ته کولاویږی. ۹ په
تاسو کښې داسې څوک شته چې زوئ ترې روټۍ وغواړی او هغه به ورله کاڼے ورکړی؟
۱۰ او یا دا چې ورنه کب وغواړی نو مار به ورکړی؟ ۱۱ نو کۀ بیا تاسو چې دومره
ګناهګاران یئ، په دې پوهیږئ چې خپل اولاد له ښۀ څیزونه ورکړئ، نو ستاسو آسمانی
پلار به څومره ښۀ څیزونه هغه چا له ورکړی چې څوک یې ترېنه غواړی. ۱۲ د نورو
سره تل داسې سلوک کوئ لکه څنګه سلوک چې تاسو د ځان دپاره خوښوئ، دا د
شریعت او د ټولو نبیانو د تعلیم مجموعه ده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## تنګه دروازه

١٣ په تنګه دروازه ورداخل شئ. ځکه چې د تباهئ دروازه کولاو ده، لاره يې ښهٔ پلنه ده
او ډېر په دغه لاره ځى. ١٤ خو کومه دروازه چې د ژوند په لورې ده هغه وړه ده او لاره
يې تنګه ده، او د دې پيدا کوونکى هم لږ دى.

## ونه په مېوه پېژندل

١٥ د دروغژنو نبيانو نه خبردار شئ، داسې کسان چې د ګډو په شکل کښې تاسو له
راځى او په اصل کښې هغه داړونکى شرمخان دى. ١٦ تاسو به هغوئ په خپله مېوه
وپېژنئ. ولې د ازغو جاړو بوټو نه ځوک انګور، يا د جاخو نه څوک اينځر راشوکولے
شى څهٔ؟ ١٧ هم دغه شان ښه ونه ښه مېوه نيسى او د بدې ونې مېوه بده وى. ١٨ ښه
ونه بده مېوه نهٔ شى نيولے او بده ونه ښه مېوه نهٔ شى نيولے. ١٩ او کومه ونه چې ښه
مېوه نهٔ نيسى هغه به پرې کړے شى او په اور کښې به وغورزولے شى. ٢٠ ځکه زهٔ
وايم چې تاسو به هغوئ په خپله مېوه وپېژنئ.

## ما ته چرې هم نهٔ وې پېژندلے

٢١ هر هغه څوک چې ما ته مالِک مالِک وائى هغه به د آسمان په بادشاهئ کښې
ورداخل نهٔ شى، خو صرف هغه کس چې زما د آسمانى پلار په رضا کار کوى. ٢٢ په
ورځ د قيامت به ډېر ما ته وائى چې مالِکه، مالِکه، مونږ ستا په نوم نبوت نهٔ وو کړے
څهٔ؟ او ستا په نوم مو پيريان نهٔ وُو شړلى څهٔ؟ او هم ستا په نوم مو ډيرې معجزې نهٔ وې
ښکاره کړې څهٔ؟ ٢٣ نو زهٔ به هغوئ ته په ښکاره ووايم چې ما تاسو چرې هم نهٔ يئ
پېژندلى، تاسو بې‌شرعې خلق زما نه ورک شئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دوه قسمه بنیادونه

٢٤ هر هغه څوک چې زما دا خبرې اورى او عمل پرې کوى، هغه به د هغه هوښيار
کس په شان وګڼلے شى چا چې خپل کور د يو سخت ګټ دپاسه آباد کړے وى. ٢٥
او چې باران وشو، سېلاب راغلو، زل زول او طوفان تير شو او د دۀ کور سره يې ډغرې
وخوړې، خو دا راپرې نۀ وتو ځکه چې بنيادونه يې د يو سخت ګټ دپاسه وُو. ٢٦ خو د
هغه چا به بيا څۀ اَنجام وى چې زما دا خبرې اورى او عمل پرې نۀ کوى؟ د هغۀ مِثال د
هغه ناپوهه کس دے چا چې په شګو خپل کور جوړ کړے وو. ٢٧ باران ووريدو،
سېلاب راغلو، زول او طوفان تېر شو او د دغه کور سره يې ډغرې وخوړې او راوې
غورزولو او بلکل يې تباه کړو.“ ٢٨ څۀ وخت چې عيسىٰ دا خبرې بس کړې نو خلق د
هغۀ په تعليم حق حيران شول، ٢٩ ځکه چې هغۀ د هغوئ د شرعې عالمانو په شان نه،
خو په پوره اختيار سره يې تعليم ورکولو.

## د يو جذامى روغول

٨ ١ څۀ وخت چې عيسىٰ د غرۀ نه راکوز شو نو ګڼ خلق ورپسې شُو. ٢ خو بيا
يو جذامى وروړاندې شو او په سجده ورته پرېوتو او وې وئيل، ”مالِکه، کۀ تۀ صرف
وغواړې نو ما روغولے شې.“ ٣ عيسىٰ خپل لاس وراوږد کړو او په هغۀ يې کېښودو
او وې فرمائيل چې، ”آو، زۀ غواړم چې داسې وکړم.“ بيا يې وفرمائيل چې، ”پاک شه.“
او په هغه ساعت د جذام نه روغ جوړ شو. ٤ بيا عيسىٰ هغۀ ته وفرمائيل، ”ګوره چې
هيچا ته د دې په حقله څۀ ونۀ وائې. خو لاړ شه او خپل ځان اِمام ته وښايه او کومه
شکرانه چې موسىٰ مقرره کړې ده، هغه ورکړه. دا به ستا د روغولو ګواهى شى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د رومي صوبه دار نوکر شفا مومندل

۵ او کله چې عيسىٰ کفرنحُوم ښار ته ورددننه شو نو يو رومي صوبه دار ورغلو او هغۀ
ته يې مِنت وکړو او وئيل يې چې، ۶ "مالِکه، زما يو نوکر په کور کښې شل ګوډ پروت
دے او ډېر په تکليف کښې دے." ۷ عيسىٰ ورته وفرمائيل، "زۀ به درشم او روغ به يې
کړم." ۸ خو صوبه دار جواب ورکړو چې، "مالِکه، زۀ د دې جوګه نۀ يم چې تۀ زما
کور ته راشې. خو کۀ تاسو صرف حکم وکړئ نو زما نوکر به جوړ شى. ۹ ځکه چې
زۀ پوهېږم چې زۀ په خپله د بل د حکم لاندې يم او سپاهيان زما د حکم لاندې دى. زۀ
چې يو ته ووايم چې لاړ شه نو هغه لاړ شى، او چې بل ته ووايم چې دېخوا راشه، نو هغه
راشى او چې خپل غلام ته ووايم چې داسې وکړه نو هغه يې هغه شان کوى." ۱۰ عيسىٰ
په حيرانتيا د هغۀ خبرې واورېدې نو هغه ګنې ته يې وفرمائيل چې، "زۀ تاسو ته رښتيا
وايم چې ما داسې ايمان په بنى اِسرائيلو کښې چرته هم نۀ دے ليدلے. ۱۱ زۀ تاسو ته
دا وايم چې د نمرخاتۀ او د نمرپرېواتۀ نه به ډېر خلق داسې راشى چې د اِبراهيم، اِسحاق
او يعقوب سره به د آسمان د بادشاهۍ په مېلمستيا کښې يو ځائ کښېنى، ۱۲ خو د
بادشاهت وارثان به بهر تيارې ته وغورزولے شى کوم ځائ چې به ژړا وير او د غاښونو
چيچل وى." ۱۳ بيا عيسىٰ صوبه دار ته وفرمائيل چې، "اوس خپل کور ته لاړ شه، نو
ستا د ايمان په وجه دې داسې وشى." نو هم په هغه ساعت د هغۀ نوکر روغ شو.

## د ډېرو خلقو روغول

۱۴ عيسىٰ بيا د پطروس کور ته لاړو او وې ليدل چې د پطروس خواښې تبې نيولې وه.
۱۵ نو د هغې لاس ته يې لاس ورووړو نو د هغې نه تبه لاړه. هغه پاڅېده او د هغۀ په
خِدمت کولو شروع شوه. ۱۶ کله چې ماښام شو نو خلقو عيسىٰ له ډېر داسې کسان
راوستل چې پيريانو نيولى وُو او هغۀ د هغوئ نه په يو حکم پيريان وشړل او ټول بيماران
يې روغ کړل، ۱۷ چې دغه شان د يشعياه نبى په وسيله وئيلے شوې هغه پېشګوئي پوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی چې، ”هغۀ زمونږ بیمارۍ او کمزورۍ اوچتې کړې.“

## د حضرت عیسیٰ مسیح د مریدۍ قیمت

۱۸ عیسیٰ چې د ځان نه چاپېره ګڼه ولیده نو حکم یې وکړو چې راځئ چې د دریاب
پورې غاړې ته لاړ شُو. ۱۹ یو د شرعې عالِم ورغلو او وې وئیل چې، ”اُستاذه، هر چرته
چې ته ځې، زۀ به هم درپسې ځم.“ ۲۰ عیسیٰ ورته وفرمائیل چې، ”د لومبړو خپل
غارونه وی او د مارغانو جالې، خو اِبن آدم دومره ځائ قدرې هم نۀ لری چې سر پرې
ولګوی.“ ۲۱ یو بل مرید ورته ووئیل، ”مالِکه، اول ما ته اجازت راکړه چې خپل پلار
ښخ کړم.“ ۲۲ عیسیٰ ورته وفرمائیل چې، ”ته ما پسې راځه، مړی پرېږدۀ چې مړی
ښخوی.“

## د حضرت عیسیٰ په دریاب کښې طوفان آرامول

۲۳ بیا عیسیٰ په کشتۍ کښې سور شو او مریدان هم ورسره سوارۀ شُو. ۲۴ خو په
دریاب کښې یو زورَور طوفان راغلو او چپې داسې اوچتېدې چې په کشتۍ راواوړېدې.
خو هغه اودۀ وو. ۲۵ نو هغوئ ورغلل او هغه یې رابېدار کړو چې، ”مالِکه، مونږ بچ
کړه. مونږ ډوبیږو.“ ۲۶ هغۀ ورته وفرمائیل چې، ”تاسو ولې دومره یرېږئ، ستاسو
ایمان څومره کمزورے دے؟“ بیا هغه ودرېدو، طوفان او د اوبو چپې یې ورټلې نو په
هغه ساعت قلاره قلارې شوه. ۲۷ مریدان په دې ننداره ډېر حیران شول او دوئ ووئیل
چې، ”دا لا څۀ قِسم سړے دے چې هوا او چپې یې هم حکم منی؟“

## د دوو پیریانو نیولو سړو روغول

۲۸ عیسیٰ چې د ګدریانو علاقې ته پورې وتو نو د قبرستان نه دوه سړی راووتل چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیریانو نیولی وُو او دومره خطرناک وُو چې څوک هم په هغه لاره تېرېدلے نۀ شُو.
۲۹ هغوئ چغې کړې، "اے د خُدائ پاک زویه. تۀ زمونږ نه څۀ غواړې؟ تۀ دلته د دې
دپاره راغلے یې چې مونږ د قیامت نه وړاندې په عذاب کړې څۀ؟" ۳۰ نو لږ لرې د
خنزیرانو یوه لویه رمه څرېدله. ۳۱ او پیریانو زارى ورته وکړه، "کۀ چرې تۀ مونږ شړل
غواړې نو مونږ د خنزیرانو دغې رمې ته ولېږه." ۳۲ هغۀ ورته وفرمائيل چې، "لاړ شئ."
نو هغوئ راووتل او په خنزیرانو کښې ورننوتل او د خنزیرانو ټوله رمه په منډه شوه او د
کمر نه ښکته درياب ته پرېوته او په اوبو کښې ډوبه شوه. ۳۳ د خنزیرانو ساتونکی
نزدې ښار ته وتښتېدل او هر چا ته یې هغه ټوله قیصه بیانوله، څۀ چې په پیریانو نیولی
سړو تیر شوی وُو. ۳۴ بیا د کلی ټول خلق بهر راووتل چې عیسىٰ ووینی، او کله چې
هغوئ ولیدو نو ورته یې مِنت زارى وکړه چې د دې علاقې نه لاړ شه.

## د یو شل سړی روغول

۹ ۱ نو عیسىٰ په کشتۍ کښې کښېناستو او د سیند بلې غاړې ته خپل ښار ته راغلو
۲ نو ورله څۀ کسانو یو شل سړے په کټ کښې پروت راوړو. د هغوئ ایمان یې چې
ولیدو نو عیسىٰ هغه شل سړی ته وفرمائيل چې، "زما زویه، خاطر جمع کړه، ستا
ګناهونه معاف شول." ۳ په دې ځینې د شرعې عالمانو د ځان سره ووئیل چې، "دا یې
لا څۀ کُفر ووئیلو." ۴ عیسىٰ په دې پوهه وو چې د دوئ په زړۀ کښې څۀ تیر شول نو
ورته یې وفرمائيل چې، "تاسو داسې بد خیالونه ولې کوئ؟ ۵ آیا دا آسانه خبره ده چې
ووائې چې ګناهونه دې معاف شُو او کۀ دا چې ووائې چې پاڅه او وګرځه؟ ۶ نو دا
ځکه چې تاسو په دې پوهه شئ چې اِبن آدم سره په دُنیا کښې د ګناهونو د بخښلو اختیار
هم شته." نو هغه شل سړی ته یې وفرمائيل چې، "پاڅه، بستره دې واخله او کور ته ځه،"
۷ او هغه پاڅېدو او کور ته لاړو. ۸ خلق په دې ننداره هیبت واخستل او بنی آدم ته
په داسې اختیار ورکولو یې د خُدائ پاک ثنا ووئیله.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## متی ته دعوت ورکول

۹ څنګه چې عیسیٰ له دې ځایه لاړو نو هغۀ متی نومې سړے د محصُول په کُرسۍ
ناست ولیدو او هغۀ ته یې وفرمائیل چې، "ما پسې راځه." متی پاڅېدو او په هغۀ پسې
روان شو. ۱۰ څۀ وخت چې عیسیٰ د متی په کور کښې د خپلو مریدانو سره روټۍ ته
ناست وو نو ډېر محصولچیان او بدکاران راغلۀ او د دوئ سره په دسترخوان
کښېناستل. ۱۱ او چې کله فریسیانو دا ولیدل نو د هغۀ مریدانو ته یې وفرمائیل چې، "دا
ستاسو اُستاذ د محصولچیانو او ګناهګارو سره ولې یو ځائ روټۍ ته ناست دے؟" ۱۲
عیسیٰ چې دا واورېدل نو وې فرمائیل چې، "روغو خلقو ته د طبیب حاجت نۀ وی خو
بیمارانو ته یې وی. ۱۳ لاړ شئ او د دې صحیفو په معنیٰ ځان پوهه کړئ چې، "زۀ رحم
غواړم، نه چې قربانی." زۀ د دې دپاره نۀ یم راغلے چې صادقانو ته دعوت ورکړم بلکې
ګناهګارانو ته."

## د روژې په حقله تپوس

۱۴ خو بیا د یحییٰ مریدان عیسیٰ له راغلل او دا تپوس یې ترې وکړو چې، "څۀ وجه ده
چې مونږ او فریسیان خو روژې نیسو خو ستا مریدان یې نۀ نیسی؟" ۱۵ عیسیٰ جواب
ورکړو چې، "تاسو چرته جنجیان د وادۀ د زلمی سره په ژړا ناست لیدلی دی څۀ؟ خو یو
وخت به راشی چې د وادۀ زلمے به د دوئ نه جدا کړے شی او بیا به هغه وخت دوئ
روژه نیسی. ۱۶ هیڅ څوک هم نوے پیوند په زړه چُوغه نۀ لګوی ځکه چې دا پیوند به
چُوغه نوره هم شلوی او نور لوئ سورے به په کښې جوړ شی. ۱۷ کله هم څوک نوی
مے په زړو مشکونو کښې نۀ اچوی، ځکه چې مشکونه به وشلیږی او مے به یې توئ
شی او مشکونه به تباه شی، خو نوی مے په نوؤ مشکونو کښې اچولے شی، او دغه شان
به دواړه بچ شی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ښځې او جینۍ په ایمان سره روغول

۱۸ عیسیٰ لا دا خبرې کولې چې هغۀ ته د عبادتخانې یو مشر راغلو او په سجده ورته
پرېوتو او وې وئیل چې، ”په دې ساعت مې لور مړه شوه، خو تۀ ما سره لاړ شه او خپل
لاس پرې کېږده نو هغه به ژوندۍ شی.“ ۱۹ عیسیٰ پاڅېدو، او هغۀ سره روان شو او
مريدان هم ورسره لاړل. ۲۰ نو سمدستی یوه ښځه چې د دولسو کالو راسې یې وینه
بهېدله، د شا د طرفه راغله او د هغۀ د چُوغې لمن له یې لاس وروړو ۲۱ ځکه چې د
هغې دا باور وو چې، ”کۀ زۀ صرف د هغۀ جامو له لاس هم ورووړم، نو جوړه به شم.“
۲۲ خو عیسیٰ مخ ورواړولو او هغه یې ولیده او ورته یې وفرمائیل، ”ډاډه اوسه، زما
لورې، ستا ایمان تۀ روغه کړې.“ او په هم هغه ساعت هغه روغه شوه. ۲۳ کله چې
عیسیٰ د مشر کور ته راغلو نو هغۀ د شپېلۍ غږوونکو او ډېرو خلقو د ژړا انګولا او د
جنازې د ساز ډله ولیدله، ۲۴ خو هغۀ وفرمائیل چې، ”اخوا شئ، جینۍ مړه نۀ ده، هغه
خو اوده ده.“ خو هغوئ ورپورې وخندل. ۲۵ څۀ وخت چې ګڼه ګوڼه بهر کړے شوه
نو هغه ورننوتو او جینۍ یې د لاسه ونیوله، نو هغه راپاڅېده. ۲۶ دا خبره په ټوله علاقه
کښې خوره شوه.

## د دوو ړندو سړو روغول

۲۷ کله چې عیسیٰ وړاندې لاړو نو دوه ړانده ورپسې شول او دا چغې یې وهلې، ”اے د
داؤد زویه، په مونږ رحم وکړه.“ ۲۸ کله چې هغه کور ته دننه شو نو هغه ړانده سړی
ورله راغلل او عیسیٰ ترې تپوس وکړو چې، ”ولې تاسو په دې یقین لرئ چې، زۀ هغه کار
کولے شم څۀ چې تاسو غواړئ؟“ هغوئ ووئیل چې، ”آو، مالِکه.“ ۲۹ بیا هغۀ د هغوئ
سترګو له لاس ورووړو او وې فرمائیل چې، ”څنګه چې ستاسو ایمان دے، نو هم دغسې
دې وشی.“ ۳۰ نو د هغوئ سترګې بینا شوې. عیسیٰ په سختو هغوئ ته وفرمائیل،
”ګورئ چې څوک درنه په دې کار خبر نۀ شی.“ ۳۱ خو هغوئ چې بهر ووتل نو په ټوله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

علاقه کښې يې د هغۀ په حقله دا خبره خوره کړه.

## د يو چاړا سړی روغول

۳۲ هغوئ په وتو کښې وُو چې څۀ کسانو يو سړے عيسىٰ له راوستو چې په ژبه چاړا
وو او خبرې يې نۀ شوې کولے ځکه چې هغه پيريانو نيولے وو. ۳۳ او کله چې پيرے
يې ترې وشړلو، نو د هغۀ ژبه ګويا شوه. ټول خلق حق حيران شول او وې وئيل چې، ”په
بنى اِسرائيلو کښې هيڅکله هم داسې نۀ دى شوى.“ ۳۴ خو فريسيانو ووئيل چې، ”د
پيريانو د سردار په مدد دے پيريان شړى.“

## په خلقو د عيسىٰ مسيح زړۀ وسوزيدلو

۳۵ دغه شان عيسىٰ په ټولو کلو او ښارونو کښې ګرځېدو او د هغوئ په عبادتخانو کښې
يې تعليم ورکولو او د بادشاهئ زيرے يې ورکولو او هره بيمارى او هره کمزورتيا يې
روغوله. ۳۶ کله چې هغۀ د خلقو ګڼه وليده نو په هغوئ يې زړۀ وسوزيدلو. هغوئ لکه د
هغه ګډو په شان پريشانه او بېوسه وُو چې شپون ورسره نۀ وى. ۳۷ بيا هغۀ خپلو
مريدانو ته وفرمائيل چې، ”فصل ډېر دے خو مزدوران لږ دى. ۳۸ د دې دپاره تاسو د
فصل مالِک ته خواست وکړئ چې هغه د فصل ريبلو دپاره مزدوران راوليږى.“

## د حضرت عيسىٰ دولس مريدان

۱۰ ۱ بيا عيسىٰ خپل دولس مريدان راوغوښتل او هغوئ له يې د پيريانو شړلو او د
هر قِسم بيماريانو او مرضونو شفا اختيار ورکړو. ۲ د هغه دولسو مريدانو نومونه دا
دى، اول شمعون چې پطروس ورته وائى او د هغۀ ورور اندرياس، د زبدى زوئ يعقوب
او د هغۀ ورور يوحنا، ۳ فيليپوس او برتلماى، توما او متى محصولچى، د حلفى زوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یعقوب او تدی، ۴ شمعون ننګیالے او یهوداه اِسکریوتی، یعنې هغه سړے چې په
عیسیٰ یې جاسوسی وکړه.

## رسولانو ته هدایت

۵ عیسیٰ دا دولس کسان د دې هدایاتو سره ولیږل چې، ”د غیر یهودی قومونو په
طرف مۀ ځئ او د سامریانو ښار ته مۀ ننوځئ، ۶ خو د هغې په ځائ د بنی اِسرائیلو د
خاندان ورکو شوو ګډو له لاړ شئ. ۷ او په تلو تلو کښې دا پېغام ورکوئ چې د
آسمان بادشاهی رانزدې شوې ده. ۸ بیماران جوړَوئ، مړی ژوندی کوئ، جذامیان
پاکوئ او پیریان شړئ. تاسو ته دا اختیار مفت درکړے شو او مفت یې ورکوئ. ۹
سرۀ زر یا سپین زر یا تانبه په خپلې تیلۍ کښې مۀ اخلئ. ۱۰ د ځان سره نۀ د سفر
تیلۍ، نۀ دویم قمیص، نۀ اضافی پېزار او مۀ امسا اخلئ، ځکه چې مزدور د خپلې
مزدورۍ حقدار دے. ۱۱ کوم ښار یا کلی ته چې تاسو ننوځئ نو د داسې یو عزتمند
سړی کور ته ورځئ چې د ورتلو قابل وی، او هلته پاتې شئ تر هغې چې د هغه ځایه بل
ځائ ته رُخصت شئ. ۱۲ کوم کور ته چې تاسو ننوځئ، د هغوئ سلامتی غواړئ. ۱۳
کۀ هغه د دې لائق وی نو ستاسو سلامتی به وروړسیږی، او کۀ لائق نۀ وی نو ستاسو
سلامتی به واپس تاسو ته راوګرځی. ۱۴ خو کۀ چرې څوک تاسو قبول نۀ کړی او غوږ
درته ونۀ نیسی نو چې کله تاسو هغه کور یا ښار پرېږدئ نو د خپلو پښو نه دوړې
وڅنډئ. ۱۵ زۀ تاسو ته رښتیا وایم چې په ورځ د قیامت به د سدوم او د عموره د خلقو
حال د دې ښار د خلقو د حال نه ښۀ وی.

## د راتلونکی عذاب په حقله

۱۶ ګورئ، زۀ تاسو لکه د ګډو په شان د شرمخانو مینځ ته لېږم. د مارانو په شان
هوښیار او د کونترو په شان بېآزاره اوسئ. ۱۷ خبردار اوسئ چې دوئ به تاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عدالتونو ته حواله کوی او په خپلو عبادتخانو کښې به مو په کوړو وهی، ۱۸ او زما د
خاطره به تاسو حاکمانو او بادشاهانو ته وړاندې کوی چې د هغوئ او غېریهودیانو دپاره
ګواهان شئ. ۱۹ خو هر کله چې تاسو ونیولے شئ نو د دې سوچ مۀ کوئ چې تاسو به
څۀ او څنګه ووایئ. چې وخت راشی نو هغه خبرې به په خپله ستاسو خولې ته راشی
چې تاسو ته یې ضرورت وی. ۲۰ ځکه کومې خبرې چې تاسو کوئ دغه به تاسو په
خپله نۀ کوئ، خو ستاسو په ذریعه به ستاسو د آسمانی پلار روح خبرې کوی. ۲۱
وروړ به د وروړ د مرګ جاسوس شی او پلار به د زوئ، او اولاد به د مور پلار خلاف
شی او مرګ ته به یې حواله کوی. ۲۲ ټول به زما د نوم په سبب تاسو سره کینه کوی
خو هغه څوک چې تر آخره قائم پاتې شی هغه به بچ شی. ۲۳ کله چې تاسو په یو ښار
کښې وزورولے شئ نو بل ته لاړ شئ. زۀ درته رښتیا وایم چې د دې نه وړاندې چې تاسو
د بنی اِسرائیلو په ټولو ښارونو کښې وګرځئ نو اِبن آدم به واپس راشی. ۲۴ شاګرد د
خپل اُستاذ نه لوئ نۀ وی او نۀ نوکر د خپل مالِک نه. ۲۵ د شاګرد دپاره دا کافی ده
چې د اُستاذ په شان شی او نوکر د خپل مالِک په شان. کۀ د یو کور مالِک ته بعلزبول
وئیلے شی نو د هغۀ د کور کسان به د دې نه هم په خراب نوم یاد کړے شی.

## د چا نه یرېدل په کار دی

۲۶ نو د هغوئ نه یره مۀ کوئ ځکه چې داسې پټ خیز نشته چې ښکاره به نۀ شی، او
نۀ داسې پټ راز شته چې هغه به ښکاره نۀ شی. ۲۷ څۀ چې زۀ تاسو ته په تیارۀ کښې
وایم نو تاسو یې په رڼا کښې وایئ. څۀ چې تاسو ته په غوږ کښې ووئیلے شی هغه تاسو د
چت دپاسه په چغو وایئ. ۲۸ د هغه چا نه مۀ یرېږئ څوک چې وجود وژنی خو روح نۀ
شی وژلے، خو د هغه چا نه یرېږئ څوک چې روح او بدن دواړه په دوزخ کښې
بربادولے شی. ۲۹ ولې دوه چڼچڼې په یوه پېسه نۀ خرخیږی څۀ؟ خو بیا هم ستاسو د
پلار د رضا نه بغیر یوه هم په زمکه نۀ راپرېوځی. ۳۰ خو دا چې ستاسو د سر ټول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وېښتهٔ هم شمېرلے شوى دى. ۳۱ نو بيا مهٔ يرېږئ، تاسو د بےشمېره چنچڼو نه زيات
قيمتى يئ.

## د خلقو په وړاندې د مسيح اِقرار کول

۳۲ هر څوک چې د خلقو په وړاندې زما اِقرار وکړى، زهٔ به په آسمان کښې د خپل پلار
په وړاندې د هغهٔ اِقرار وکړم. ۳۳ خو هر څوک چې د خلقو په وړاندې زما نه اِنکار
وکړى، زهٔ به په آسمان کښې د خپل پلار په وړاندې د هغهٔ نه اِنکار وکړم.

## امن نه خو جنګ

۳۴ تاسو دا خيال مهٔ کوئ چې زهٔ ګنې دُنيا ته د امن راوستو دپاره راغلے يم. نه، زهٔ د
امن راوستو دپاره نه، خو د جنګ دپاره راغلے يم. ۳۵ زهٔ دې له راغلے يم چې سړے
د خپل پلار خلاف شى، لور د مور، او اِنږور د خواښې. ۳۶ او د سړى دشمنان به د هغهٔ
د کور خلق وى. ۳۷ داسې کس زما قابل نهٔ دے چې د خپل مور پلار سره زما نه زياته
مينه کوى او هغه څوک هم چې زما نه زياته مينه د خپل زوئ يا لور سره کوى. ۳۸
داسې خلق زما جوګه نهٔ دى څوک چې خپله سولئ نهٔ پورته کوى او زما په نقش قدم نهٔ
ځى. ۳۹ څوک چې خپل ځان ساتل غواړى هغه به يې بائيلى، خو څوک چې زما د
خاطره خپل ژوند بائيلى، هغه به يې حاصل کړى.

## اجر

۴۰ څوک چې تاسو قبلوى هغه ما قبلوى او څوک چې ما قبلوى نو هغه هغه څوک
قبلوى چې زهٔ يې رالېږلے يم. ۴۱ هر هغه څوک چې يو نبى د نبى په نوم قبلوى هغهٔ ته
به د نبى اجر ملاوېږى، او هر هغه څوک چې يو صادق د صادق په نوم قبلوى، هغهٔ ته به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د صادق اجر ملاویږی. ۴۲ هر هغه څوک کۀ یو جام یخې اوبۀ دې ورکوتی له په دې
وجه ورکړی چې هغه زما مرید دے، نو زۀ درته دا وایم چې هغه کس به بېاجره پاتې نۀ
شی.“

## د حضرت یحییٰ بپتسمه ورکوونکی پیغام وړُونکی حضرت عیسیٰ له لیږل

۱۱ ۱ کله چې عیسیٰ خپلو دولسو مریدانو ته هدایت ورکول ختم کړل نو بیا هغه د
هغه ځائ نه روان شو چې د هغوئ په ښارونو کښې تعلیم ورکړی او بیان وکړی. ۲
کله چې یحییٰ بپتسمه ورکوونکے په قیدخانه کښې د مسیح د کارونو نه خبر شو، نو
خپل یو څو مریدان یې ورولیږل چې د عیسیٰ نه دا تپوس وکړی چې، ۳ ”ولې هغه
راتلونکے تۀ یې څۀ؟ او یا کۀ نه، مونږ د بل چا اِنتظار وکړو؟“ ۴ عیسیٰ ورله جواب
ورکړو، ”لاړ شئ، څۀ چې تاسو اورئ او ګورئ، هغه یحییٰ ته ووایئ ۵ چې ړاندۀ بینا
کیږی، شل ګرځی، جذامیان پاکیږی، کاڼۀ اوری او مړی بیا ژوندی کیږی او غریبانان
ښۀ زیرے اوری. ۶ او بختور دی هغه څوک چې ما نۀ ازاروی.“ ۷ څۀ وخت چې د
یحییٰ مریدان واپس رُخصت شول نو عیسیٰ خلقو ته د یحییٰ په حقله دا وفرمائیل، ”تاسو
د څۀ لیدلو دپاره بیابان ته تلی وئ؟ یوه لوخه چې باد خوځوله څۀ؟ ۸ نو بیا تاسو د
څۀ لیدو له وتلی وئ؟ یو کس چې ښکلې او نرمې جامې یې اچولې وې؟ ګورئ، هغه
څوک چې نرمې جامې اچوی هغه په محلونو کښې اوسیږی. ۹ نو بیا تاسو بهر د څۀ
لیدو له وتلی وئ؟ د یو نبی لیدلو ته؟ آو، رښتیا چې د یو نبی نه هم څۀ ډېر لوئ. ۱۰ دا
هغه څوک دے چې د چا په حقله چې لیکلے شوی دی چې، ”ګوره، زۀ خپل پیغمبر ستا
نه وړاندې لیږم چې ستا مخې ته لاره تیاره کړی.“ ۱۱ زۀ تاسو ته رښتیا وایم د زمکې په
مخ بل څوک د یحییٰ بپتسمه ورکونکی نه لوئ نشته خو بیا هم د خُدائ پاک په بادشاهۍ
کښې د ټولو نه کمزورے کس د هغۀ نه لوئ دے. ۱۲ د بپتسمه ورکونکی یحییٰ د راتلو
د ورځو نه پس لا تر اوسه د آسمان په بادشاهۍ زور کولے شی او زورَور یې په زور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رانیسی. ۱۳ ځکه چې د یحییٰ د راتلو نه وړاندې ټولو نبیانو او د موسیٰ شریعت د دې
وخت انتظار کړے وو. ۱۴ نو کهٔ تاسو غواړئ چې هغه ومنئ نو هغه په خپله الیاس
دے څوک چې راتلونکے دے. ۱۵ څوک چې غوږونه لری نو هغه دې واوری. ۱۶ زهٔ
د دې پیړۍ مِثال څنګه درکړم؟ دوئ لکه په بازار کښې د ناستو ماشومانو په شان دی
چې یو بل ته نعرې وهی چې، ۱۷ ”مونږ درته شپیلۍ وغږوله او تاسو ګډا نهٔ شوئ، مونږ
درته ځان ووهلو او ویر مو وکړو خو تاسو ونهٔ ژړل.“ ۱۸ ځکه کله چې یحییٰ روژه په
خولهٔ راغلو نو هغوئ وئیل چې هغه پیری نیولے دے. ۱۹ اِبن آدم په خوړلو څښلو ورته
راغلو او دوئ وائی چې دهٔ ته ګورئ، یو ګېډور او شرابی، د محصولچیانو او بدکارانو
ملګرے. خو بیا هم خلقو ته حکمت په خپلو کارونو کولو صادق ثابت شو.“

## په بې‌ایمانه ښارونو افسوس

۲۰ نو بیا عیسیٰ په توبه نهٔ کولو د هغه ښارونو خلق ملامته کړل چرته چې هغهٔ ډیرې
معجزې سر ته رسولې وې. ۲۱ هغهٔ وفرمائیل چې، ”افسوس اے خورازینه، په تا
افسوس بیتِ‌صیدا، ځکه کومې معجزې چې په تا کښې وشوې کهٔ چرې دا په صور او
صیدا کښې شوې وې نو دوئ به ډېر پخوا د ځانه ټاټ تاو کړے وو او په ایرو کښې به
یې توبه ویستې وه. ۲۲ خو زهٔ تاسو ته دا وایم چې د قیامت په ورځ به د صور او صیدا
حال ستاسو د حال نه ښهٔ وی. ۲۳ او اے کفرنحُومه، ولې تهٔ دا ګڼې چې ستا مقام به
تر آسمانه پورته کړے شی څهٔ؟ نه، تهٔ به تاترین ته وغورزولے شې. ځکه چې کومې
معجزې چې په تا کښې ښکاره کړے شوې، کهٔ په سدوم کښې شوې وے نو سدوم به تر
ننه آباد وو. ۲۴ خو زهٔ تاسو ته دا وایم چې د قیامت په ورځ به د سدوم د خلقو حال
ستاسو د حال نه ښهٔ وی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د آرام دپاره ما ته راشئ

۲۵ په هغه وخت عيسىٰ داسې وفرمائيل چې، ”اے پلاره، د آسمان او د زمکې مالِکه، زۀ
ستا ثنا او صِفت کوم چې تا دا خبرې د پوهانو او هوښيارو نه پټې کړې او وړو
ماشومانو ته دې ښکاره کړې. ۲۶ آو، پلاره، دا ستا رضا وه. ۲۷ هر څۀ ما ته زما
پلار سپارلی دی، او هيڅوک بې د پلاره زوئ نۀ پېژنی، او نۀ څوک پلار پېژنی بې له زويه
او بې له هغوئ نه چې زوئ يې ورته په ګوته کوی. ۲۸ اے تاسو ټول چې خواری کوئ
او پنډ مو درونډ دے، ما له راشئ او زۀ به آرام درکړم. ۲۹ زما جغ په غاړه کړئ او زما
نه زده کړئ، ځکه چې زۀ په زړۀ نرم او په روح کښې عاجز يم، او تاسو به په زړۀ کښې
آرام حاصل کړئ. ۳۰ ځکه چې زما جغ په وړلو کښې پوست دے او زما پنډ سپک
دے.“

## د سبت په ورځ وَږی شوکول

۱۲ ۱ په هغه وخت عيسىٰ د سبت يعنې د خالی په ورځ د فصل په يو پټی تېرېدو نو
د هغۀ مريدانو د لوږې نه د وږو په ماتولو شروع وکړه او په خوړلو يې لګيا شول. ۲
خو کله چې فريسيانو دا وليدل نو هغۀ ته يې ووئيل چې، ”ګوره، ستا مريدان داسې کار
کوی چې د سبت په ورځ ناروا دے.“ ۳ هغۀ ورله جواب ورکړو چې، ”تاسو دا نۀ دی
لوستلی کله چې داؤد او د هغۀ دوستان اوږی شوی وُو نو هغوئ څۀ کړی وُو؟ ۴ هغه
د خُدائ کور ته ننوتو او پېش کړے شوې روټۍ يې وخوړه، اګر چې هغه په دۀ او د دۀ په
ملګرو ناروا وه او صرف اِمامانو ته روا وه. ۵ او تاسو په شريعت کښې دا نۀ دی
وئيلی چې د خُدائ په کور کښې اِمامانو د سبت ورځ ماته کړه او هغوئ پرې ګناه ګار نۀ
شُو. ۶ زۀ تاسو ته وايم چې دلته د خُدائ د کور نه څۀ نور هم لوئ څيز موجود دے.
۷ کۀ چرې تاسو د دې په مطلب پوهه وئ چې، ”زۀ رحم خوښوم، قربانی نه،“ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو به بېګناه خلق ګناه ګار کړی نۀ وُو. ۸ ځکه چې اِبن آدم د سبت د ورځې مالِک
دے.“

## يو سړے چې لاس يې شل وو

۹ بيا عيسیٰ هغه ځائ پرېښودلو او د هغوئ عبادتخانې ته ورننوتو. ۱۰ هلته يې يو
سړے وليدو چې لاس يې اوچ شوے وو او هغه خلقو د عيسیٰ نه تپوس وکړو چې، ”ولې
د سبت په ورځ روغول روا دی څۀ؟“ ځکه چې هغوئ په دۀ د اِلزام لګولو بهانه لټوله.
۱۱ خو هغۀ ورته وفرمائيل چې، ”فرض کړئ چې تاسو يوه ګډه لرئ او هغه د سبت په
ورځ کندې ته وغورزېږی، په تاسو کښې داسې يو کس هم شته چې هغه به د سبت په
ورځ د هغې د راخېژولو کوشش نۀ کوی؟ ۱۲ او بېشکه چې انسان د ګډې نه ډېر زيات
قيمتی دے. ځکه د سبت په ورځ نېکی کول روا دی.“ ۱۳ بيا هغۀ هغه سړی ته وفرمائيل
چې، ”خپل لاس اوږد کړه.“ هغۀ لاس اوږد کړو او د بل لاس په شان يې هغه لاس روغ
رمټ شو. ۱۴ خو فريسيان د عبادتخانې نه بهر ووتل او په خپلو کښې يې د عيسیٰ د
وژلو منصوبه شروع کړه.

## د خُدائ پاک مقرر شوے خادِم

۱۵ خو عيسیٰ چې په دې خبر شو نو د هغه ځائ نه لاړو. ډېر خلق په هغۀ پسې روان
شول او هغۀ د هغوئ ټول بيماران روغ کړل. ۱۶ او هغوئ ته يې په سخته وفرمائيل چې،
”ما به نۀ ښکاره کوئ.“ ۱۷ دا د يشعياه نبی د دې پېشګوئی پوره کول وُو چې، ۱۸ ”دا
زما خادِم دے چې ما غوره کړے دے، زما محبوب چې روح مې پرې خوشحاله دے.
زۀ به خپل روح په هغۀ سورے کړم، او هغه به ټولو قومونو ته اِنصاف رسوی. ۱۹ هغه
به نۀ جنګ کوی، نۀ شور، او نۀ به په کوڅو کښې د هغۀ آواز اورېدے شی. ۲۰ هغه به
يوه کېږه لوخه هم نۀ ماتوی او نۀ به کمه بلېدونکې ډيوه مړه کوی. ترڅو هغه په وفادارۍ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره اِنصاف قائم وساتی. ۲۱ د هغهٔ په نوم به ټول قومونه اُميدونه ساتی.“

## حضرت عيسیٰ او شيطان

۲۲ بيا هغوئ ورته يو ړوند ګونګا سړے راوستو چې پيری نيولے وو. عيسیٰ هغه روغ
کړو، ژبه يې ګويا شوه او په سترګو بينا شو. ۲۳ ټول خلق حق حيران شول او دا خبره
خوره شوه چې، ”ولې دا د داؤد زوئ نهٔ دے د چا چې مونږ تلاش کوُو؟“ ۲۴ خو کله
چې فريسيانو دا واوريدل نو هغوئ ووئيل چې، ”دا سړے د پيريانو د سردار بعلزبول په
مدد پيريان شړی.“ ۲۵ عيسیٰ په دې پوهه وو چې دوئ څهٔ سوچ کوی، نو ځکه يې
هغوئ ته وفرمائيل، ”هره بادشاهی چې په خپلو کښې بې‌اتفاقه شی نو هغه تباه کيږی، او
په يو ښار يا کور کښې چې بې‌اتفاقی راشی نو هغه به په خپلو کښې جدا شی. ۲۶ کهٔ
چرې اِبليس، اِبليس شړی نو بيا خو اِبليس په خپله د ځان خلاف شو، نو د هغهٔ بادشاهی
څنګه پاتې کيدے شی؟ ۲۷ نو کهٔ چرې زهٔ پيريان د بعلزبول په مدد شړم نو ستاسو
مريدان يې د چا په وسيله شړی؟ نو په هم دې وجه به هغوئ تاسو ملامته کړی. ۲۸ خو
کهٔ زهٔ دا پيريان د خُدائ پاک د روح په مدد شړم نو د خُدائ پاک بادشاهی ستاسو په
مينځ کښې ده. ۲۹ بيا څنګه يو سړے د يو زورَور سړی په کور ورتلے شی او د هغهٔ
مال حال لوټ کولے شی؟ ترڅو چې اول هغهٔ دا زورَور سړے ترلے نهٔ وی د هغهٔ کور
نهٔ شی لوټ کولے. ۳۰ څوک چې ما سره نهٔ دے، هغه زما خلاف دے. څوک يې چې
ما سره يو ځائ نهٔ راټولوی نو هغه يې نولی. ۳۱ نو ځکه زهٔ تاسو ته دا وايم چې يوه ګناه
او يو کُفر داسې نشته چې د بنی آدمو بخښلے نهٔ شی، سيوا د هغه کُفر نه چې د روحُ
القُدس په خلاف لګولے شوے وی. ۳۲ هر څوک چې د اِبن آدم خلاف څهٔ وائی هغه به
ويخښلے شی، خو هر هغه څوک چې د روحُ القُدس په خلاف خبرې کوی هغه به نهٔ په
دې دُنيا کښې او نهٔ په بله دُنيا کښې ويخښلے شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ونه او د هغې مېوه

۳۳ یا خو ونه او د هغې مېوه ښهٔ وګڼئ او یا ونه او د هغې مېوه بده وګڼئ، ځکه چې
تاسو ونه د هغې په مېوه پېژندلے شئ. ۳۴ اے د مارانو بچو، ستاسو خبرې ځنګه ښې
کېدے شي چې په خپله تاسو ښهٔ نهٔ يئ؟ ځکه چې کومې خبرې چې په خولهٔ راځی هغه د
زړهٔ نه راوځی. ۳۵ ښهٔ سړے د زړهٔ د خزانې نه نېکی راوباسی او بد سړے چې د زړهٔ
خزانه يې بده وی هغه ترې بدی راوباسی. ۳۶ زهٔ تاسو ته دا وايم، هر څوک چې څهٔ
فضول خبرې هم کوی نو د قيامت په ورځ به ورسره د هغې حساب کيږی. ۳۷ ځکه
چې تاسو به په خپلو خبرو سره صادق يا ګناه ګار ثابت شئ."

## معجزه غوښتل

۳۸ ځينې د شرعې عالمانو او فريسيانو ووئيل چې، "اُستاذه، مونږ غواړُو چې تهٔ مونږ ته
د نښې په توګه معجزه وښائې." ۳۹ هغهٔ ورته جواب ورکړو، "دا يوه بدکاره او زناکاره
پيړۍ ده چې نښې غواړی خو د يُونس نبی د نښې نه سېوا يوه نښه به هم دوئ ته ورنهٔ
کړے شی. ۴۰ نو لکه څنګه چې يُونس د کب په ګېډه کښې درې ورځې او درې شپې
تېرې کړې نو دغه شان به اِبن آدم هم درې ورځې او درې شپې د زمکې په تَل کښې تېرې
کړی. ۴۱ د نينوه خلق به هم د دې زمانې د خلقو په خلاف د قيامت په ورځ ودرېږی او
دا پيړۍ به مجرمه ثابته کړی ځکه چې هغوئ د يُونس په بيان توبه ګار شوی وُو، او اوس
څوک چې دلته دے، هغه د يُونس نه لوئ دے. ۴۲ د جنوب مَلِکه به د قيامت په ورځ د
دې پيړۍ خلاف په عدالت کښې ودرېږی او دوئ به مجرمان ثابت کړی، ځکه چې هغه د
دُنيا د بل ګوټ نه د سليمان د حِکمت خبرو اورېدو له راغلې وه، او څوک چې دلته دے
هغه د سليمان نه هم لوئ دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پيريانو واپس راتلل

۴۳ هرکله چې د يو کس نه پيرے بهر شى نو هغه په صحراګانو سر شى چې آرام
ومومى، خو وې نۀ مومى. ۴۴ نو هغه بيا داسې ووائى چې زۀ به واپس هغه کور ته لاړ
شم د کوم نه چې راوتلے يم. نو هغه چې واپس راشى نو هغه کور صرف جارُو کړے او
د اوسېدو جوګه بيا مومى. ۴۵ بيا هغه لاړ شى او نور اووۀ پيريان د ځان سره راولى
چې د دۀ نه هم زيات خراب وى او هغوئ ټول راشى او په پيرى نيولى کس دېره شى، او
د هغۀ اَنجام د پخوا نه هم لا خراب شى. نو دغه حال به هم د دې نافرمانه پيړۍ وى.“

## د حضرت عيسىٰ رشتينى رشته‌دار

۴۶ عيسىٰ لا د خلقو سره په خبرو لګيا وو چې د هغۀ خپله مور او ورونړه بهر ولاړ وُو او
غوښتل يې چې د هغۀ سره خبرې وکړى. ۴۷ په دې کښې چا هغۀ ته ووئيل چې، ”ستا
مور او ورونړه بهر ولاړ دى، هغوئ تا سره مِلاوېدل غواړى.“ ۴۸ عيسىٰ هغه سړى ته
وفرمائيل چې، ”زما مور څوک ده؟ او زما ورونړه څوک دى؟“ ۴۹ نو بيا هغۀ خپلو
مريدانو ته اِشاره وکړه او وې فرمائيل چې، ”زما مور او زما ورونړه دا دى. ۵۰ ځکه هر
هغه څوک چې زما د آسمانى پلار رضا کوى، هغه زما ورور، خور او مور ده.“

## د زميندار مِثال

۱۳ ۱ هم په دغه ورځ عيسىٰ د کور نه بهر شو او د درياب په غاړه کښېناستو. ۲
او دومره ډېر خلق ورته راټول شوى وُو چې هغه ترې کشتۍ ته وختلو او هلته کښېناستو
او ټول خلق ورته د درياب په غاړه ودرېدل. ۳ هغۀ هغوئ ته ډېرې خبرې په مِثالونو
کښې وکړې. هغۀ ورته وفرمائيل چې، ”واورئ، يو زميندار د کروندې دپاره بهر لاړو. ۴
نو چې کله هغۀ په خپل پټى کښې تخم نوستلو نو څۀ تخم ترې نه په لاره پرېوتو نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مارغان راغلل هغه يې وخوړو. ۵ څۀ تخم په کاڼيزه زمکه پرېوتو چرته چې لږه شان
خاوره وه او دا زر راوټوکېدلو خو چې هلته لاندې نوره خاوره نۀ وه. ۶ خو چې نمر
راوختلو نو هغه بوټي يې وسوزول او هغه اوچ شُو ځکه چې جرړې يې نۀ وې. ۷ څۀ
تخم په غنو کښې پرېوتو، ازغي لوئ شول او فصل يې لاندې کړو. ۸ او څۀ تخم په
زرخيزه زمکه پرېوتو او غله يې وکړه، ځينې يو په سل، ځينې يو په شپېتۀ او ځينې يو په
دېرش. ۹ کۀ څوک د اورېدو غوږونه لرى هغه دې واورى."

## د مثال مقصد

۱۰ مريدان عيسىٰ ته ورنزدې شول او تپوس يې ترې وکړو چې، "تۀ دوئ ته په مِثالونو
کښې خبرې ولې کوې؟" ۱۱ هغۀ جواب ورکړو، "تاسو له دا موقع درکړے شوې ده
چې د آسمان د بادشاهۍ په رازونو پوهه شئ، خو هغه نورو ته نۀ ده ورکړے شوې. ۱۲
ځکه چې د هر چا سره چې څۀ وى هغۀ له به نور هم ورکړے شى تر دې چې ورسره لا
زيات شى، خو د چا سره چې څۀ نۀ وى هغۀ نه به هغه څۀ هم واخستلے شى چې
ورسره وى. ۱۳ ځکه زۀ هغوئ ته په مِثالونو کښې خبرې کوم، ځکه چې، "هغوئ ګورى
خو وينى نه، اورى خو پوهېږى نه." ۱۴ په هغوئ کښې د يشعياه نبى يوه پېشګوئي پوره
کېږى چې وائى، "تاسو به يې بيا بيا اورئ خو پوهېږئ به پرې نه، تاسو به يې په سترګو
وينئ خو رسېږئ به پرې نه. ۱۵ ځکه چې د دې اُمت زړونه سخت شوى دى، غوږونه
يې کاڼۀ شوى او سترګې يې پټې شوې دى. ګنې د هغوئ سترګو خو به ليدل، د هغوئ
غوږونو به اورېدل او د هغوئ زړونه به پوهېدل، او بيا به هغوئ واپس راګرځېدلى وے او
ما به روغ کړى وے." ۱۶ خو ستاسو سترګې بختورې دى ځکه چې وينئ، او ستاسو
غوږونه بختور دى ځکه چې اورئ. ۱۷ زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې د ډېرو نبيانو او
زبرګانو دا ارمان وو چې هغه څۀ ووينى څۀ چې تاسو وينئ خو هغوئ ونۀ ليدل، او هغه
څۀ واورى چې تاسو يې اوس اورئ خو هغوئ وانۀ ورېدل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د زميندار د مِثال تشريح

۱۸ نو بيا د زميندار مِثال واورئ. ۱۹ کله چې يو کس د خُدائ پاک د بادشاهۍ کلام
اورى خو پوهيږى پرې نه، نو شيطان راشى او هغه څۀ ترې هم وباسى څۀ چې د هغۀ په
زړۀ کښې کَرلے شوى وى، دا هغه څۀ دى څۀ چې په لاره کَرلے شوى وُو. ۲۰ په
کاڼيزه زمکه د کَرلے شوى تخم مِثال د هغه چا دے چې هر کله چې کلام واورى نو په
خوشحالۍ سره يې سمدستى قبول کړى. ۲۱ خو چې جړړې يې نۀ وى، نو د زغم طاقت
په کښې د لږ وخت دپاره وى، نو بيا کله چې د کلام په وجه په هغوئ تکليف يا سختى
راشى نو بيا سمدستى هغوئ تيندک وخورى. ۲۲ په غنو کښې د پرېوتلى تخم مِثال د
هغه چا دے څوک چې کلام واورى خو دُنيادارى او د دولت مينه په دۀ غالبه شى او
کلام بې‌مېوې پاتې شى. ۲۳ خو کوم تخم چې په زرخيزه زمکه پرېوځى د دې مِثال د
هغه چا دے څوک چې کلام اورى، پرې پوهه شى او يو په دېرش، يو په شپېتۀ او يو په
سل مېوه راوړى.“

## د غنمو په مينځ کښې د جمدر مِثال

۲۴ عيسىٰ يو بل مِثال هغوئ ته وړاندې کړو چې، ”د آسمان بادشاهى داسې ده چې يو
سړے په خپل پټى کښې ښۀ تخم وکَرى. ۲۵ او کله چې څوک اودۀ وى او دشمن يې
راشى او په هغه زمکه ورته د غنمو سره جمدر هم وکَرى او لاړ شى. ۲۶ هر کله چې
فصل زرغون شى او وَږى وباسى نو جمدر په کښې ښکاره شى. ۲۷ او د زميندار
نوکران خپل مالِک له لاړ شى او ورته وائى، نېکه، په کوم پټى کښې چې تاسو ښۀ تخم
کَرلے وو هغه خو اوس د جمدرو نه ډک دے. ۲۸ هغه په جواب کښې وائى چې دا د
دشمن کارونه دى. بيا هغوئ ووائى چې، مونږ لاړ شُو او دغه جمدر ترې وکاږو؟ ۲۹
هغۀ جواب ورکړو چې، نه، کله چې تاسو جمدر وکاږئ هسې نه چې غنم هم ورسره
وکاږئ. ۳۰ پرېږدئ چې دواړه يو ځائ پاخۀ شى، نو د لَو په وخت به زۀ لَوګرو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووایم چې اول جمدر وریبئ او د سوزولو دپاره یې ګېډۍ کړئ، پس له هغې نه غنم وریبئ او زما درمند ته یې راوړئ.“

## د شړشم د دانې او خمبیرې مِثال

۳۱ او یو بل مِثال عیسیٰ هغوئ ته وړاندې کړو چې، ”د آسمان د بادشاهۍ مِثال د
شړشمو د هغه تخم په شان دے کوم چې یو سړی راواخستو او په خپل پټی کښې یې
وکَرلو. ۳۲ دا تخم اګر چې د ټولو تخمونو نه ورکوټے وی خو کله چې دا لوئ شی نو
دا د باغ د هرې بلې کروندې نه لوئ شی، او داسې بوټے شی چې د هوا مارغان راځی او
د هغې په څانګو کښېنی.“ ۳۳ عیسیٰ ورته دا مِثال هم ورکړو چې، ”د آسمان بادشاهی د
خمبیرې په شان ده چې یوې ښځې راواخسته او په درېو قلپو اوړو کښې یې ګډه کړه نو
بیا هغه درې واړه خمبیره شوې.“

## د مِثالونو استعمال

۳۴ عیسیٰ هغه خلقو ته دا ټولې خبرې په مِثالونو کښې وکړې او رښتیا خو دا دی چې
یوه خبره یې هم بې‌مثاله ونۀ کړه. ۳۵ دا د نبی د پېشګوئ تصدیق وو چې، ”زۀ به د
خبرو شروع په مِثالونو سره وکړم، او هغه خبرې به څرګندې کړم چې د دُنیا د پېدایښت
راسې پټې ساتلے شوې دی.“

## د جمدر د مِثال تشریح

۳۶ هغۀ بیا خلق رُخصت کړل او کور ته ورننوتو او مریدان ورله راغلل او ورته یې
ووئیل چې، ”مونږ په پټی کښې د جمدر په مِثال پوهه کړه.“ ۳۷ هغۀ په جواب کښې
وفرمائیل چې، ”اِبن آدم زمیندار دے څوک چې ښۀ تخم کَری، ۳۸ پټے دا دُنیا ده، ښۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تخم د بادشاهۍ اولاد دے او جمدر د شيطان اولاد دے. ۳۹ او هغه دشمن چا چې
جمدر کَرلی دی هغه اِبليس دے، لو د قيامت ورځ ده او لَوګری فرښتې دی. ۴۰ لکه
څنګه چې جمدر په آخره کښې راټولولے شی او په اور کښې سوزولے کيږی، ۴۱ دغه
شان په آخره کښې به اِبن آدم خپلې فرښتې ولېږی او د هغهٔ د بادشاهۍ نه به هر هغه څيز
راغونډ کړی چې سړے پرې تيندک خوری او هغه ټول خلق چې بې‌شرعې کارونه کوی
۴۲ دوئ به د اور بټۍ ته وغورزوی يعنې هغه ځائ ته چرته به چې ژړا او د غاښونو
چيچل وی. ۴۳ او بيا به صادقان د خپل پلار په بادشاهۍ کښې لکه د نمر ځليږی. څوک
چې غوږونه لری نو هغه دې واوری.

## درې مِثالونه

۴۴ د آسمان بادشاهی د هغه خزانې په مِثال ده چې په پټی کښې پټه وی. کوم سړی چې
دا وموندله نو بيا يې پټه کړه او په خوشحالۍ يې خپل هر څهٔ خرڅ کړل او هغه پټے يې
پرې واخستو. ۴۵ د آسمان د بادشاهۍ دا يو بل مِثال دے چې يو سوداګر د ښو ملغلرو
په تلاش کښې وو. ۴۶ هغهٔ يوه ډېره غوره ملغلره وموندله او د هغې د حاصلولو دپاره
يې خپل هر څهٔ خرڅ کړل او هغه يې واخسته. ۴۷ بيا د آسمان بادشاهی د هغه جال په
شان ده چې سمندر ته واچولے شو او په کښې رنګارنګ ماهيان راګېر شُو. ۴۸ هر کله
چې ډک شو نو غاړې ته يې راښکلو، نو بيا سړی ورته کښېناستل او ښهٔ ماهيان يې ترې
نه جدا کړل او په ټوکرو کښې يې واچول او خراب يې ترې وغورزول. ۴۹ دغسې به د
قيامت ورځ وی، فرښتې به ورشی او نېکان به د بدکارانو نه راجدا کړی، ۵۰ او بدکاران
به د اور بټۍ ته وغورزوی، يعنې هغه ځائ ته چرته به چې ژړا او د غاښونو چيچل وی.“

## نوې او زړې خزانې

۵۱ عيسىٰ ورنه تپوس وکړو چې، ”ولې تاسو په دې ټولو خبرو ورسېدئ؟“ او هغوئ دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جواب ورکړو چې، ”آو.“ ۵۲ بیا هغهٔ دوئ ته وفرمائیل، ”هرکله چې د آسمان په
بادشاهۍ کښې یو اُستاذ زده کړې ته کښېناستو نو هغه د کور د مالِک په مِثال دے،
څوک چې د خپل گودام نه زاړهٔ او نوی څیزونه راویاسی.“

## د حضرت عیسیٰ په ناصرت کښې رد کېدل

۵۳ څهٔ وخت چې عیسیٰ د مِثالونو بیان ختم کړو نو هغه د هغه ځائ نه روان شو، ۵۴
او خپل ښار ته راغلو چرته چې هغهٔ خلقو ته د هغوئ په عبادتخانو کښې تعلیم ورکولو.
نو هغوئ حېران شول او تپوس یې ترې وکړو چې، ”دا حکمت او د معجزو طاقت یې له
کومه ځایه حاصل کړے دے؟ ۵۵ ولې دے د ترکاڼ زوئ نهٔ دے؟ ولې د دهٔ مور مریم
نهٔ ده او د دهٔ وروڼه یعقوب، یوسف، شمعون او یهوداه نهٔ دی څهٔ؟ ۵۶ او ولې د دهٔ ټولې
خویندې دلته زمونږ سره نهٔ دی څهٔ؟ نو بیا دا حکمت دهٔ چرته زده کړے دے؟“ ۵۷
دغه شان هغوئ هغه رد کړو. خو عیسیٰ په دې وینا مجبور شو چې، ”د نبی په هر ځائ
کښې عزت وی بغیر د خپل ښار او د خپلو خپلوانو او د خپل خاندان نه.“ ۵۸ هغهٔ هلته
زیاتې معجزې ښکاره نهٔ کړې ځکه چې د هغوئ ایمان نهٔ وو.

## د حضرت یحییٰ بپتسمه ورکوونکی مرگ

۱۴ ۱ هم په دغه ورځو کښې هیرودیس چې د گلیل گورنر وو، کله چې د عیسیٰ د
کارونو نه خبر شو، ۲ نو هغهٔ خپلو نوکرانو ته ووئیل چې، ”بېشکه چې دا بپتسمه
ورکوونکے یحییٰ دے. هغه د مړو نه راژوندے شوے دے، ځکه خو ورسره د معجزو
طاقت هم دے.“ ۳ ځکه هیرودیس د خپل ورور فیلیپوس د ښځې هیرودیاس په وجه
یحییٰ گرفتار کړے وو، په زنځیر یې تړلے وو او په قیدخانه کښې یې اچولے وو، ۴ په
دې وجه چې یحییٰ هغهٔ ته فرمائیلی وُو چې، ”د دې سره نِکاح کول په تا حرام دی.“ ۵

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هیرودیس به هغه مړ کړے وو خو د خلقو نه یرېدلو ځکه چې خلقو هغه نبی ګڼلو. ٦
خو د هیرودیس د سالګرې په ورځ د هیرودیاس لور د مېلمنو په وړاندې داسې وګډېدله
او هیرودیس دومره زیات خوشحاله شو ٧ چې هغهٔ قسم وخوړو چې، "هر څهٔ چې ته
غواړې، زهٔ به يې درکړم." ٨ د مور په وینا هغې ووئیل چې، "ما له دلته د بپتسمه
ورکوونکی یحییٰ سر په تالی کښې راوړه." ٩ بادشاه چې دا واورېدل نو غمژن شو،
خو د خپلو قسمونو او مېلمنو په وجه هغهٔ دا حُکم وکړو چې دا خواست دې پوره کړے
شی. ١٠ او د یحییٰ د سر پرې کولو حکم يې وکړو. ١١ نو د هغهٔ سر يې په تالی کښې
ورله راوړو او جینۍ له يې ورکړو او هغې خپلې مور له یوړو. ١٢ بیا د یحییٰ مریدان
راغلل او د هغهٔ لاش يې واخستو او ښخ يې کړو. او هغوئ لاړل او عیسیٰ ته يې حال
ووې.

## پینځهٔ زره سړو او ورسره ښځو او ماشومانو له روټۍ ورکول

١٣ کله چې عیسیٰ دا خبر واورېدو نو په یوه کِشتۍ کښې هغه د هغه ځایه یو خوشی
بیابان ته لاړو چې یواځې وی. خو خلق خبر شُو او په دهٔ پسې د ښارونو نه پیاده روان
شُو. ١٤ هغه چې غاړې ته راورسېدو نو یوه لویه ګڼه يې ولیده، زړهٔ يې پرې وسوزېدو او
چې په کښې څوک بیماران وُو هغه يې روغ کړل. ١٥ کله چې ماښام شو د هغهٔ مریدان
هغهٔ له ورغلل او وې وئیل چې، "دا خوشے بیابان دے او ناوخته دے، خلق کلو ته
رُخصت کړه چې لاړ شی چې خپل ځان له د خوراک څهٔ څیزونه واخلی." ١٦ خو
عیسیٰ جواب ورکړو، "د دوئ د تلو حاجت نشته، تاسو د ځانه دوئ ته د خوراک څهٔ
ورکړئ." ١٧ هغوئ ووئیل چې، "مونږ سره دلته نور څهٔ نشته خو پینځهٔ روټۍ او دوه
کبان دی." ١٨ هغهٔ وفرمائیل، "دا ما له راوړئ." ١٩ بیا هغهٔ خلقو ته حکم ورکړو چې
په کبل پېنډه جوړه کړئ. بیا هغهٔ دا پینځهٔ روټۍ او دوه کبان واخستل، آسمان ته يې پاس
وکتل، برکت يې ورکړو او روټۍ يې ماتې کړې او هغه يې مریدانو له ورکړې او مریدانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه په خلقو تقسیم کړې. ۲۰ هغوئ ټولو ښهٔ په مړه ګېډه خوراک وکړو او هغوئ چې
پاتې شوې ټوکړې راټولې کړې نو دولس ټوکرۍ ترې ډکې شوې. ۲۱ نو خوا او شا
پینځهٔ زره سړو دغه روټۍ خوړلې وه چې ښځې او ماشومان په کښې شمار نهٔ وُو.

## په اوبو باندې ګرځېدل

۲۲ بیا سمدستی عیسیٰ خپل مریدان کِشتۍ ته وخېژول چې د هغوئ نه وړاندې د دریاب
پورې غاړې ته لاړ شی او د خلقو ګڼه یې خوره کړه. ۲۳ او چې خلق یې رُخصت کړل
نو په خپله غرهٔ ته لاړو چې یواځې دُعا وکړی او کله چې ماښام ناوخته شو، هغه هلته
یواځې وو. ۲۴ په هم هغه وخت کښې مریدانو ته د وچې نه ډېر وړاندې په اوبو کښې
تکلیف جوړ شو ځکه چې کشتۍ د سختو چپو او د مخالف هوا په وجه په دریاب کښې
په چورلیدو وه. ۲۵ عیسیٰ په شپه کښې د سحر کېدو نه لږ وړاندې د اوبو دپاسه روان
وو او د مریدانو خوا ته راغلو. ۲۶ هر کله چې مریدانو هغه د اوبو دپاسه روان ولیدو نو
هغوئ ویرېدل، او چغې یې کړې، ”دا خو پیرے دے.“ ۲۷ عیسیٰ ورته سمدستی
وفرمائیل چې، ”مهٔ یرېږئ. دا زهٔ یم چې یره ونهٔ کړئ.“ ۲۸ پطروس عیسیٰ ته ووئیل
چې، ”مالِکه، کهٔ چرې دا تهٔ یې نو ما ته حُکم راکړه چې زهٔ هم د اوبو دپاسه درشم.“ ۲۹
عیسیٰ ورته وفرمائیل چې، ”راځه.“ بیا پطروس د کِشتۍ نه کوز شو او د اوبو دپاسه د
عیسیٰ خوا ته درروان شو. ۳۰ خو هر کله چې هغهٔ د طوفان زور ولیدلو نو هغه
وویرېدو، او چې ډوبېدو نو چغې یې کړې چې، ”مالِکه، ما بچ کړه.“ ۳۱ عیسیٰ
سمدستی خپل لاس وراوږد کړو او هغه یې د لاسه ونیوو او ورته یې وفرمائیل، ”ستا
عقیده څومره کمزورې ده. شک دې ولې وکړو؟“ ۳۲ هغوئ چې کله په کِشتۍ کښې
سوارهٔ شول بیا طوفان ودرېدلو. ۳۳ نو په کشتۍ کښې ناست مریدان ورته په سجده
شول او وې وئیل، ”بېشکه، چې تهٔ د خُدائ پاک زوئ یې.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

### د ګِنیسرت په علاقه کښې بیماران جوړول

۳۴ کله چې هغوئ پورې غاړې ته ورسېدل نو هغوئ د ګِنیسرت علاقې ته راغلل. ۳۵ د
هغه ځائ خلقو عیسیٰ وپېژندو او ګېرچاپېره خلق یې خبر کړل او ټول بیماران یې ورله
راوستل. ۳۶ او هغۀ ته یې مِنت وکړو چې دوئ ته دومره اجازت ورکړه چې ستا لمنې
له لاس وروړی، او هر چا چې لاس وروړو، هغوئ بلکل روغ رمټ شول.

### د مشرانو رسمونه

۱۵ ۱ بیا د فریسیانو او د شرعي د عالمانو یوه ډله د یروشلم نه عیسیٰ له راغله او
دا تپوس یې ترې وکړو چې، ۲ ”ستا مریدان ولې پخوانی رسمونه ماتوی او دوئ له
چې خنګه د روټۍ نه وړاندې لاسونه وینځل په کار دی، نۀ وینځی؟“ ۳ هغۀ ورته په
جواب کښې وفرمائیل چې، ”دا تاسو څۀ کوئ چې د خپلو روایاتو د خاطره د خُدائ
پاک حکم ماتوئ؟ ۴ ځکه چې خُدائ پاک فرمائیلی دی چې د خپل مور او پلار عزت
کوئ، او هر څوک چې خپل مور یا پلار ته بدرد وائی هغه دې قتل کړے شی. ۵ خو
تاسو خلقو ته دا تعلیم ورکوئ چې دا ټیک خبره ده چې کۀ څوک خپل مور او پلار ته دا
ووائی چې، ”ستا چې څۀ په کار وُو هغه ما د خُدائ پاک په نامه ورکړل، مطلب دا چې
ما د خُدائ پاک په نامه ورکړل،“ ۶ نو هغه نور د مور او پلار د حق نه مجبور نۀ دے.
نو دغه شان تاسو د خپلو روایاتو په وجه د خُدائ پاک حُکمونه منسوخ کوئ. ۷ اے
مُنافقانو، یشعیاه نبی ستاسو په حقله په رښتیا سره دا پېشګوئي کړې وه، کله چې هغۀ
وفرمائیل چې، ۸ دا خلق تش په خولۀ زما عزت کوی خو زړونه یې رانه ډېر لرې دی.
۹ دوئ بېفائدې زما عبادت کوی، ځکه چې دوئ خلقو ته د انسانانو حُکمونه د تعلیم
په ډول ورکوی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هغه څيزونه چې انسان پليتوی

۱۰ بيا هغهٔ خلقو ته آواز وکړو او وې فرمائيل چې، ”زما خبره واورئ او ځان پرې
پوهه کړئ. ۱۱ څهٔ چې په خولهٔ دننه کېږی په هغې يو کس نهٔ پليتېږی، خو په هره هغه
خبره پليتېږی څهٔ چې د هغهٔ د خولې نه راوځی.“ ۱۲ بيا مريدان عيسیٰ له راغلل او وې
وئيل چې، ”تهٔ خبر يې چې فريسيانو ستا دا خبرې بدې ګڼلی دی؟“ ۱۳ هغهٔ جواب
ورکړو چې، ”هر يو بوټے چې زما آسمانی پلار لګولے نهٔ وی هغه به د بېخه وويستلے
شی. ۱۴ د دوئ پرواه مهٔ کوئ. دا ړاندهٔ لارښودونکی دی، نو کهٔ چرې يو ړوند بل ړوند
ته لارښودنه کوی نو دواړه به په کنده کښې وغورزېږی.“ ۱۵ بيا پطروس ووئيل چې،
”مونږ ته دا مِثال تشريح کړه.“ ۱۶ عيسیٰ جواب ورکړو، ”ولې تاسو هم لا تر اوسه د
نورو په شان ناپوهه يئ؟ ۱۷ ولې تاسو دا نهٔ وينئ چې کوم څيز چې په خولهٔ دننه شی،
خېټې ته لاړ شی او بيا هغه د بدن نه بهر وځی؟ ۱۸ خو چې څهٔ په خولې وئيلے شی هغه
د زړهٔ نه راوځی او دغه خبرې دی چې انسان پليتوی. ۱۹ ځکه چې ټول وران خيالونه،
لکه قتل، زنا، حرامکاری، غلا، د دروغو ګواهی او غيبت د زړهٔ نه راوځی. ۲۰ او دا هغه
کارونه دی چې انسان پليتوی، خو په ناوينځلو لاسونو باندې په خوراک کولو، انسان نهٔ
پليتېږی.“

## د کنعانی ښځې عقيده

۲۱ بيا عيسیٰ هغه ځائ پرېښودو او د صور او د صيدا علاقې ته راغلو ۲۲ او د هغې
علاقې يوه کنعانی ښځه بهر راووتله او په چغه يې ووئيل، ”اے مالِکه، په ما رحم وکړه.
اے د داؤد زويه، زما لور پيريانو سخته نيولې ده.“ ۲۳ خو هغهٔ هيڅ جواب ورنهٔ کړو. د
هغهٔ مريدان راغلل او زاری يې وکړه چې، ”دا ښځه لرې کړه ځکه چې په مونږ پسې
بې‌واره چغې وهی.“ ۲۴ عيسیٰ جواب ورکړو ”زهٔ صرف د بنی اِسرائيل د خاندان د
ورکو شوو ګډو دپاره رالېږلے شوے يم.“ ۲۵ خو هغه ښځه راغله، د دهٔ په پښو پرېوته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او چغې يې کړې، ”مالِکه، زما مدد وکړه.“ ﴿۲۶﴾ عيسىٰ په جواب کښې وفرمائيل، ”دا
مناسب نۀ دى چې د ماشومانو برخه روټۍ دې ګوک واخلى او سپو ته دې واچوى.“
﴿۲۷﴾ هغې جواب ورکړو چې، ”آو مالِکه، خو بيا سپى هم هغه ټوکړې خورى کومې چې د
مالِکانو د دسترخوان نه وغورزيږى.“ ﴿۲۸﴾ نو بيا عيسىٰ جواب ورکړو چې، ”تۀ ګومره د
لوئ ايمان لرونکې ښځه يې، نو ګنګه چې تۀ غواړې، هغه شان دې وشى.“ او هم په هغه
ساعت د هغې لور جوړه شوه.

## د ډېرو خلقو جوړول

﴿۲۹﴾ کله چې عيسىٰ د دغه ځايه د ګليل درياب په غاړه روان شو نو هغه بيا غرۀ ته بره
لاړو او هلته کښېناستو. ﴿۳۰﴾ نو ډېر خلق ورله راغلل چې ورسره ګوډيان، ړاندۀ، شليان،
ګونګيان، او نور ډېر بيماران وُو. او هغوئ هغه خلق د عيسىٰ پښو ته ګملول او هغۀ
هغوئ روغ کړل. ﴿۳۱﴾ هغه خلق په دې ډېر حېران شول چې چاړاګانو خبرې وکړلې،
مات ګوډ خلق روغ شول او ګرځېدل او ړاندۀ بينا شول او ټولو په دې د بنى اِسرائيلو د
خُدائ پاک لوئى بيان کړه.

## ګلورو زرو خلقو له روټۍ ورکول

﴿۳۲﴾ عيسىٰ خپل مريدان راوبلل او ورته يې وفرمائيل چې، ”په دې خلقو زما زړۀ سوزى،
دوئ د درېو ورځو راسې زما سره دى او د خوراک دپاره ورسره هيڅ نشته. زۀ دوئ
اوږى رخصتول نۀ غواړم، هسې نه چې په لاره کښې بې‌هوشه شى.“ ﴿۳۳﴾ مريدانو جواب
ورکړو چې، ”په دې خوشى بيابان کښې به دومره خلقو له مونږ روټۍ د کومه راوړو؟“
﴿۳۴﴾ عيسىٰ ورته وفرمائيل چې، ”تاسو سره ګو روټۍ دى؟“ هغوئ جواب ورکړو چې،
”اووۀ روټۍ او يو ګو واړۀ کبان.“ ﴿۳۵﴾ نو عيسىٰ خلقو ته وفرمائيل چې په زمکه کښېنئ.
﴿۳۶﴾ نو هغه اووۀ روټۍ او کبان يې راواخستل، او د خُدائ پاک شُکر يې پرې وويستو،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روټۍ او کبان يې ټوکړې کړل او مريدانو له يې ورکړل، او مريدانو په خلقو وويشل. ۳۷
ټولو ځانونه ښۀ ماړۀ کړل. او چې څۀ ټوکړې ترې پاتې شوې نو هغه يې راټولې کړلې.
هغه دومره وې چې اووۀ غټې ټوکرۍ ترې ډکې شوې. ۳۸ د بچو او ښځو نه علاوه
څلورو زرو کسانو هغه روټۍ وخوړه. ۳۹ هغۀ بيا خلق رُخصت کړل، کِشتۍ ته وختلو
او د مګدن علاقې ته لاړو.

## د نښو غوښتل

۱۶ ۱ فريسيان او صدوقيان عيسىٰ له راغلل او د آزمېښت په توګه يې ورته
وفرمائيل چې، ”مونږ ته يوه آسمانى معجزه وښايه.“ ۲ هغۀ جواب ورکړو چې، ”تاسو
په ماښام کښې وايئ چې موسم به ښۀ شى ځکه چې آسمان سور دے، ۳ او د سحر په
وخت وايئ چې نن به سيلۍ راشى ځکه چې آسمان سور او دوند دے. تاسو د آسمان د
مخ تعبير کولے شئ خو د زمانو په نښو نۀ پوهېږئ. ۴ دا يوه بدکاره او زناکاره پيړۍ
ده چې نښې غواړى خو د يُونس نبى د نښې نه سيوا يوه نښه به هم دوئ ته ورنۀ کړے
شى.“ نو بيا هغه ترې روان شو او هغوئ يې پرېښودل.

## د فريسيانو او صدوقيانو خمبيره

۵ خو کله چې هغوئ بلې غاړې ته واوړېدل نو بيا مريدانو ته دا پته ولګېده چې روټۍ
ورنه د ياده وتلې ده. ۶ عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”د فريسيانو او د صدوقيانو د
خمبيرې نه ځان ساتئ.“ ۷ هغوئ په خپلو کښې يو بل ته ووئيل چې، ”دا ځکه چې
مونږ روټۍ نۀ ده راوړې.“ ۸ عيسىٰ په دې خبر شو چې هغوئ د څۀ په حقله خبرې
کوى، نو د هغوئ نه يې تپوس وکړو، ”اے بې‌ايمانه خلقو، دا تاسو داسې خبرې ولې
کوئ چې ګنې روټۍ درسره نشته؟ ۹ تاسو لا تر اوسه نۀ پوهېږئ؟ ولې تاسو ته هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پينځۀ روټۍ د پينځۀ زره کسانو دپاره يادې نۀ دى، او تاسو څومره ټوکرۍ ترې اوچتې
کړې وې؟ ۱۰ بيا هغه اووۀ روټۍ د څلورو زرو کسانو دپاره، او څومره غټې ټوکرۍ
تاسو ته پاتې شوې وې؟ ۱۱ تاسو څنګه په دې خبره پوهه نۀ شوئ چې ما خو د روټۍ
ذکر نۀ کولو؟ ما درته فرمائيلى وُو چې د فريسيانو او صدوقيانو د خميرې نه ځان
ساتئ.“ ۱۲ بيا هغوئ په دې مطلب پوهه شول چې د روټۍ او د خميرې نه ځان ساتل
نۀ دى، خو د فريسيانو او صدوقيانو د تعليم نه ځان ساتل دى.

## د حضرت عيسىٰ په حقله د پطروس اِقرار

۱۳ خو کله چې هغوئ د قيصريه فيليپى علاقې ته راغلل نو عيسىٰ د خپلو مريدانو نه
تپوس وکړو چې، ”خلق څۀ وائى چې اِبن آدم څوک دے؟“ ۱۴ هغوئ جواب ورکړو،
”ځينې وائى چې بپتسمه ورکوونکے يحيىٰ دے، څۀ دې الياس ګڼى، او څۀ نور دې اوس
هم يرمياه يا د نبيانو نه يو ګڼى.“ ۱۵ هغۀ ورته وفرمائيل چې، ”تاسو څۀ وايئ، چې زۀ
څوک يم؟“ ۱۶ شمعون پطروس جواب ورکړو، ”تۀ مسيح د ژوندى خُدائ پاک زوئ
يې.“ ۱۷ بيا عيسىٰ وفرمائيل، ”اے د يوحنا زويه شمعونه، تۀ بې‌شکه بختور يې. تا دا
خبره د فانى انسان نه نۀ ده زده کړې بلکې زما آسمانى پلار دا ستا په زړۀ کښې اچولې
ده. ۱۸ خو زۀ تا ته دا وايم چې تۀ پطروس يې، چې معنىٰ يې ګټ دے، چې زۀ به خپل
جماعت په دې ګټ آبادوم، او په دې به مرګ هم هيڅکله غالبېدے نۀ شى. ۱۹ زۀ به تا
له د آسمان د بادشاهۍ چابيانې درکړم، تۀ چې په زمکه څۀ منع کړې هغه به په آسمان
کښې هم منع شى، او څۀ چې تۀ په زمکه روا کړې هغه به په آسمان کښې هم روا شى.“
۲۰ بيا هغۀ مريدان په سختۍ سره منع کړل چې، ”هيچا ته مۀ وايئ چې هغه مسيح
دے.“

## د حضرت عيسىٰ د مرګ او د بيا ژوندى کېدو په حقله پېشګوئي

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ د هغه وخت نه عیسیٰ خپلو مریدانو ته دا خبره څرګنده کړه چې، ”هغه به ضرور
یروشلم ته لاړ شی او د مشرانو او د مشرانو اِمامانو او د شرعې د عالمانو د لاسه به
ډیرې سختیٔ وزغمی، او هغه به ووژلے شی او په دریمه ورځ به بیا راژوندے شی.“ ۲۲
بیا پطروس هغه د لاس نه ونیوو او یوې خوا ته یې ورته ووئیل چې، ”خُدائ دې نۀ کړی
مالِکه، په تا دې داسې هیڅکله هم ونۀ شی.“ ۲۳ بیا عیسیٰ مخ وروا ړولو او پطروس ته
یې وفرمائیل، ”رانه لرې شه شیطانه، تۀ زما د لارې خنډ یې، تۀ د بنی آدمو په شان سوچ
کوې، نه چې د خُدائ پاک په شان.“ ۲۴ بیا عیسیٰ خپلو مریدانو ته وفرمائیل چې، ”کۀ
څوک زما مرید جوړېدل غواړی، هغه دې د خپل ځان نه منکر شی، خپله سولیٔ دې
راواخلی او ما پسې دې راځی. ۲۵ څوک چې خپل ځان ساتل غواړی هغه به یې بائیلی،
خو څوک چې زما د خاطره خپل ژوند بائیلی، هغه به یې حاصل کړی. ۲۶ کۀ څوک د
خپل ابدی ژوند په بدله ټوله دُنیا ومومی نو هغۀ ځان ته څۀ فائده ورکړه؟ او د خپل
ژوند په بدله کښې هغه څۀ ورکولے شی؟ ۲۷ ځکه چې اِبن آدم به د خپل پلار په لویئ
کښې د خپلو فرښتو سره راځی او بیا به هغه هر چا ته د خپل عمل بدله ورکوی. ۲۸ زۀ
تاسو ته رښتیا وایم چې دلته ځینې داسې کسان ولاړ دی چې تر هغې به نۀ مری ترڅو
چې هغوئ اِبن آدم خپلې بادشاهئ ته په راتلو ونۀ وینی.“

## د حضرت عیسیٰ شکل بدلېدل

۱۷ ۱ شپږ ورځې پس عیسیٰ د ځان سره پطروس یعقوب او د هغۀ ورور یوحنا یو
اوچت غرۀ ته وخېژول. ۲ او د هغوئ په وړاندې د هغۀ شکل بدل کړے شو او د هغۀ
مخ لکه د نمر وځلېدو او د هغۀ جامې لکه د رڼا سپینې شوې. ۳ نو ناګهانه هغوئ ته
موسیٰ او الیاس ښکاره شُو چې د هغۀ سره یې خبرې کولې. ۴ نو پطروس عیسیٰ ته
ووئیل چې، ”مالِکه، زمونږ دپاره دلته پاتې کېدل ښۀ دی. کۀ تۀ غواړې نو زۀ به دلته درې
جونګړې، یوه ستا دپاره، یوه موسیٰ دپاره او یوه الیاس دپاره جوړه کړم.“ ۵ هغۀ لا دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې کولې چې ناګهانه يوه پړقېدونکې وريځ راخوره شوه او په هغوئ يې سورے وکړو
او د وريځې نه آواز وفرمائيل، ”دا زما محبوب زوئ دے د چا نه چې زۀ راضى يم. د
هغۀ خبرې واورئ.“ ۶ د دې آواز په اورېدو مريدان د يرې نه پړمخې پرېوتل. ۷ خو
بيا عيسىٰ هغوئ له ورغلو، په هغوئ يې لاس ولګولو او ورته يې وفرمائيل، ”پاڅئ، مۀ
يرېږئ.“ ۸ او کله چې هغوئ بره نظر واچولو نو څوک يې هم ونۀ ليدل خو صرف
عيسىٰ د هغوئ سره ولاړ وو. ۹ نو کله چې هغوئ د غرۀ نه راکوزېدل نو عيسىٰ هغوئ
ته حکم ورکړو چې، ”د دې رويا په حقله تر هغې چا ته څۀ مۀ وايئ ترڅو چې اِبن آدم د
مړو نه بيا ژوندے پورته کړے شوے نۀ وى.“ ۱۰ نو مريدانو د هغۀ نه تپوس وکړو چې،
”بيا زمونږ د شرعې عالمان داسې ولې وائى چې الياس به ضرور وړومبے راځى؟“ ۱۱
هغۀ ورته وفرمائيل چې، ”آو، الياس به راځى او هر څۀ به سموى. ۱۲ خو زۀ تاسو ته
وايم چې الياس خو راغلے دے، خو هغوئ نۀ دے پېژندلے او څۀ چې دوئ غوښتل
ورسره يې وکړل. او دغه شان به اِبن آدم هم د هغوئ د لاسه وردېږى.“ ۱۳ بيا مريدان
پوهه شول چې هغه د بپتسمه ورکوونکى يحيىٰ په باب کښې فرمائى.

## د پيرى نيولې هلک روغول

۱۴ کله چې هغوئ خلقو ته واپس راغلل نو يو سړے عيسىٰ له راغلو، د هغۀ په وړاندې
په ګوډو شو ۱۵ او وې وئيل، ”مالِکه، زما په زوئ رحم وکړه. په هغۀ مِرګى راځى او
ډېر يې زوروى کله يې په اور او کله يې په اوبو کښې غورزوى. ۱۶ ما هغه ستا مريدانو
له راوستو خو هغوئ روغ نۀ کړے شو.“ ۱۷ عيسىٰ جواب ورکړو، ”اے بې‌ايمانه او
بدکاره پيړۍ، زۀ به ترڅو تاسو سره يم او زۀ به ترڅو تاسو زغمم؟ هغه ما له دلته راولئ.“
۱۸ بيا عيسىٰ هغه پيرے ورټلو نو هغه يې پرېښودو او سمدستى هغه هلک روغ شو. ۱۹
د دې نه پس مريدان عيسىٰ له يواځې راغلل او تپوس يې وکړو چې، ”دا مونږ ولې نۀ شُو
شړلے؟“ ۲۰-۲۱ هغۀ جواب ورکړو چې، ”ځکه ستاسو ايمان ډېر کمزورے دے. زۀ
تاسو ته رښتيا وايم، کۀ ستاسو ايمان د شړشمو د تخم هومره هم وى نو چې تاسو دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غر ته ووايئ چې دلته نه هلته لاړ شه، نو هغه به روان شی. او هيڅ کار به ستاسو دپاره
ناممکن نۀ وی.“

## حضرت عيسىٰ يو ځل بيا د خپل مرګ پېشګوئي وکړله

۲۲ کله چې هغوئ په ګليل کښې يو ځائ وُو نو عيسىٰ ورته وفرمائيل چې، ”اِبن آدم به د
دشمنانو لاسونو ته حواله کړے شی. ۲۳ هغوئ به دے قتل کړی، په دريمه ورځ به هغه
بيا راژوندے شی.“ نو په دې اوريدو هغوئ ډېر غمژن شول.

## د خُدائ پاک د کور محصُول ورکول

۲۴ کله چې دوئ کفرنحُوم ته راغلل نو د خُدائ د کور خزانچی پطروس له راغلو او
تپوس يې ترې وکړو چې، ”ولې ستا اُستاذ د خُدائ د کور محصُول ورکوی څۀ؟“ ۲۵
پطروس ورته ووئيل چې، ”هغه يې ورکوی.“ خو کله چې پطروس دننه لاړو نو عيسىٰ د
هغۀ د وينا نه وړاندې وفرمائيل چې، ”اے شمعونه، تۀ په دې باره کښې څۀ وائې چې د
دُنيا بادشاهان د چا نه محصُول او ماليه اخلی، د خپلو خلقو نه کۀ د پردو نه؟“ ۲۶
پطروس جواب ورکړو چې، ”د پردو نه.“ عيسىٰ وفرمائيل، ”نو بيا خو د دوئ خپل خلق
معاف دی. ۲۷ خو هرکله چې مونږ بد نۀ خوښوو نو تۀ لاړ شه، د درياب په اوبو کښې
کُنډه واچوه او کوم کب چې تۀ اول ونيسې، د هغۀ خولۀ کولاو کړه، نو تۀ به په کښې يوه
د سپينو زرو سيکه ومومې. هغه يوسه او ور يې کړه، دا به زما او ستا دواړو محصُول
پوره کړی.“

## د ټولو نه لوئ څوک دے؟

۱۸ ۱ په هغه وخت مريدان عيسىٰ له راغلل او تپوس يې ترې وکړو چې، ”د آسمان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په بادشاهۍ کښې د ټولو نه لوئ څوک دے؟" ٢ هغۀ يو ماشوم راوبللو او د هغوئ په
وړاندې يې ودرولو. ٣ او ورته يې وفرمائيل چې، "زۀ تاسو ته رښتيا وايم ترڅو چې
تاسو خپل ځان بدل نۀ کړئ او د ماشومانو په شان نۀ شئ نو تاسو به هيڅکله هم په
آسمانی بادشاهۍ کښې داخل نۀ شئ. ٤ هر هغه څوک چې ځان د دې ماشوم په شان
عاجز کړی نو هغه به په آسمانی بادشاهۍ کښې د ټولو نه لوئ وی. ٥ او څوک چې
زما په نوم داسې ماشوم قبول کړی هغه ما قبلوی.

## د ګناه لمسون

٦ خو هر هغه څوک چې په دې وړو ماشومانو کښې چې په ما يې ايمان راوړے دے،
يو ته ټينډک ورکوی، نو د هغۀ دپاره دا بهتره ده چې د هغۀ په غاړه کښې د ژرندې پل
واچولے شی او په سمندر کښې ډوب شی. ٧ په دُنيا دې افسوس وی چې انسان د
دې خيزونو په وجه ګناه کوی. دا څيزونه به ضرور راځی خو افسوس په هغۀ د چا د
لاسه چې به پيښېږی. ٨ کۀ چرې ستا لاس يا پښه تا له ټينډک درکوی، نو ځان نه يې
پرې کړه او ګزار يې کړه ستا دپاره به دا ښۀ وی چې تۀ په ابدی ژوندون کښې شل ګوډ
ننوځې، په ځائ د دې چې تۀ په دواړو لاسو پښو سم يې او ابدی اور ته واچولے شې.
٩ او کۀ ستا سترګه تا ګناه ته ولمسوی نو وې باسه او وې غورزوه. ستا دپاره به دا
ښۀ وی چې په يوې سترګې سره په ابدی ژوندون کښې داخل شې، په ځائ د دې چې په
دواړو سترګو روغ يې او د دوزخ اور ته وغورزولے شې.

## د ورکې شوې ګډې مِثال

١٠ خبردار، په دې وړو کښې يو ته هم سپک مۀ ګورئ. زۀ تاسو ته دا وايم چې د دوئ
فرښتې په آسمان کښې هر وخت زما د آسمانی پلار په حضور کښې موجودې وی. ١١
ځکه چې اِبن آدم د دې دپاره راغلے دے چې ورک شوو ته خلاصون ورکړی. ١٢

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو څۀ خيال دے؟ فرض کړئ چې د يو سړی سل ګډې دی. کۀ په هغې کښې يوه
بې‌لارې شی، ولې هغه به دا نورې يو کم سل د هغې يوې د لټولو دپاره د غرۀ په خوا کښې
پرې نۀ ږدی؟ ۱۳ او چې کله هغه دا بيا مومی نو زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې د هغې په
موندلو به هغه د دې نورو يو کم سلو نه چې بې‌لارې شوې نۀ دی، زيات خوشحاله شی.
۱۴ هم دغه شان ستاسو د آسمانی پلار دا رضا نۀ ده چې د دې ماشومانو نه دې يو هم
هلاک شی.

## يو ورور چې ګناه کوی

۱۵ کۀ چرې ستاسو يو ورور ستاسو خلاف څۀ ګناه وکړی نو لاړ شئ او هغه په پرده
کښې په دې ملامته کړئ او کۀ هغه تاسو ته غوږ کېږدی نو تاسو خپل ورور دوباره
وموندلو. ۱۶ خو کۀ هغه ستاسو خبره وانۀ وری نو بيا يو يا دوه کسان نور د ځان سره
ملګری کړئ د دې دپاره چې هره خبره د دوو يا د دريو ګواهانو په وړاندې ثابته کړے
شی. ۱۷ کۀ هغه د هغوئ هم وانۀ وری نو دا خبره جماعت ته وړاندې کړئ او کۀ چرې
هغه د جماعت خبره هم ونۀ منی نو بيا د هغۀ سره داسې سلوک وکړئ لکه چې د يو غېر
يهودی، يا محصولچی سره کولے شی. ۱۸ زۀ تاسو ته دا وايم، هر څۀ چې تاسو په
زمکه منع کړئ هغه به په آسمان کښې هم منع شی او څۀ چې تاسو په زمکه روا کړئ
هغه به په آسمان کښې هم روا شی. ۱۹ زۀ تاسو ته بيا دا وايم، کۀ چرې په تاسو کښې
دوه کسان په يوه خبره متفِق شی هغوئ چې څۀ سوال وکړی نو زما آسمانی پلار به هغه
ورکړی. ۲۰ نو کۀ چرې دوه يا درې تنه چرته هم زما په نوم يو ځائ شی نو زۀ به د
دوئ په مينځ کښې يم.“

## د نابخښلے شوی نوکر مِثال

۲۱ بيا پطروس عيسیٰ له راغلو او تپوس يې وکړو، ”مالِکه، کۀ زما ورور زما خلاف څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بد کوی نو زۀ به يې څو ځله معاف کوم؟ تر اووۀ ځلو پورې څۀ؟“ ۲۲ عيسىٰ جواب
ورکړو، ”زۀ دا نۀ وايم چې اووۀ ځله، زۀ دا وايم چې اويا وارې اووۀ ځله، ۲۳ نو په دې
وجه د آسمان بادشاهى لکه د هغه بادشاه په شان ده چې يو ځلې يې د خپلو نوکرانو سره
حساب شروع کړو، ۲۴ نو په اول سر کښې يو سړے داسې پېښ شو چې د هغۀ قرضه
په لکونو کښې وه، ۲۵ خو د هغۀ سره هيڅ هم نۀ وُو. نو د هغۀ مالِک دا حکم وکړو چې
هغه دې سره د ښځې، اولاد او هر څۀ مال حال چې لرى خرڅ کړے شى او قرض دې
ترې پوره کړے شى. ۲۶ سړے د خپل مالِک په پښو پرېوتو او وې وئيل چې ما ته صبر
وکړه، زۀ به ستا ټول قرض خلاص کړم. ۲۷ نو د هغۀ د مالِک په زړۀ کښې هغۀ ته رحم
راغلو هغۀ هغه آزاد کړو او قرض يې ورته ويخښلو. ۲۸ خو هر کله چې دا نوکر بهر
راووتو نو د خپلو ملګرو نوکرانو نه يو نوکر ورسره مِلاو شو په چا چې د دۀ سل ديناره
قرض وُو. هغه يې راونيوو، او په مرىٔ ورته غلے شو او ورته يې ووئيل چې زما قرض ما
ته واپس کړه. ۲۹ نو هغه ملګرے نوکر يې په پښو پرېوتو او دۀ ته يې مِنت وکړو چې ما
ته صبر وکړه، زۀ به ستا قرض تا ته واپس کړم. ۳۰ خو هغۀ ورسره ونۀ منله او په
قېدخانه کښې يې واچولو ترڅو چې قرض واپس نۀ کړى. ۳۱ نورو نوکرانو چې دا حال
وليدلو نو ډېر خفه شول. هغوئ خپل مالِک له لاړل او ټوله قيصه يې ورته تيره کړه. ۳۲
هغۀ دا نوکر راوبللو او ورته يې ووئيل چې اے بد کاره، چې کله تا ما ته مِنت وکړو نو
ما درته ټول قرض ويخښلو. ۳۳ ولې په تا کښې دومره سړيتوب نۀ وو چې په خپل
ملګرى نوکر دې داسې رحم کړے وے لکه چې ما په تا وکړو؟ ۳۴ د هغۀ مالِک ډېر
غصه شو او دے يې د قېدخانې مشر ته حواله کړو ترڅو چې يې ټول قرض واپس کړے
نۀ وى. ۳۵ کۀ چرې تاسو خپل ورور د زړۀ د اخلاصه معاف نۀ کړئ نو زما آسمانى
پلار به هم تاسو هر يو سره داسې کوى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د طلاق په حقله تعليم

١٩ ١ ځۀ وخت چې عيسیٰ دا خبرې خلاصې کړې نو د ګليل نه روان شو او د
اُردن نه پورې غاړه د يهوديه علاقې ته لاړو. ٢ ګڼ خلق ورپسې ؤو او هغۀ هغوئ هلته
روغ کړل. ٣ نو ځينې فريسيان راغلل او د آزميښت په طور يې ترې دا تپوس وکړو،
”ولې يو سړی ته دا روا دی چې په هره وجه چې وی خپله ښځه طلاقه کړی؟“ ٤ هغۀ
په جواب کښې ورته وفرمائيل چې، ”ولې تاسو دا نۀ دی لوستی چې خالق په اول سر
کښې هغوئ نر او ښځه پېدا کړل؟ ٥ په دې وجه به سړے خپل مور پلار پرېږدی او د
خپلې ښځې سره به يو ځائ شی، او دا دواړه به يو بدن شی. ٦ نو بيا دوئ دوه نه خو
يو بدن وی. ځکه چې خُدائ پاک دوئ يو ځائ کړی دی نو بنی آدم دې يې هيڅکله هم نۀ
جدا کوی.“ ٧ هغوئ دا اِعتراض وکړو چې، ”بيا موسیٰ ولې په شريعت کښې خاوند
ته دا اجازت ورکړے دے چې طلاق نامه دې وليکی او ښځه دې پرېږدی؟“ ٨ هغۀ
جواب ورکړو چې، ”موسیٰ تاسو ته د خپلې ښځې د پرېښودو اجازت ستاسو د زړونو د
سختوالی په وجه درکړو، خو د شروع نه خبره داسې نۀ وه. ٩ زۀ تاسو ته وايم چې کۀ
څوک بغير د زناکارئ د جرم نه په بله څۀ وجه خپلې ښځې له طلاق ورکړی او بل وادۀ
وکړی نو هغه زنا کوی.“ ١٠ مريدانو عيسیٰ ته ووئيل، ”کۀ د سړی د خپلې ښځې سره
دا حال وی نو دا به ښۀ وی چې څوک دې بلکل وادۀ نۀ کوی.“ ١١ د دې په جواب
کښې عيسیٰ وفرمائيل چې، ”خبره داسې ده چې هر څوک يې نۀ شی منلے خو صرف
هغه خلق چې خُدائ پاک ورته د زغملو طاقت ورکړے وی. ١٢ ځينې داسې خلق دی
چې د مور د ګېډې نه يا خو خصی پېدا دی او يا بنی آدمو خصی کړی دی، خو ځينې
داسې دی چې هغوئ خپل ځانونه د آسمان د بادشاهۍ دپاره خصی کوی. څوک يې چې
منلے شی هغه دې ومنی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عیسیٰ ماشومانو ته برکت ورکول

۱۳ یوه ورځ هغوئ عیسیٰ له ماشومان راوستل چې د برکت دپاره لاس پرې کېږدی،
خو د هغهٔ مریدانو هغه خلق ورټل چا چې راوستل. ۱۴ عیسیٰ ورته وفرمائیل چې،
"ماشومان ما ته راپرېږدئ، دوئ مهٔ منع کوئ ځکه چې د آسمان بادشاهی هم د داسې
خلقو ده." ۱۵ بیا هغهٔ خپل لاسونه د هغوئ په سر د برکت دپاره راښکل او روان شو.

## د مالداری نقصان

۱۶ او بیا یو سړے عیسیٰ له راغلو او تپوس یې ترې وکړو، "اُستاذه، زهٔ داسې کومه
نېکی وکړم چې د ابدی ژوندون وارث شم؟" ۱۷ عیسیٰ ورته وفرمائیل، "د نېکۍ په حقله
ولې تپوس کوې؟ نیک خو یواځې یو ذات دے، خو کهٔ ته غواړې چې ابدی ژوندون
حاصل کړې نو د موسیٰ د شریعت په حکمونو عمل کوه." ۱۸ هغه سړی تپوس وکړو
چې، "کوم حُکمونه؟" عیسیٰ ورته وفرمائیل، "قتل مهٔ کوئ. زنا مهٔ کوئ. غلا مهٔ کوئ. د
دروغو ګواهی مهٔ ورکوئ. ۱۹ د مور پلار عزت کوئ او د خپل ګاونډی سره د خپل
ځان په شان مینه ساتئ." ۲۰ هغه ځوان جواب ورکړو چې، "ما په دې ټولو عمل کړے
دے خو په ما کښې د څهٔ کمے دے؟" ۲۱ عیسیٰ ورته وفرمائیل، "کهٔ ته کامِل کېدل
غواړې نو لاړ شه، خپل ټول مال حال خرڅ کړه او خوارانو له یې ورکړه، نو بیا به تهٔ
آسمانی خزانې ومومې. بیا راځه، او په ما پسې شه." ۲۲ هغه ځوان چې دا خبره
واورېده نو خفه زهیر لاړو ځکه چې هغه ډېر مالداره سړے وو. ۲۳ عیسیٰ خپلو مریدانو
ته وفرمائیل چې، "زهٔ تاسو ته رښتیا وایم چې یو مالدار ته د آسمان په بادشاهۍ کښې
داخلېدل ګران کار دے. ۲۴ زهٔ درته دوباره دا وایم چې د یو مالداره سړی په نسبت د
خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې داخلېدل د یو اوښ دپاره د ستنې په سوری کښې تېرېدل
آسان دی." ۲۵ مریدانو چې دا واورېدل نو حق حېران شول. هغوئ تپوس وکړو، "نو
بیا به څوک خلاصون ومومی؟" ۲۶ خو عیسیٰ هغوئ ته وکتل او ورته یې وفرمائیل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې، ”د بنی آدم دپاره خو دا ناممکنه ده خو خُدائ پاک ته هر څۀ ممکن دی.“ ٢٧ په
دې خبرې پطروس ووئیل چې، ”گوره مونږ خو د دې دپاره هر څۀ پرېښی دی چې تاسو
پسې روان شُو، نو هلته به زمونږ دپاره څۀ وی؟“ ٢٨ عیسیٰ ورته په جواب کښې
وفرمائیل، ”زۀ تاسو ته دا وایم، هر کله چې د قیامت په ورځ اِبن آدم د خپلې لوئ په
تخت کښېنی نو تاسو چې ما پسې روان شوی یئ به هم ما سره په دولسو تختونو کښېنئ
او تاسو به د بنی اِسرائیلو د دولسو قبیلو قاضیان شئ. ٢٩ او هر هغه چا چې زما د
خاطره ورونه، خوېندې، مور پلار، اولاد، زمکه، جائیداد او کورونه پرېښی دی هغوئ به
یو په سل بیا مومی او د تل ژوندون به بیا مومی. ٣٠ خو ډېر اول به آخر کړے شی او
آخر به اول کړے شی.“

## د انگورو د باغ مزدوران

٢٠ ١ ”د آسمان بادشاهی داسې ده لکه چې د یوې زمکې مالِک سحر وختی د کور
نه ووتو، چې خپل د انگورو باغ دپاره مزدوران ولټوی. ٢ او چې کله یې مزدورانو سره
د ورځې مزدوری مقرره کړه نو هغوئ یې کار له ولېږل. ٣ بیا کچه غرمه هغه بهر ووتو
نو په بازار کښې یې یو څو اوزگار کسان نور ولیدل. ٤ هغوئ ته یې ووئیل چې ځئ د
هغه نورو مزدورانو سره د انگورو په باغ کښې کار وکړئ او زۀ به تاسو له مناسبه
مزدوری درکړم. ٥ نو هغوئ لاړل. غرمه او ماسپښین هغه بیا بهر ووتو او هغه شان
بندوبست یې وکړو. ٦ په مازیگر کښې هغه بیا ووتو او یوه بله ډله یې اوزگاره ولیده.
نو هغۀ دوئ ته ووئیل چې تاسو ولې ټوله ورځ داسې خوشې گرځئ او هیڅ کار نۀ کوئ؟
٧ هغوئ ورته ووئیل چې مونږ ته چا د څۀ کار نۀ دی وئیلی. هغۀ ورته ووئیل چې ځئ،
تاسو هم د نورو مزدورانو سره د انگورو په باغ کښې یو ځائ شئ. ٨ چې ماښام شو
نو د باغ مالِک خپل ناظر ته ووئیل چې مزدوران راوغواړه او د هغوئ مزدوری ورکړه، د
وروستۍ قبیلې نه یې شروع کړه او په وړومبۍ یې ختمه کړه. ٩ چا چې مازیگر کار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شروع کړے وو هغوئ ورغلل او ورته يې د پوره ورځې مزدورى ورکړه. ۱۰ او چې د
وړومبو مزدورانو وار راغے نو د هغوئ دا طمع وه چې څۀ زيات به ورته مِلاو شى، خو
هغوئ ته هم هغه څۀ مِلاو شول څومره چې يې نورو له ورکړى وُو. ۱۱ هغوئ چې
مزدورى واخسته نو د باغ مالِک ته وغورېدل چې ۱۲ دې وروستنو خلقو خو يوه ګينټه
کار کړے دے او مونږ سره دې يو برابر کړل چا چې ټوله ورځ په سره غرمه د ځانه
خولې ويستې دى. ۱۳ هغۀ ورته ووئيل، زما ملګريه، ما درسره هيڅ زياتے نۀ دے
کړے. تا د ورځې په مزدورئ راسره فېصله نۀ وه کړې څۀ؟ ۱۴ خپله مزدورى واخله
او کور ته ځه. دا زما خوښه ده چې وروستنى سړى له هم هغه څۀ ورکړم څۀ چې مې تا
له درکړى دى. ۱۵ دا زما اختيار نۀ دے څۀ چې زۀ خپل مال څنګه ووېشم؟ تۀ په دې
راته په بد نظر ګورې چې زۀ سخى يم؟ ۱۶ دغه شان وروستنى به اول شى او اول به
آخر شى.“

## د حضرت عيسىٰ د خپل مرګ په حقله په دريم ځل پېشګوئي

۱۷ عيسىٰ يروشلم ته روان وو او په لاره يې دولس مريدان ځان له کړل او ورته يې
وفرمائيل، ۱۸ ”مونږ اوس يروشلم ته ځو او اِبن آدم به مشرانو اِمامانو او د شرعې
عالمانو ته حواله کړے شى. هغوئ به پرې د مرګ حُکم وکړى. ۱۹ او غېريهوديانو
خلقو ته به يې حواله کړى هغوئ به ورپورې ټوقې وکړى، په کوړو به يې ووهى او په
سولۍ به يې وخېژوى، او په دريمه ورځ به هغه بيا ژوندے پورته کړے شى.“

## د يعقوب او يوحنا د مور درخواست

۲۰ بيا د زبدى د زامنو مور د خپلو زامنو سره ورغله، په سجده ورته پرېوتله او
خواست يې ترې وکړو. ۲۱ عيسىٰ ورته وفرمائيل، ”تۀ څۀ غواړې؟“ هغې ورته ووئيل
چې، ”زۀ دا غواړم چې ستا په بادشاهۍ کښې دې زما دواړه زامن ستا په څنګ کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ناست وی، یو ستا ښی لاس ته او بل ګس لاس ته.“ ۲۲ عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل،
”تاسو چې څهٔ غواړئ په هغې نهٔ پوهېږئ. کوم د مصیبتونو کنډول به چې زهٔ څښم ولې
تاسو به هغه وڅښلے شئ؟“ هغوئ جواب ورکړو چې، ”آو، مونږ یې څښلے شُو.“ ۲۳
بیا هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل چې، ”بېشکه کوم کنډول چې زهٔ څښم، تاسو به یې وڅښئ
خو دا زما په اختیار کښې نهٔ دی چې خپل ښی او ګس لاس ته څوک کښېنوم، دا د هغه
چا په برخه دی چې زما پلار ورته مقرر کړی دی.“ ۲۴ کله چې هغه نورو لسو مریدانو
دا واورېدل نو هغوئ د هغه دوو وروڼو نه خفه شول. ۲۵ خو عیسیٰ هغوئ راوبلل او
ورته یې وفرمائیل چې، ”تاسو ته پته ده چې په دُنیا کښې د غېر یهودی قومونو حاکمان
خپل خلق د قابو لاندې ساتی او د هغوئ امیران په هغوئ خپل رُعب استعمالوی. ۲۶
خو په تاسو کښې دې داسې نهٔ وی. په تاسو کښې چې څوک مشری غواړی هغه دې
ستاسو خادِم شی ۲۷ او هر هغه څوک چې په تاسو کښې مشر کېدل غواړی هغه دې په
خپله خوښه د ټولو خادِم شی. ۲۸ ځکه چې اِبن آدم د دې دپاره رانهٔغلو چې د هغهٔ
خِدمت دې وکړے شی خو د دې دپاره راغلو چې د نورو خِدمت وکړی او خپل ژوند د
ډېرو دپاره فدیه کړی.“

## د دوو ړندو سړو بینا کول

۲۹ کله چې هغوئ د یریحو ښار نه وتل نو ډېر خلق ورپسې روان وُو. ۳۰ د لارې په
غاړه دوه ړانده ناست وُو. هغوئ چې دا واورېدل چې عیسیٰ په دې لاره تېرېږی نو هغوئ
چغې کړې، ”اے مالِکه، د داؤد زویه، په مونږ رحم وکړه.“ ۳۱ خلقو هغوئ ورټل او
ورته یې ووئیل چې چپ شئ. خو هغوئ لا نورې هم چغې زیاتې کړې چې، ”مالِکه، په
مونږ رحم وکړه. اے د داؤد زویه.“ ۳۲ عیسیٰ ودرېدو او هغوئ ته یې وفرمائیل چې،
”تاسو څهٔ غواړئ چې زهٔ یې ستاسو دپاره وکړم؟“ ۳۳ هغوئ ووئیل، ”مالِکه، مونږ خپل
نظر غواړُو.“ ۳۴ د عیسیٰ زړهٔ پرې وسوزېدو او د هغوئ سترګو له یې لاس وروړو نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سمدستی هغوئ بینا شول او په هغهٔ پسې روان شول.

## په یروشلم کښې د حضرت عیسیٰ کامیابه استقبال

۲۱ ۱ هغوئ یروشلم ته نزدې شول او کله چې دوئ د زیتُونو په غر کښې د
بیتِفګے کلی ته ورسېدل نو عیسیٰ دوه مريدان د دې هداياتو سره ورولېږل چې، ۲
"دې مخامخ کلی ته ورشئ نو تاسو به یوه خره تړلې وموموئ چې خپل کوچانړے به ورسره
وی. هغه پرانیزئ او ما له يې راولئ. ۳ کهٔ څوک درته څهٔ وائی نو ورته ووايئ چې دا د
مالِک په کار دی او هغه به يې تاسو سره سمدستی راپرېږدی." ۴ دا د هغې پېشګوئ
پوره کول دی چې په کښې وئیلے شوی دی چې، ۵ "صیون لور ته ووايئ چې ګوره،
ستا بادشاه درروان دے، څوک چې حليم دے، په خرهٔ سور، په کوچانړے يعنې په کوچې
باندې." ۶ مريدان لاړل او هغه څهٔ يې وکړل چې عیسیٰ ورته فرمائیلی وُو. ۷ خره
او د هغې کوچانړے يې راوستل، هغوئ خپلې جامې پرې واچولې او هغه پرې سور شو.
۸ ګڼو خلقو خپلې جامې د هغهٔ په لاره کښې وغوړولې او ځینې خلقو د ونو څانګې
راماتې کړې او لاره يې ورته ښائسته کړه. ۹ او بیا کومه ډله چې ورنه وړاندې وروستو
روانه وه هغوئ ټولو دا چغې وهلې، "مبارک دې وی د داؤد د زوئ. مبارک دے هغه
څوک چې د مالِک خُدائ په نامه راځی. په آسمان کښې دې په هغهٔ مبارکی وی." ۱۰
کله چې عیسیٰ یروشلم ښار ته ورننوتو نو ټول ښار کښې بلوه جوړه شوه او تپوس يې
وکړو چې، "دا څوک دے؟" ۱۱ او ګڼې ورته جواب ورکړو چې، "د ګلیل د ناصرت نه
دا عیسیٰ پېغمبر دے."

## د خُدائ د کور پاکول

۱۲ عیسیٰ بیا د خُدائ کور ته ورننوتو او هغه ټول خلق چې د خُدائ په کور کښې يې
سوداګری کوله، وشړل او د صرافانو تختې او د کونترو د خرڅوونکو کُرسۍ يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نسکورې کړې، ⟨۱۳⟩ او ورته يې وفرمائيل چې، ”صحيفې وائى چې زما کور به د دُعا کور
بللے شى، خو تاسو ترې د ډاکوانو اډه جوړه کړې ده.“ ⟨۱۴⟩ او د خُدائ په کور کښې
ورته ړاندۀ او شل خلق راغلل او هغوئ يې روغ کړل. ⟨۱۵⟩ اِمامانو او د شرعې عالمانو
چې دا حيرانونکى معجزې وليدلې چې هغۀ وکړلې او د خُدائ په کور کښې چې د
ماشومانو چغې واورېدې چې، ”مبارک دې وى د داؤد زوئ،“ نو دوئ خفه ؤو. ⟨۱۶⟩ نو
هغۀ ته يې ووئيل چې، ”دا ماشومان چې څۀ وائى، تۀ يې اورې؟“ عيسىٰ جواب ورکړو
چې، ”آو، زۀ يې اورم. ولې تاسو صحيفې نۀ دى لوستلې چې، د وړو او تى رودونکو
خولۀ دې ته جوړه کړه چې ستا ثنا ووائى.“ ⟨۱۷⟩ بيا د دوئ نه رُخصت شو او د ښار نه
بهر بيتِ‌عنياه ته لاړو او هلته يې شپه تيره کړه.

## د اينځر په ونې لعنت

⟨۱۸⟩ بل سحر چې عيسىٰ ښار ته راتلو نو اوږے شو. ⟨۱۹⟩ د لارې په غاړه يې د اينځر يوه
ونه وليده او هغې له ورغلو خو د پاڼو نه بغير يې په کښې هيڅ ونۀ موندل. هغۀ ونې ته
وفرمائيل چې، ”تۀ دې پس د دې نه تل تر تله شنډه يې.“ او ونه په هغه ټکى اوچه شوه.
⟨۲۰⟩ مريدان په دې ننداره حيران شول. هغوئ تپوس وکړو چې، ”دا لا څۀ چل دے؟ دا د
اينځر ونه څنګه داسې سمدستى اوچه شوه؟“ ⟨۲۱⟩ عيسىٰ ورله جواب ورکړو چې، ”زۀ
تاسو ته رښتيا وايم کۀ چرې ستاسو ايمان کامِل وى او شک نۀ کوئ نو تاسو به هم هغه
څۀ وکړئ کوم چې د اينځر د ونې سره وشول، خو لا د دې نه هم زيات. کۀ تاسو دې
غرۀ ته ووايئ چې د دې خپل ځايه اوچت شه او سمندر کښې وغورزېږه، نو څۀ چې
تاسو وايئ هغه شان به وشى. ⟨۲۲⟩ کومه دُعا چې تاسو په ايمان وغواړئ نو هغه به ټوله
قبوله شى.“

## د حضرت عيسىٰ د اختيار په حقله تپوس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ عیسیٰ د خُدائ کور ته ننوتو او کله چې يې تعليم ورکولو نو مشر اِمام او د قوم
مشران ورله راغلل او دا سوال يې پرې وکړو چې، ”ته دا کارونه په کوم اختيار کوې او
دا اختيار تا له چا درکړے دے؟“ ۲۴ عیسیٰ جواب ورکړو چې، ”زۀ هم ستاسو نه يو
تپوس کوم، تاسو يې جواب راکړئ نو زۀ به هم تاسو ته دا وښايم چې په کوم اختيار زۀ
دا کارونه کوم. ۲۵ د يحيیٰ بپتسمه د آسمان د لورى وه او کۀ د انسان نه؟“ په دې
هغوئ د يو بل سره په بحث شول چې، ”کۀ مونږ دا ووايو چې د آسمان نه، نو هغه به راته
ووائى چې بيا تاسو په هغۀ ايمان ولې رانۀ وړو؟ ۲۶ او کۀ دا ووايو چې د انسانانو د
لورى وه، نو هسې نه چې خلق مو ونيسى ځکه چې هغوئ ټول دا منى چې يحيیٰ نبى وو.“
۲۷ نو هغوئ جواب ورکړو چې، ”مونږ خبر نۀ يُو.“ عیسیٰ ورته وفرمائيل چې، ”بيا به
زۀ هم دا درته ونۀ وايم چې زۀ په کوم اختيار دا کارونه کوم.

## د دوو زامنو مِثال

۲۸ خو تاسو په دې حقله څۀ خيال کوئ چې د يو سړى دوه زامن وُو. هغه اول مشر له
ورغلو او ورته يې ووئيل چې زويه، لاړ شه او نن د انګورو په باغ کښې کار وکړه. ۲۹
هلک ورته جواب ورکړو چې پلاره، زۀ نۀ ځم، خو وروستو هغه پښېمانه شو او لاړو.
۳۰ بيا پلار کشر زوئ له ورغلو او ورته يې هم هغه شان ووئيل. خو هغۀ جواب ورکړو
چې زۀ به لاړ شم، خو هغه باغ ته لا نۀ ړو. ۳۱ په دواړو کښې کوم يو د پلار په رضا کار
وکړو؟“ هغوئ ووئيل چې، ”مشر.“ بيا عیسیٰ ورته وفرمائيل، ”زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې
محصولچيان او کنجرې به هم د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې ستاسو نه مخکښې
داخليږى. ۳۲ ځکه چې کله چې يحيیٰ تاسو ته د سمې لارې د ښودلو دپاره راغلو نو
تاسو پرې يقين ونۀ کړو، خو محصولچيانو او کنجرو پرې ايمان راوړو. خو سره د دې
چې تاسو دا وليدل، تاسو پښېمانه نۀ شوئ او هغه مو ونۀ منلو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د انګورو باغ او د زمیندارانو مِثال

۳۳ يو بل مِثال واورئ، يو زميندار وو چې د انګورو باغ يې ولګولو، ګېرچاپېره يې دېوال
ترې تاو کړو او په کښې يې د انګورو دپاره لنګرۍ ولګوله او د څوکيدارۍ دپاره يې په
کښې يو برج جوړ کړو او بيا يې زميندارانو له په اجاره ورکړو او بل مُلک ته لاړو. ۳۴
کله چې د مېوې موسم راغلو هغۀ يو نوکر اجاره دارو له ورولېږلو چې د هغوئ نه د هغۀ
د پېداوار برخه وصول کړی. ۳۵ خو هغوئ د هغۀ نوکران ونيول، يو يې ووهلو، دويم يې
مړ کړو او دريم يې سنګسار کړو. ۳۶ بيا هغۀ نور نوکران ورولېږل، دا ځل زيات کسان
وُو او هغوئ ورسره هم هغه سلوک وکړو. ۳۷ په آخر کښې يې خپل زوئ په دې خيال
ورولېږلو چې ګنې زما د زوئ خاطر خو به وکړی. ۳۸ خو چې زميندارو د دۀ زوئ
وليدو نو يو بل ته يې ووئيل چې هم دغه وارث دے، راځئ چې مړ يې کړُو او ميراث به
يې زمونږ شی. ۳۹ او هغه يې راونيوو د انګورو د باغ نه يې بهر وغورزولو او مړ يې کړو.
۴۰ کله چې د انګورو د باغ مالِک راشی نو هغه به د دې زميندارو سره څۀ سلوک
وکړی؟“ ۴۱ هغوئ جواب ورکړو چې، ”هغه به دا بدکاری په خراب مرګ ووژنی او باغ
به نورو زميندارو له په اجاره ورکړی، څوک چې به په موسم کښې د دۀ د مېوې برخه
پوره ورکوی.“ ۴۲ بيا عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”تاسو چرې په صحيفو کښې
دا نۀ دی وئيلی چې، ”کوم کاڼے چې کِلکارانو رد کړو، هم هغه د ګوټ سر کاڼے شو. دا
د مالِک خُدائ له خوا وشو، او دا زمونږ په نظر کښې عجيبه ښکاری.“ ۴۳ ځکه زۀ
تاسو ته وايم چې د خُدائ پاک بادشاهی به تاسو نه واخستے شی او هغه قوم له به
ورکړے شی څوک چې يې پوره مېوه ورکوی. ۴۴ هر څوک چې د دې کاڼی سره
ټينګ وخوری هغه به ټوټې ټوټې شی، او کۀ په چا دا راپرېوځی نو هغه به ريز مريز
کړی.“ ۴۵ کله چې مشرانو اِمامانو او فريسيانو دا مثالونه واورېدل نو هغوئ پوهه شول
چې دا ټول مثالونه په هغوئ پورې دی. ۴۶ هغوئ غوښتل چې دے ګرفتار کړی خو د
خلقو نه يرېدل ځکه چې هغوئ عيسىٰ نبی ګڼلو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د وادهٔ د مېلمستیا مِثال

۲۲ ۱ بیا عیسیٰ هغوئ ته په مِثالونو کښې وفرمائیل، ۲ ”د آسمان بادشاهی د هغه
بادشاه په شان ده چې د خپل زوئ د وادهٔ د روټئ بندوبست یې کړے وو. ۳ خو کله
چې هغهٔ خپل نوکران رابللے شوو مېلمنو پسې ولېږل نو هغوئ رانهٔ غلل. ۴ هغهٔ بیا
نور نوکران ورپسې ولېږل او ورته یې ووئیل چې رابللے شوو خلقو ته دا ووایئ چې دا
روټئ ما ستاسو دپاره کړې ده. ما خپل غوَیان او څاربهٔ څاروی ستاسو دپاره حلال
کړی دی، هر څهٔ تیار دی، د وادهٔ روټئ له راشئ. ۵ خو هغوئ یې هیڅ پرواه ونهٔ کړه،
یو خپل پټی ته لاړو او بل خپلې سوداګرئ پسې لاړو. ۶ او نورو د هغهٔ نوکران ونیول،
بې‌عزته یې کړل او وې وژل. ۷ بادشاه غصه شو، هغهٔ د هغه قاتلانو د وژلو دپاره فوج
ولېږلو او د هغوئ ښار یې وسوزولو. ۸ بیا هغهٔ خپلو نوکرانو ته ووئیل، د وادهٔ روټئ
تیاره ده خو کوم مېلمانهٔ چې ما رابللی وُو هغوئ د دې عزت لائق نهٔ وُو. ۹ لویو لارو
او چوکونو ته لاړ شئ او هر څوک چې بیا مومئ د روټئ دعوت ورکړئ. ۱۰ نوکران
بازار ته ووتل او ښهٔ او بد ټول یې راوبلل او دغه شان د مېلمنو نه هال ډک شو. ۱۱ خو
څهٔ وخت چې بادشاه راغلو چې مېلمانهٔ ووینی نو هغهٔ وکتل چې یو سړی د وادهٔ مناسبې
جامې اچولې نهٔ وې. ۱۲ بادشاه ورته ووئیل چې زما ملګریه، تهٔ د وادهٔ د جامو نه بغېر
دلته څنګه راغلې؟ هغهٔ سره هیڅ جواب نهٔ وو. ۱۳ نو بادشاه خپلو خادِمانو ته ووئیل
چې د دهٔ لاس او پښې وتړئ او بهر په تیارهٔ کښې یې وغورزوئ، هغه ځائ چې ژړا او د
غاښونو چیچل به په کښې وی. ۱۴ ځکه چې رابلل شوی خو ډېر دی، خو غوره شوی
لږ دی.“

## د روم قیصر له مالیه ورکول

۱۵ بیا فریسیان لاړل او په خپلو کښې یې منصوبه جوړه کړه چې هغه څنګه په خپلو
خبرو کښې راګیر کړُو. ۱۶ هغوئ خپل ځینې مریدان د هیرودیوس د طرفدارانو سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عيسیٰ له ورولېږل، هغوئ ورته ووئيل چې، ”اُستاذه، مونږ خبر يُو چې تهٔ يو رښتينے
سړے يې او د هيچا طرفداری نهٔ کوې، کهٔ هغه هر څوک هم وی، خو تهٔ د خُدائ پاک د
لارې تعليم په رښتيا سره ورکوې. ١٧ مونږ ته په دې حقله خپله فېصله راکړه چې ولې
مونږ ته دا روا دی چې د روم قيصر له محصُول ورکړو او کهٔ نه؟“ ١٨ خو عيسیٰ د
هغوئ په سازش پوهه وو او هغوئ ته يې وفرمائيل چې، ”اے مُنافقانو، تاسو ما ولې
راګېروئ؟ ١٩ تاسو ما ته د محصُول سکه وښايئ.“ هغوئ د سپينو زرو يوه سکه ورته
ورکړه. ٢٠ عيسیٰ تپوس وکړو چې، ”دا د چا تصوير دے او د چا نوم پرې ليکلے
دے؟“ ٢١ هغوئ جواب ورکړو چې، ”د قيصر.“ هغهٔ دوئ ته وفرمائيل، ”څهٔ چې د
قيصر وی، هغه قيصر له او څهٔ چې د خُدائ پاک وی، هغه خُدائ پاک له ورکوئ.“ ٢٢
په دې جواب هغوئ حق حېران شول او هغه يې پرېښودو او ترې روان شول.

## د قيامت په حق کښې تپوس

٢٣ هم په دغه ورځ څينې صدوقيان څوک چې د قيامت نه منکر دی هغهٔ له راغلل او
هغهٔ نه يې دا تپوس وکړو چې، ٢٤ ”اُستاذه، موسیٰ مونږ ته دا ښودلی دی چې کهٔ د چا
ورور مړ شی او ښځه يې پاتې شی او بچی يې نهٔ وی نو بل ورور دې هغه کونډه وادهٔ
کړی او د هغهٔ نسل دې پيدا کړی. ٢٥ نو اوس اووهٔ وروڼه وُو، ورومبی وادهٔ وکړو او
بې‌اولاده مړ شو. د هغهٔ اولاد نهٔ وو، نو د هغهٔ ښځه د هغهٔ ورور ته پاتې شوه. ٢٦ دغه
شان بيا دويم، دريم تر دې چې خبره تر اوومه پورې ورسيده. ٢٧ آخر هغه ښځه هم
مړه شوه. ٢٨ نو دا راته ووايه چې د قيامت په ورځ به دغه ښځه د چا وی، ځکه چې
ورسره ټولو وادهٔ کړے وو؟“ ٢٩ عيسیٰ جواب ورکړو چې، ”تاسو په غلطه يئ ځکه چې
نهٔ خو تاسو په صحيفو پوهېږئ او نهٔ د خُدائ پاک په قدرت خبر يئ. ٣٠ ځکه چې په
قيامت کښې به ښځې او سړی يو بل سره وادهٔ نهٔ کوی. هغوئ به د آسمان د فرښتو په
شان وی. ٣١ خو د مړو د بيا راژوندی کېدو په حقله تاسو د خُدائ پاک هغه قول نهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے لوستلے چې خُدائ پہ خپلہ فرمائیلی دی چې، ٣٢ ”زۀ د اِبراهیم خُدائ پاک، د
اِسحاق خُدائ پاک او د یعقوب خُدائ پاک یم.“ هغه د مړو خُدائ پاک نۀ دے خو د
ژوندو خُدائ پاک دے.“ ٣٣ خلقو د هغۀ خبرې واورېدلې او د هغۀ په تعلیم حېران
شول.

## په شریعت کښې د ټولو نه لوئ حکم

٣٤ فریسیان چې په دې خبر شول چې عیسیٰ د صدوقیانو خولې بندې کړې دی نو
راغونډ شول. ٣٥ د هغوئ یو عالم د آزمېښت دپاره دا تپوس وکړو، ٣٦ ”اُستاذه، په
شریعت کښې د ټولو نه لوئ حکم کوم یو دے؟“ ٣٧ هغۀ ورله جواب ورکړو چې، ”د
مالِک خپل خُدائ پاک سره په پوره زړۀ، په پوره ځان او په پوره عقل سره مینه ساتئ.
٣٨ دا د ټولو نه لوئ او اول حکم دے. ٣٩ او دویم حکم هم په دې شان دے چې، د
خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مینه ساتئ. ٤٠ د شریعت او د نبیانو د تعلیم ټول
بنیاد په دې دواړو حکمونو دے.“

## د داؤد د نسل په حقله تپوس

٤١ عیسیٰ د راجمع شوو فریسیانو نه تپوس وکړو چې، ٤٢ ”تاسو د مسیح په حقله څۀ
وایئ؟ هغه د چا زوئ دے؟“ هغوئ جواب ورکړو چې، ”د داؤد زوئ دے.“ ٤٣ هغۀ
ورته وفرمائیل چې، ”داؤد بیا څنګه هغۀ ته د روحُ القُدس په الهام کښې مالِک وائی؟ ٤٤
څکه چې هغه وائی، ”مالِک زما مالِک ته وفرمائیل چې زما ښی لاس ته کښېنه، ترڅو
چې زۀ ستا دشمنان ستا د پښو لاندې نۀ کړم.“ ٤٥ کۀ چرې داؤد ورته مالِک وائی نو
بیا هغه د داؤد زوئ څنګه کیدے شی؟“ ٤٦ یو کس هم د هغۀ په جواب څۀ ونۀ وئیل او
د دې ورځې نه پس هیچا هم د هغۀ نه د تپوس کولو همت ونۀ کړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عیسیٰ د فریسیانو او د شرعي د عالمانو ملامته کول

٢٣ ١ عیسیٰ بیا خپلو مریدانو او خلقو ته داسې خبرې وکړې چې ٢ "د شرعي
عالمان او فریسیان د موسیٰ په ګدیٔ ناست دی، ٣ نو هر څۀ چې دوئ تاسو ته وائی
هغه کوئ د هغوئ خبرو ته غوږ نیسئ، خو د هغوئ په شان کارونه مۀ کوئ ځکه چې
دوئ وائی یو څۀ او کوی بل څۀ. ٤ دوئ مذهبی درانۀ پیټی تړی او د خلقو په اوږو یې
باروی خو دا نۀ غواړی چې یو ته د اوچتولو دپاره خپله ګوته هم وروړی. ٥ دوئ چې
هر څۀ کوی دا د خلقو د لیدو دپاره کوی. هغوئ خپل تعویذونه غټ جوړوی او د خپلو
چوغو زونډې لویوی. ٦ دوئ په دعوت کښې خاص ځایونه خوښوی او په عبادتخانو
کښې د مشرۍ کُرسۍ، ٧ او په بازارونو کښې د عزت په سلامونو ډېر خوشحالیږی
چې د اُستاذ په نامه یاد شی. ٨ خو تاسو ته دې څوک اُستاذ ونۀ وائی ځکه چې
ستاسو خو یو اُستاذ شته او تاسو ټول وروڼه یئ. ٩ په دې دُنیا کښې هیچا ته پلار مۀ
وایئ ځکه چې ستاسو خو یو پلار شته او هغه په آسمان کښې دے. ١٠ او تاسو ته دې
څوک اُستاذ ونۀ وائې ځکه چې ستاسو یو اُستاذ شته او هغه مسیح دے. ١١ په تاسو
کښې دې د ټولو نه لوئ ستاسو خادِم وی. ١٢ او هر هغه څوک چې ځان اوچتوی، هغه
به عاجز کړے شی او هر هغه څوک چې ځان عاجز کړی، هغه به اوچت کړے شی.

## د حضرت عیسیٰ په مُنافقانو پابندی

١٣-١٤ خو په تاسو دې افسوس وی، اے د شرعي عالمانو، فریسیانو ځکه چې سخته
سزا ستاسو دپاره مقرر شوې ده. اے مُنافقانو، ځکه چې تاسو د آسمان د بادشاهۍ
دروازې د خلقو دپاره بندوئ. او تاسو نۀ په خپله په کښې ورننوځئ او نۀ ورته نور خلق
پرېږدئ. ١٥ اے د شرعي عالمانو، فریسیانو، مُنافقانو، ځکه چې تاسو په زمکه او
سمندر سفر کوئ د دې دپاره چې یو کس خپل دین ته راواړوئ او کله چې هغه راواړوئ
نو تاسو هغه د خپل ځان نه دوه چنده دوزخی جوړ کړئ لکه څنګه چې تاسو یئ. ١٦

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اے ړندو لارښودونکو، په تاسو دې افسوس وی، ځکه چې تاسو وايئ چې کۀ څوک د
خُدائ په کور قسم وخوری نو دا څۀ خبره نۀ ده، خو کۀ چرته يو کس د هغۀ په سرو
زرو قسم وخوری، نو هغه د خپل قسم پابند دے. ۱۷ اے ړندو کم عقلو، په دې دواړو
کښې کوم څيز اهم دے، سرۀ زر او کۀ د خُدائ کور چې سرۀ زر هم پاکوی؟ ۱۸ يا
تاسو دا وايئ کۀ څوک په قربان‌ګاه قسم وخوری نو هيڅ خبره نۀ ده، خو کۀ څوک د
قربان‌ګاه په شکرانې قسم وخوری نو هغه به پابند وی. ۱۹ اے ړندو، کوم څيز زيات
اهم دے، شکرانه کۀ هغه قربان‌ګاه چې شکرانه هم پاکوی؟ ۲۰ نو هرکله چې څوک په
قربان‌ګاه قسم خوری نو هغه په قربان‌ګاه او د هغې په شکرانو دواړو قسم خوری. ۲۱
څوک چې د خُدائ په کور قسم خوری، نو هغه په هغۀ او څوک چې هلته اوسی، په
دواړو قسم خوری. ۲۲ او څوک چې په آسمان قسم خوری نو دا داسې دی لکه چې
هغه د خُدائ پاک په تخت او د خُدائ په ذات باندې قسم خوری. ۲۳ اے د شرعې
عالمانو، فريسيانو، مُنافقانو، په تاسو افسوس چې تاسو خو د پودينې د کاړو او د زيړې
لسمه حِصه ورکوئ خو د شريعت معتبرې خبرې لکه اِنصاف، رحم او وفاداری مو
پريښې ده. په اصل کښې په کار دا وُو چې تاسو په دې هم عمل کولے او هغه مو هم نۀ
پريښودلے. ۲۴ اے ړندو لارښودونکو، تاسو خو اوبۀ د ماشی دپاره چاڼ کوئ خو
اوښ لواړ تيروئ. ۲۵ اے د شرعې عالمانو، فريسيانو، مُنافقانو، په تاسو افسوس. تاسو
خو د کنډول او رکيبۍ بهر مخ وينځئ خو دننه مو هغه د لوټ او د خود غرضۍ د مال نه
ډک کړی وی. ۲۶ اے ړندو فريسيانو، اول د دننه نه کنډول او رکيبۍ وينځئ، نو بهر نه
به هم وينځلے شی. ۲۷ اے د شرعې عالمانو، فريسيانو، مُنافقانو، په تاسو افسوس.
ستاسو مِثال د هغه قبرونو دے چې بهر سپين کړی او ښائسته ښکاری خو دننه د مړو د
هډوکو او د نورې ګندګۍ نه ډک وی. ۲۸ دغه حال ستاسو هم دے، په ظاهره خو تاسو
صادقان ښکارئ، خو د دننه د منافقت او بې‌شرعې کارونو نه ډک يئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عيسىٰ پېشګوئي د مُنافقانو د سزا په حقله

۲۹ اے د شرعي عالمانو، فريسيانو، مُنافقانو، په تاسو افسوس چې تاسو د نبيانو
زيارتونه جوړَوئ او د صادقانو قبرونه سينګاروئ ۳۰ او دا وايئ چې کۀ چرې مونږ د
خپل پلار نيکۀ په زمانه کښې ژوندى وے نو د نبيانو په قتلولو کښې به شريک شوى نۀ
ؤُو. ۳۱ دغسې تاسو په ځان ګواهى کوئ چې تاسو د هغو خلقو زامن يئ چا چې نبيان
وژلى ؤُو. ۳۲ نو ځئ او د خپل پلار نيکۀ نيمګړے کنډول ډک کړئ. ۳۳ اے مارانو او
د مارانو بچو، تاسو به د دوزخ د سزا نه څنګه خلاص شئ؟ ۳۴ ځکه زۀ تاسو ته نبيان،
هوښياران او د خُدائ پاک د لارې عالمان درلېږم نو په تاسو کښې به ځينى مړۀ کړى،
ځينې به په سولىٰ کړى او ځينې به په خپلو عبادتخانو کښې په کوړو ووهى او د يو ښار
نه به يې بل ښار ته وشړى. ۳۵ دغه شان به په زمکه د ټولو صادقانو د تويئ شوې وينې
ذمه وارى ستاسو په غاړه وى، د بېګناه هابيل نه د برکياه د زوئ زکرياه تر وينې پورې،
څوک چې تاسو د خُدائ د کور او قربانګاه په مينځ کښې مړ کړو. ۳۶ زۀ تاسو ته
رښتيا وايم، چې دې پيړۍ ته به د دې ټولو سزا ملاوېږى.

## د حضرت عيسىٰ يروشلم دپاره خفګان کول

۳۷ اے يروشلمه، اے د يروشلم ښارېې چې تۀ نبيان وژنې او رسولان سنګساروې کوم
چې تا ته رالېږلے شوى دى. ما څو ځله دا ارمان وکړو چې ستا بچى راغونډ کړم،
داسې لکه چې چرګه خپل بچى د وزرو لاندې راغونډوى، خو تا دا نۀ غوښتل. ۳۸ او
اوس وګوره، هغه دے ستاسو کور خوشے او شاړ پاتې کيږى. ۳۹ خو بېشکه زۀ تاسو
ته دا وايم چې تاسو به تر هغه وخته ما ونۀ وينئ ترڅو چې دا ونۀ وايئ چې، مبارک دے
هغه څوک چې د مالِک خُدائ په نوم راځى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عیسیٰ د خُدائ د کور د بربادۍ پیشګوئي

۲۴ ۱ عیسیٰ د خُدائ د کور نه په وتو وو چې مریدان یې ورنزدې شُو او د خُدائ د
کور عمارت یې ورته په ګوته کړو. ۲ هغهٔ ورته وفرمائیل چې، ”دې ټولو آبادو ته
وګورئ، زهٔ تاسو ته رښتیا وایم چې دلته به یو کاڼے هم د بل دپاسه پاتې نهٔ شی او ټول به
ونړولے شی.“

## د مشکلاتو شروع کېدل

۳ څهٔ وخت چې عیسیٰ د زیتُونو په غرهٔ ناست وو نو مریدان یې ورغلل چې د هغهٔ
سره په پرده کښې خبرې وکړی. هغوئ ووئیل، ”مونږ ته دا وښایه چې دا هر څهٔ به کله
وشی او ستا د راتلو او د قیامت د ورځې نښه به څهٔ وی؟“ ۴ عیسیٰ جواب ورکړو،
”پام کوئ چې څوک مو بې‌لارې نهٔ کړی. ۵ ځکه چې ډېر به زما په نوم راشی او
دعویٰ به کوی چې زهٔ مسیح یم، او ډېر خلق به بې‌لارې کړی. ۶ داسې وخت به راشی
چې تاسو به په خپل خواوشا کښې د جنګونو چغې او سورې او د جنګونو خبر به اورئ،
خو ګورئ تاسو مهٔ وار خطا کېږئ ځکه چې داسې خیزونه به ضرور پېښېږی خو آخر
وخت به لا نهٔ وی راغلے. ۷ قومونه به د قومونو سره په جنګ وی، بادشاهۍ به د
بادشاهۍ سره، په ډېرو ځایونو کښې به زلزلې او قحطونه راځی. ۸ خو دا ټولې خبرې
به لکه د لنګون د دردونو د شروع کېدو په شان وی. ۹ تاسو به بیا د تنګسیا او د مرګ
دپاره حواله شئ او ټول قومونه به زما د نوم په سبب تاسو سره کینه کوی. ۱۰ په دغه
وخت کښې به ډېر تیندک وخوری او د یو بل مُخبری به کوی او د یو بل سره به کینه
کوی. ۱۱ ډېر دروغژن نبیان به راپورته شی او ډېر خلق به بې‌لارې کړی. ۱۲ او چې
بې‌شرعې کارونه زیات شی نو د خلقو به د یو بل سره مینه ختمه شی. ۱۳ خو هغه
څوک چې تر آخره قائم پاتې شی هغه به بچ شی. ۱۴ او په ټوله دُنیا کښې به د بادشاهۍ
زېرے خور شی او د ټولو قومونو دپاره به ګواهی شی او بیا به قیامت وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## لوئ افت

۱۵ یوه ورځ راتلونکی ده هر کله چې تاسو د دانیال د پېشګویۍ په مطابق په مقدس ځائ
کښې هغه پلیت بُت چې تباهی راولی ولاړ ووینئ، (لوستونکی دې پرې پوهه شی) ۱۶ نو
هغه څوک چې په یهودیه کښې دی غرونو ته دې وتښتی. ۱۷ کهٔ څوک د چت دپاسه وی
هغه دې د سامان اوچتولو دپاره ښکته نهٔ راکوزیږی. ۱۸ او څوک چې په پټو کښې وی
هغه دې د خپلې څوغې راخستلو دپاره نهٔ واپس کیږی. ۱۹ افسوس دے په هغه ښځو
چې په دغه ورځو کښې اُمیدوارې وی او په هغوئ چې بچو له سینه ورکوی. ۲۰ دُعا
کوئ چې ستاسو تښتته نهٔ خو په ژمی کښې او نهٔ د سبت په ورځ راشی. ۲۱ ځکه چې
هغه به د لوئ مصیبت ورځ وی. داسې وخت د دُنیا د شروع نه تر اوسه لا نهٔ دے راغلے
او نهٔ به بیا چرته راشی. ۲۲ کهٔ هغه د تکلیف ورځې لنډې کړے شوې نهٔ وې نو هیڅ یو
بشر به هم بچ شوے نهٔ وے، خو د خُدائ پاک د غوره شوو د خاطره به هغه ورځې
لنډې کړے شی. ۲۳ او کهٔ بیا تاسو ته په دغه وخت کښې څوک دا ووائی چې وګورئ
مسیح دلته دے یا هلته دے، نو باور پرې مهٔ کوئ. ۲۴ دروغژن مسیحیان او دروغژن
نبیان به راښکاره شی او لوئې معجزې او نښې به ښکاره کوی، او کهٔ ممکن وی نو غوره
شوی خلق به بې‌لارې کړی. ۲۵ ګورئ، ما تاسو د دې د کېدو نه مخکښې خبردار کړئ.
۲۶ کهٔ هغوئ تاسو ته ووائی چې هغه هلته په بیابان کښې دے نو هغهٔ پسې بهر مهٔ ځئ،
او کهٔ هغوئ ووائی چې هغه دننه په کوټه کښې دے نو باور پرې مهٔ کوئ. ۲۷ لکه څنګه
چې بریښنا د مشرق نه تر مغرب پورې رسی دغه شان به د اِبن آدم راتلل وی. ۲۸ چرته
چې مرداره وی هلته به ټپوسان راټولېږی.

## د اِبن آدم دوباره راتلل

۲۹ او هر کله چې د دغه ورځو تنګسیا تیره شی نو "سمدستی به نمر تور شی او د
سپوږمۍ رڼا به ورکه شی، ستوری به د آسمان نه راپرېوځی او آسمانی طاقتونه به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولړزولے شی.“ ۳۰ بیا به په آسمان کښې د اِبن آدم د راتلو نښه ښکاره شی، د دُنیا ټول قومونه به ژړا انګولا کوی او هغوئ به اِبن آدم ووینی چې د آسمان په وریځو کښې به د قدرت او د ډیرې لویئ سره راځی. ۳۱ او هغه به خپلې فرښتې د بیګل په لوئ آواز سره راولیږی او هغوئ به د څلورو طرفونو نه، یعنې د آسمان د یو سر نه تر بله سره، غوره شوی خلق راټول کړی.

## د اینځر د ونې مِثال

۳۲ د اینځر د ونې نه سبق واخلئ. هر کله چې د هغې نازکې څانګې غوټۍ ونیسی او پاڼې وکړی نو تاسو پوهه شئ چې اوړے په راتلو دے. ۳۳ هم دغه شان چې تاسو دا ټولې نښې ووینئ نو تاسو پوهه شئ چې هغه نزدې دے او په دروازه کښې ولاړ دے. ۳۴ زۀ تاسو ته دا وایم چې دا موجوده پیړۍ به تر هغې ختمه نۀ شی ترڅو چې دا ټولې خبرې ونۀ شی. ۳۵ زمکه او آسمان به فنا شی خو زما کلام به هیچرې فنا نۀ شی.

## نامعلومه ورځ او وخت

۳۶ خو د هغې ورځې او ساعت هیچا ته پته نشته، نۀ خو د آسمان فرښتو ته پته شته او نۀ زوئ ته، خو یو پلار پرې خبر دے. ۳۷ لکه څنګه چې د نوح په ورځو کښې وشول نو دغه شان به د اِبن آدم په راتلو هم وشی. ۳۸ په هغه ورځو کښې چې د سیلاب د راتلو نه اول وُو هغوئ خوړل، څښل، ودونه یې کول او ودونه یې ورکول، تر هغې ورځې پورې چې نوح په کشتۍ کښې ننوتلو. ۳۹ او دوئ تر هغې هیڅ خبر نۀ وُو ترڅو چې سیلاب رانۀ غلو او دوئ یې لاهو نۀ کړل. دغه شان به د اِبن آدم په راتلو هم وی. ۴۰ نو هغه وخت به دوه کسان په پټی کښې وی، یو به بوتلے شی او بل به پرېښودلے شی. ۴۱ دوه ښځې به مېچن کوی، یوه به بوتلے شی او بله به پرېښودلے شی. ۴۲ نو بیا تاسو بېدار اوسئ، ځکه چې تاسو په دې نۀ یئ خبر چې مالِک به په کومه ورځ راځی. ۴۳ خو یاد

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساتئ، کۀ د کور مالِک خبر وے چې غل به د شپې په کوم وخت کښې راځی نو هغه به
بېدار وے او خپل کور به يې کنډر کېدو ته پرېښے نۀ وو. ۴۴ نو بيا تاسو هم تيار اوسئ
ځکه چې اِبن آدم به په داسې وخت کښې راځی چې ستاسو به په خيال خاطر کښې هم
نۀ وی.

## وفادار يا بې‌وفا نوکر

۴۵ نو بيا وفادار او خيال ساتونکے نوکر څوک دے؟ هغه څوک چا ته چې مالِک د
کور اختيار ورکړے وی چې د کور د نورو نوکرانو خيال ساتی او هغوئ له مناسب
خوراک ورکوی. ۴۶ بختور دے هغه نوکر چې د مالِک د راتلو په وخت په خپل کار
آخته وی. ۴۷ زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې مالِک به دۀ له د خپل ټول مال واک اختيار
ورکړی. ۴۸ خو کۀ هغه بد نوکر د خپل ځان سره داسې ووائی چې، بويه چې زما
مالِک راځی، ۴۹ او بيا د نورو نوکرانو په وهلو لاس پورې کړی او په خوړلو او څښلو
آخته وی او په نشه کښې وی، ۵۰ نو مالِک به يې په داسې ورځ راشی چې د دۀ په خيال
خاطر کښې به نۀ وی او په داسې وخت به راشی چې هغه به خبر هم نۀ وی، ۵۱ نو هغه
به يې په وهلو ټک ټک شين کړی او دغه شان به يې په مُنافقانو کښې شامل کړی. چرته چې
به ژړا او د غاښونو چيچل وی.“

## د لسو پيغلو مِثال

۲۵ ۱ ”په هغه وخت به د آسمان بادشاهی د لسو پېغلو په شان وی چا چې
مشعلونه واخستل چې د وادۀ د زلمی استقبال له ورونځی. ۲ پينځۀ کم عقلې وې او
پينځۀ هوښيارې. ۳ هرکله چې کم عقلو مشعلونه پورته کړل نو د ځان سره يې تېل وانۀ
خستل. ۴ خو هغه هوښيارو د ځان سره د تېلو کوپۍ هم واخستلې. ۵ کله چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وادهٔ زلمے په راتلو کښې ایسار شو نو هغوئ ټولو له خوب ورغلو او اودې شوې. ٦
خو په نیمه شپه کښې چغې شوې، وګورئ د وادهٔ زلمے راغلو. راشئ چې وې ګورئ.
٧ بیا ټولې پېغلې راپاڅېدلې او خپل مشعلونه یې سم کړل. ٨ کم عقلو هوښیارو ته
ووئیل چې د خپلو تېلو نه مونږ له لږ راکړئ ځکه چې زمونږ مشعلونه مری. ٩ هغوئ
ورته ووئیل چې مونږ سره دومره تېل نشته چې د ټولو کار پرې وشی، ښهٔ به دا وی چې
تاسو دوکان ته لاړې شئ او ځان له تېل واخلئ. ١٠ څهٔ وخت چې هغوئ تېلو پسې تللې
وې نو د وادهٔ زلمے راغلو. کومې پېغلې چې تیارې وې هغوئ ورسره د وادهٔ مېلمستیا ته
ورننوتې او ور بند شو. ١١ او بیا هغه نورې پینځهٔ هم واپس راغلې او چغې یې کړې،
مالِکه، مالِکه، مونږ ته دروازه کولاو کړه. ١٢ خو هغهٔ ورته جواب ورکړو، خبره دا ده
چې زهٔ تاسو نهٔ پېژنم. ١٣ ځکه بېدار اوسئ، ولې چې تاسو ته د ورځې او د وخت هیڅ
پته نشته.

## د درېو نوکرانو مِثال

١٤ بیا د آسمان د بادشاهۍ مثال د هغه سړی په شان دے څوک چې په سفر تلو او
نوکران یې راوبلل او خپل مال یې ورته وسپارلو. ١٥ یو له یې د ساتلو دپاره د سرو زرو
پینځهٔ تیلۍ ورکړې، دویم له یې دوه او درېم له یې یوه، هر یو له یې د خپل قابلیت په
مطابق ورکړې، بیا هغه د مُلک نه روان شو. ١٦ چا ته چې پینځهٔ تیلۍ ورکړے شوې
وې هغه سمدستی لاړو او سوداګری یې پرې شروع کړه او پینځهٔ تیلۍ یې پرې نورې
وګټلې. ١٧ او هم هغه شان چې چا ته چې دوه تیلۍ ورکړے شوې وې هغهٔ دوه نورې
وګټلې. ١٨ خو چا له چې یوه تیلۍ ورکړے شوې وه هغه لاړو او په زمکه کښې یې کنده
وکنستله او د مالِک هغه پیسې یې په کښې ښخې کړلې. ١٩ ډېره موده پس د هغوئ
مالِک واپس راغلو او د هغوئ نه یې حساب وغوښتو. ٢٠ چا له چې یې د سرو زرو
پینځهٔ تیلۍ ورکړې وې، هغه راغلو او پینځهٔ نورې یې ورسره کېښودې او ورته یې ووئیل
چې ګوره مالِکه، تا ما له پینځهٔ تیلۍ راکړې وې، ما ورسره پینځهٔ نورې وګټلې. ٢١

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک ووئیل، شاباش زما اعتباری او ایمانداره نوکره، تا په لږ څۀ کښې ځان اعتباری
ثابت کړو، اوس به زۀ تا د ډېر څۀ اختیارمند کړم. راشه او د خپل مالِک په خوشحالئ
کښې شریک شه. ٢٢ بیا د دوو تیلو هغه کس راغلو او وې وئیل، مالِکه، تا ما ته دوه
تیلئ سپارلې وې، ګوره، ما ورسره دوه نورې وګټلې. ٢٣ مالِک ورته ووئیل، شاباش،
زما اعتباری او ایمانداره نوکره. تا په لږ څۀ کښې ځان اعتباری ثابت کړو، اوس به زۀ تا
د ډېر څۀ اختیارمند کړم. راشه او د خپل مالِک په خوشحالئ کښې شریک شه. ٢٤ بیا
هغه څوک راغلو چا ته چې یوه تیلئ ورکړې شوې وه او وې وئیل، مالِکه، ما ته پته وه
چې تۀ یو سخت سړے یې، تۀ یې هلته رېبې چرته چې دې کَرلی نۀ وی، او هلته یې
راټولوې چرته چې دې تخم نوستلے نۀ وی. ٢٥ نو زۀ وېرېدلم، ځکه لاړم او ستا سرۀ
زر مې په زمکه کښې ښخ کړل. ګوره څۀ چې ستا وُو هغه دا دی. ٢٦ مالِک ورته
ووئیل، اے بدکاره نوکره، تا ته معلومه وه چې زۀ یې هلته رېبم چرته چې مې کَرلی نۀ
وی او هلته یې راټولوم چرته چې مې تخم نوستلے نۀ وی؟ ٢٧ نو بیا تا ته پکار وُو چې
زما پېسې دې صرافانو له ورکړې وے، نو په واپسئ به ما هغه مال د ګټې سره حاصل
کړے وو. ٢٨ هغۀ ووې چې د دۀ نه د سرو زرو هغه تیلئ واخلئ او د لسو تیلو والا له
یې ورکړئ. ٢٩ ځکه چې د چا سره چې څۀ وی هغۀ ته به نور هم ورکړے شی تر هغې
چې څۀ ترې سېوا هم شی، خو د چا سره چې څۀ نۀ وی هغۀ نه به هغه څۀ هم واخستلے
شی چې ورسره وی. ٣٠ نو دا بېکاره نوکر تیارې ته وغورزوئ، چرته به چې د ژړا او د
غاښونو چیچل وی.

## د قومونو عدالت

٣١ هر کله چې اِبن آدم په پوره شان سره راشی او ټولې فرښتې ورسره وی، هغه به بیا
په لویئ سره په خپل آسمانی تخت کښېنی. ٣٢ او ټول قومونه به د هغۀ په وړاندې
راجمع کړے شی هغه به خلق په دوو ډلو کښې جدا کړی لکه څنګه چې شپونکے ګډې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د چیلو نه جدا کوی. ﴿۳۳﴾ او هغه به ګډې ښی لاس ته او چیلۍ ګس لاس ته کړی. ﴿۳۴﴾
بیا به بادشاه د ښی لاس خلقو ته ووائی چې راځئ زما د پلار بختورو خلقو، د بادشاهۍ
وارثان شئ چې د دُنیا د پېدایښت راسې تاسو له جوړه شوې وه په هغې کښې ورداخل
شئ. ﴿۳۵﴾ کله چې زهٔ اوږے وم تاسو ما له خوراک راکړو، او چې تږے وم د څښلو
دپاره مو اوبهٔ راکړې، او چې مسافر وم نو تاسو خپل کور ته بوتلم، ﴿۳۶﴾ او چې برېنډ وم
نو تاسو په جامو پټ کړم، کله چې زهٔ ناجوړه وم نو تاسو زما خیال وساتلو او چې په
جیل کښې وم نو تاسو زما ملاقات له راغلئ. ﴿۳۷﴾ نو صادقان به جواب ورکړی، مالِکه،
دا کله وُو چې مونږ تهٔ اوږے ولیدلې او خوراک مو درکړو، یا تږے وې او د څښلو دپاره
مو اوبهٔ درکړې، ﴿۳۸﴾ او یا مسافر وې او کور ته مو دننه کړې، برېنډ وې او د اغوستلو
دپاره مو جامې درکړې؟ ﴿۳۹﴾ مونږ تهٔ کله ناروغه یا په قید کښې لیدلے وې او ملاقات له
دې درغلی وُو؟ ﴿۴۰﴾ خو بادشاه به جواب ورکړی، زهٔ تاسو ته رښتیا وایم چې تاسو زما
په وروڼو کښې د عاجز نه عاجز یو کس سره هم چې څهٔ کړی دی نو زما دپاره مو کړی
دی. ﴿۴۱﴾ بیا به هغه هغوئ ته ووائی، څوک چې به د هغهٔ ګس لاس ته وی، اے لعنتیانو،
زما د سترګو نه اخوا شئ او هغه تل ابدی اور ته لاړ شئ چې د شیطان او د هغهٔ د
فرښتو دپاره تیار شوے دے. ﴿۴۲﴾ کله چې زهٔ اوږے وم تاسو ما له خوراک رانهٔ کړو،
او چې تږے وم د څښلو دپاره مو اوبهٔ رانهٔ کړې، ﴿۴۳﴾ او چې مسافر وم نو کور ته مو
دننه نهٔ کړم، چې برېنډ وم تاسو د اغوستلو دپاره جامې رانهٔ کړې، او کله چې زهٔ ناروغه
او جیل کښې وم نو تاسو زما ملاقات له رانهٔ غلئ. ﴿۴۴﴾ او هغوئ به هم په جواب کښې
ووائی، مالِکه، دا کله مونږ تهٔ په لوږه، تنده، مسافر، برېنډ، ناروغه یا په جیل کښې لیدلے
یې او ستاسو خِدمت مو نهٔ دے کړے؟ ﴿۴۵﴾ نو هغهٔ ورته جواب ورکړو، زهٔ تاسو ته
رښتیا وایم، کله چې تاسو د دوئ نه د یو کس سره هم مدد نهٔ دے کړے، نو دا تاسو ما
سره مدد نهٔ دے کړے. ﴿۴۶﴾ نو بیا به هغوئ ابدی عذاب ته ولېږلے شی، خو صادقان به
د تل ژوندون حاصل کړی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عيسىٰ د قتل سازش

**۲۶** ۱ کله چې عيسىٰ خپلې خبرې خلاصې کړې نو خپلو مريدانو ته يې وفرمائيل،
۲ ”تاسو خبر يئ چې دوه ورځې پس به د فسح اختر وى، او اِبن آدم به په سولۍ کولو
ته وسپارلے شى.“ ۳ بيا مشران اِمامان او د قوم مشران د مشر اِمام کائفس په محل
کښې جرګه شول. ۴ او هلته هغوئ دا سازش کولو چې عيسىٰ په پټه ونيسو او مړ يې
کړُو. ۵ خو هغوئ ووئيل چې، ”دا دې د اختر په ورځ نۀ وى، ګنې په خلقو کښې به
بلوا جوړه شى.“

## د حضرت عيسىٰ په سر عطر اچول

۶ کله چې عيسىٰ د شمعون جذامى په کور کښې په بيتِ‌عنياه کښې وو، ۷ يوه ښځه
راغله چې د مرمرو په عطردان کښې ورسره قيمتى خوشبويه عطر وُو، او څنګه چې هغه
خوراک ته کښيناستو هغې ورله په سر عطر واچول. ۸ مريدانو چې دا وليدل نو خفه
شول. هغوئ ووئيل، ”دا دې ولې ضائع کړل؟ ۹ دا خو به په ډېرو پېسو خرڅ شوې
وے او پېسې به يې د چا غريبانانو په کار راغلې وے.“ ۱۰ عيسىٰ په دې خبر وو او
هغوئ ته يې وفرمائيل چې، ”تاسو دا ښځه ولې تنګوئ؟ هغې ما سره ډېر ښۀ کړى دى.
۱۱ ځکه چې غريبانان خو به تل تاسو سره وى خو زۀ به درسره تل نۀ يم. ۱۲ هغې
چې دا عطر زما په بدن واچول نو زۀ يې د ښخولو دپاره تيار کړم. ۱۳ زۀ تاسو ته رښتيا
وايم چې هر چرته چې په دُنيا کښې دا زېرے خورېږى نو څۀ چې هغې وکړل نو دا به هم
په دې يادېږى.“

## د يهوداه اِسکريوتى مُخبرى

۱۴ نو بيا يهوداه اِسکريوتى چې په هغه دولسو مريدانو کښې يو وو، مشرانو اِمامانو له

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړو، ۱۵ او ورته يې ووئيل، ”کۀ زۀ په عيسیٰ جاسوسی وکړم نو تاسو به ما له څۀ
راکړئ؟“ نو هغوئ ورله دېرش د سپينو زرو سيکې ورکړې. ۱۶ د هغه وخت نه پس هغه
د مخبرئ د موقعې په تلاش کښې وو.

## مريدانو سره فسح خوړل

۱۷ د پتيرې روټئ د اختر په اوله ورځ عيسیٰ له مريدان راغلل او وې وئيل چې، ”ستا
کوم ځائ خوښ دے چې مونږ په کښې تا له د فسح خوراک تيار کړُو؟“ ۱۸ هغۀ ورله
جواب ورکړو چې، ”په ښار کښې فلانی سړی له ورشئ او ورته ووايئ چې اُستاذ وائی
چې زما مقرر وخت رانزدې دے، زۀ به د مريدانو سره ستا په کور کښې د فسح اختر
کوم.“ ۱۹ مريدانو د عيسیٰ د وينا په مطابق کار وکړو او هلته يې د فسح خوراک تيار
کړو. ۲۰ کله چې ماښام شو عيسیٰ هغه دولسو مريدانو سره کښېناستو. ۲۱ او د
روټئ په وخت هغۀ ورته وفرمائيل، ”زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې په تاسو کښې به يو زما
مُخبری کوی.“ ۲۲ هغوئ ورته نمبر په نمبر ډېر په پرېشانئ سره ووئيل، ”مالِکه زۀ خو
به نۀ يم؟“ ۲۳ هغۀ جواب ورکړو، ”چا چې زما سره په دې تالی کښې لاس ښکته کړو
هغه به په ما مُخبری کوی. ۲۴ د اِبن آدم په حق کښې چې په صحيفو کښې څۀ راغلی
دی هغه به په هغه لاره ځی، خو افسوس په هغه سړی دے چې په اِبن آدم جاسوسی
کوی. کۀ هغه سړے پيدا شوے نۀ وے نو د هغۀ په حق کښې به دا ډېره ښۀ وه.“ ۲۵ بيا
يهوداه، څوک چې مُخبر وو ورته ووئيل، ”مالِکه زۀ خو به نۀ يم؟“ عيسیٰ جواب ورکړو
چې، ”دا ستا وينا ده.“

## عشاء ربانی

۲۶ د خوراک په وخت عيسیٰ يوه روټئ راواخسته، شُکر يې پرې وکړو او ما ته يې کړه.
په مريدانو يې ووېشله او وې فرمائيل، ”دا واخلئ، وې خورئ، دا زما بدن دے.“ ۲۷ بيا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ د میو یوه پیالۍ راواخسته، د خُدائ پاک شُکر یې پرې ووېستو او په دې وینا سره
یې هغوئ له ورکړه چې، ”د دې نه ټول وڅښئ. ۲۸ دا زما وینه ده چې د خُدائ پاک او
د انسانانو تر مینځ د لوظ نښه ده چې د ډېرو خلقو د ګناهونو د معافۍ دپاره توئېږی. ۲۹
زهٔ تاسو ته دا وایم چې د انګورو رس به زهٔ بیا تر هغې ورځې پورې ونهٔ څښم ترڅو چې
زهٔ یې د خپل پلار په بادشاهۍ کښې تاسو سره تازه ونهٔ څښم.“ ۳۰ د حمد وئیلو نه پس
دوئ د زیتُونو غرهٔ ته لاړل.

## د پطروس د اِنکار په حقله پېشګوئي

۳۱ بیا عیسیٰ دوئ ته وفرمائیل چې، ”تاسو ټول به نن شپه زما په وجه تیندک وخورئ،
ځکه چې دا لیکلے شوی دی چې، ”زهٔ به شپون ووهم، او ګډې به یې خورې ورې شی.“
۳۲ خو هر کله چې زهٔ بیا پاڅولے شم نو زهٔ به ستاسو نه وړاندې ګلیل ته لاړ شم.“ ۳۳
پطروس جواب ورکړو، ”ستا په وجه کهٔ بل هر یو هم تیندک وخوری، خو زهٔ به هیچرې
تیندک ونهٔ خورم.“ ۳۴ عیسیٰ هغهٔ ته وفرمائیل چې، ”زهٔ تا ته رښتیا وایم چې تهٔ به نن
شپه د چرګ د بانګ نه وړاندې درې ځله زما نه اِنکاری شې.“ ۳۵ پطروس ورته ووئیل،
”کهٔ زهٔ تا سره مړ هم شم خو ستا نه به هیچرې اِنکاری نهٔ شم.“ او ټولو مریدانو هم
داسې اِقرار وکړو.

## د ګېتسمنی په باغ کښې دُعا کول

۳۶ نو بیا عیسیٰ سره د مریدانو ګېتسمنی نومې ځائ ته لاړو او هلته یې هغوئ ته
وفرمائیل چې، ”ترڅو چې زهٔ دُعا کوم تاسو دلته کښېنئ.“ ۳۷ هغهٔ پطروس او د زبدی
زامن د ځان سره کړل، نو ډېر غمژن شو او پرېشانی پرې راغله. ۳۸ او هغوئ ته یې
وفرمائیل چې، ”زما زړهٔ د غمه چوی، دلته ایسار شئ او ما سره بېدار اوسئ.“ ۳۹ هغه
یو څو قدمه لاړو، پړمخې پرېوتو او دا دُعا یې وکړه چې، ”اے زما پلاره، کهٔ کېدے شی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو دا د تکلیف پیاله زما نه اخوا کړه، زما مرضی نه بلکې ستا مرضی دې پوره شی." ۴۰
بیا دے مریدانو له راغلو نو هغوئ یې اوده ومونډل نو هغهٔ پطروس ته وفرمائیل، "ولې
تاسو ما سره یوه گینټه قدرې هم بېدار نهٔ شوئ پاتې کېدے؟ ۴۱ بېدار شئ، او دُعا
وکړئ چې د آزمېښت په وخت ناکامه نهٔ شئ. ځکه چې روح خو تیار دے خو بدن
کمزورے دے." ۴۲ هغه په دویم ځل لاړو او دُعا یې وغوښته چې، "اے زما پلاره، کهٔ
چرې دا د تکلیف پیاله زما د څښلو نه بغېر اخوا کېدے نهٔ شی، نو ستا رضا دې وشی."
۴۳ چې یو ځل بیا هغه واپس راغلو نو هغوئ یې اوده ومونډل ځکه چې د هغوئ سترگې
درنې شوې وې. ۴۴ بیا هغهٔ هغوئ پرېښودل او لاړو او په دریم ځل یې دُعا وغوښتله او
هغه مخکښینۍ خبرې یې بیا وکړلې. ۴۵ بیا هغه مریدانو له راغلو او ورته یې وفرمائیل
چې، "ولې تاسو لا هغه شان اوده یئ، هغه شان لا آرام کوئ؟ خو وخت راغلو چې اِبن
آدم به د گناهگارانو لاسونو ته حواله شی. ۴۶ پاڅئ، ځئ چې ځو. زما مُخبر نزدې
راغلے دے."

## د حضرت عیسیٰ مُخبری او نیول

۴۷ عیسیٰ چې لا خبرې کولې نو سمدستی یهوداه چې په دولسو مریدانو کښې یو وو،
هغه او ډېر خلق چې تُورې او کوتکی ورسره وې رالښکاره شول هغوئ مشرانو اِمامانو، د
شرعې عالمانو او اولسی مشرانو رالېږلی وُو. ۴۸ جاسوس هغوئ ته دا نښه ښوولې وه،
"څوک چې زهٔ ښکل کړم هم هغه دے، وې نیسئ." ۴۹ نو هغه سمدستی وروړاندې شو،
وې وئیل چې، "اُستاذه سلام." او ښکل یې کړو. ۵۰ عیسیٰ ورته وفرمائیل، "ملگریه، تهٔ
چې څهٔ کول غواړې کوه." بیا هغوئ راوړاندې شول، عیسیٰ یې راټینگ کړو او وې
نیولو. ۵۱ په هغه وخت کښې د عیسیٰ په ملگرو کښې یو تُورې ته لاس کړو او راوې
ویستله او د مشر اِمام په غلام یې گزار وکړو او د هغهٔ غوږ یې پرې کړو. ۵۲ خو عیسیٰ
هغهٔ ته وفرمائیل چې، "خپله تُوره په تیکی کښې کېږده. څوک چې تُوره چلوی په تُوره
مری. ۵۳ ولې تهٔ په دې نهٔ پوهېږې چې زهٔ د خپل پلار نه مدد وغواړم او هغه به په دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساعت زما د مدد دپاره د فرښتو د دولسو لښکرو نه زيات راولېږى؟ ۵۴ نو بيا د
صحيفو دا وينا به څنګه تر سره کيږى چې په کښې وئيلے شوى دى چې دا به ضرور
کيږى؟“ ۵۵ هم په دغه وخت عيسىٰ هغه خلقو ته وفرمائيل چې، ”ولې تاسو ما ډاکو
ګڼئ چې د تُورو او کوتکو سره زما په نيولو پسې راغلى يئ څه؟ زۀ هره ورځ تاسو سره د
خُدائ په کور کښې وم او تعليم مې درکولو خو تاسو ما له لاس نۀ راوړلو. ۵۶ خو دا
هر څۀ هم څکه وشول چې د نبيانو صحيفې پوره شى.“ نو بيا ټولو مريدانو هغه يواځې
پرېښودو او ترې وتښتېدل.

## د جرګې په وړاندې پېشى

۵۷ عيسىٰ نيولے تړلے د مشر اِمام کائفس کور ته بوتلے شو چرته چې د شرعې
عالمان او مشران راټول وُو. ۵۸ پطروس ورپسې په څۀ فاصله کښې وروستو روان وو.
نو کله چې د مشر اِمام د کور صحن ته ورسېدو، نو نېغ ورغلو او هلته هغه د سپاهيانو
سره کښېناستو چې د دې هر څۀ اَنجام ووينى. ۵۹ مشرانو اِمامانو او ټولې جرګې دا
کوشش وکړو چې د عيسىٰ په خلاف داسې څۀ ګواهى پېدا کړى چې د مرګ حُکم پرې
وکړى. ۶۰ خو داسې ګواهى يې پېدا نۀ کړے شوه، سره د دې چې ډېر کسان د دروغو
ګواهئ دپاره راوړاندې شوى وُو. آخر دوو سړو دا ګواهى وکړه چې، ۶۱ ”دۀ فرمائيلى
وُو چې زۀ د خُدائ پاک کور نړولے شم او په دريو ورځو کښې يې بيا آبادولے شم.“
۶۲ په دې مشر اِمام پاڅېدو او عيسىٰ ته يې ووئيل چې، ”ولې تا سره جواب نشته؟ دا
اِلزامونه د څۀ دى چې هغوئ ستا خلاف ګواهى ورکوى؟“ ۶۳ خو عيسىٰ چپ پاتې شو.
نو بيا مشر اِمام ووئيل چې، ”زۀ د ژوندى خُدائ پاک قَسم درکوم چې ووايه، تۀ په رښتيا
مسيح، د خُدائ پاک زوئ يې کۀ نه؟“ ۶۴ عيسىٰ جواب ورکړو چې، ”دا ستا وينا ده،
خو زۀ تاسو ته دا وايم چې د نن نه پس به تاسو اِبن آدم د خُدائ پاک ښى لاس ته ناست
او د آسمان په وريځو کښې په راتلو ووينئ.“ ۶۵ په دې وينا مشر اِمام خپله چُوغه
وشلوله او وې وئيل چې، ”دے خو کُفر وائى. د دې ګستاخئ نه پس هم د نورو ګواهانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حاجت شته څۀ؟ تاسو په خپله دا کُفر واورېدو. ۶۶ ستاسو فيصله څۀ ده؟“ هغوئ
جواب ورکړو چې، ”دے مجرم دے او د قتلولو جوګه دے.“ ۶۷ بيا هغوئ د هغۀ په
مخ وتُوکل او په سوکونو يې ووهلو او ځينو په څپېړو ووهلو، ۶۸ او وئيل يې، ”اے
مسيح، کۀ تۀ په رښتيا نبی يې نو دا راته ووايه چې چا ووهلې.“

## د پطروس د حضرت عيسیٰ نه منکرېدل

۶۹ نو په دې دوران کښې پطروس بهر په صحن کښې ناست وو چې يوه وينځه ورغله
او ورته يې ووئيل، ”تۀ خو هم د عيسیٰ ګليلی سره وې.“ ۷۰ خو پطروس د ټولو په
مخکښې منکر شو او وې وئيل چې، ”زۀ نۀ پوهېږم، چې دا تاسو څۀ وايئ؟“ ۷۱ بيا هغه
د ډيوډۍ په لور روان شو او هلته يوې بلې وينځې چې هغه وليدو نو موجودو خلقو ته يې
ووئيل چې، ”دا سړے هم د عيسیٰ ناصری سره وو.“ ۷۲ يو ځل بيا هغه منکر شو او په
قسمونو شو چې، ”زۀ دا سړے نۀ پېژنم.“ ۷۳ لږه شيبه وروستو د ولاړو کسانو نه يو
څو کسان راغلل او پطروس ته يې ووئيل چې، ”بېشکه تۀ د هغوئ نه يو يې ځکه چې ستا
د لهجې نه دا پته لګی.“ ۷۴ په دې هغه په بدو ردو سر شو او قسمونه يې وخوړل چې،
”زۀ دا سړے نۀ پېژنم.“ په دغه وخت کښې چرګ بانګ ووئيلو. ۷۵ او پطروس ته د
عيسیٰ هغه خبره رايادہ شوه چې فرمائيلی يې وُو چې، ”د چرګ د بانګ نه مخکښې به تۀ
زما نه درې ځله اِنکاری شې.“ هغه بهر ووتو او په چغو چغو يې وژړل.

## د حضرت عيسیٰ پيلاطوس له بوتلل

۲۷ ۱ چې سبا شو نو مشران اِمامان او د قوم مشران راټول شول او دا منصوبه يې
جوړه کړه چې عيسیٰ به څنګه وژنو. ۲ بيا يې هغه وتړلو او روان يې کړو او رومی
ګورنر پيلاطوس ته يې حواله کړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهوداه اِسکریوتی خودکُشی کول

۳ کله چې یهوداه مُخبر ته پته ولګېده چې په عیسیٰ باندې جرم ثابت شوے دے نو
هغه پښېمانه شو او هغه د سپینو زرو دېرش سیکې یې مشرانو اِمامانو او قومی مشرانو ته
واپس کړې. ۴ هغهٔ ووئیل، ”ما ګناه کړې ده چې یو بې‌ګناه سړی ته د مرګ سزا مِلاو
شوې ده.“ خو هغوئ ووئیل چې، ”زمونږ پرې څهٔ؟ تهٔ پوهه شه او ستا کار پوهه شه.“
۵ نو هغهٔ بیا د سپینو زرو سیکې د خُدائ په کور کښې په زمکه وغورزولې او د هغوئ
نه روان شو، او خپل ځان یې پانسی کړو. ۶ مشرانو اِمامانو د سپینو زرو سیکې
راوچتې کړې او وې وئیل چې، ”دا سیکې د خُدائ د کور په خزانه کښې اچول روا نهٔ دی
ځکه چې دا د قتل قیمت دے.“ ۷ نو صلاح یې وکړه او د کُلال زمکه یې پرې واخسته
چې د مسافرو قبرستان پرې جوړ کړی. ۸ تر نن ورځې پورې هغه زمکه د خُون په پټی
یادیږی. ۹ دغه شان د یرمیاه نبی پېشګوئي تر سره شوه چې، ”هغوئ دېرش د سپینو
زرو سیکې واخستلې چې هغه په بنی اِسرائیلو کښې د سر قیمت وو، ۱۰ او هغه د سپینو
زرو سیکې یې د کُلال په زمکه ورکړې، لکه چې مالِک ما ته حُکم راکړے دے.“

## د پیلاطوس د حضرت عیسیٰ نه تپوسونه

۱۱ بیا یې عیسیٰ ګورنر له راوستو او چې هغه هلته ودرېدو نو ګورنر ترې تپوس وکړو
چې، ”ولې تهٔ د یهودیانو بادشاه یې څهٔ؟“ عیسیٰ وفرمائیل چې، ”دا ستا وینا ده.“ ۱۲ او
کوم اِلزام چې په هغهٔ باندې مشرانو اِمامانو او اولسی مشرانو لګولے وو د هغې یې هیڅ
جواب ورنهٔ کړو. ۱۳ بیا پیلاطوس ورته ووئیل چې، ”ولې تهٔ دا ټولې ګواهئ چې ستا په
خلاف کیږی نهٔ اورې څهٔ؟“ ۱۴ خو هغهٔ په جواب کښې د یو ټکی نه هم اِنکار ونهٔ کړو
او ګورنر په دې ډېر حېران شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت عیسیٰ د مرګ سزا

۱۵ د اختر په ورځ د ګورنر دا دستور وو چې د خلقو په خوښه به يې يو قيدی آزادولو.
۱۶ په دغه وخت کښې برابا نومې يو بدنام سړے په قيد کښې وو. ۱۷ کله چې خلق
راغونډ شول نو پيلاطوس ورته ووئيل چې، "ستاسو په خوښه زهٔ څوک آزاد کړم، برابا يا
عيسیٰ چې ورته مسيح وئيلے شی؟" ۱۸ ځکه چې هغهٔ ته پته وه چې هغوئ عيسیٰ د
حسد په وجه دهٔ ته حواله کړے وو. ۱۹ پيلاطوس لا په تخت ناست وو چې د خپلې
ښځې له طرفه ورته پېغام راغلو چې، "دې بې‌ګناه سړی ته ګورے هيڅ ونهٔ وائې ځکه چې
بيګاه په ما په دې وجه په خوب کښې ډېر مصيبت تير شو." ۲۰ تر دې وخته مشرانو
اِمامانو او نورو مشرانو خلق دې ته لمسولی وُو چې د برابا آزادی وغواړی او د عيسیٰ
قتل. ۲۱ کله چې ګورنر دوباره ترې تپوس وکړو چې، "په دواړو کښې څوک آزادول
غواړئ؟" هغوئ چغې کړې، "برابا." ۲۲ پيلاطوس ورته ووئيل چې، "بيا د عيسیٰ سره
څهٔ وکړم څوک چې د مسيح په نوم يادېږی؟" ټولو په يو آواز په چغو ووئيل چې، "دے په
سولیٰ راځوړند کړئ." ۲۳ پيلاطوس ووئيل چې، "ولې؟ په څهٔ ګناه؟" خو هغوئ نورې
هم چغې کړې چې، "په سولیٰ يې کړه." ۲۴ پيلاطوس پوهه شو چې زهٔ هيڅ نهٔ شم
کولے او فساد جوړېږی، نو هغهٔ اوبهٔ راوغوښتلې، د ټولو خلقو په وړاندې يې خپل لاسونه
ووينځل او وې وئيل چې، "زما لاسونه دې د دې سړی د خُون نه پاک وی، د دهٔ د خون
ذمه واری دې ستاسو په غاړه وی." ۲۵ ټولو خلقو په يو آواز چغې کړې چې، "د دهٔ
خُون دې زمونږ او زمونږ د اولاد په غاړه وی." ۲۶ نو هغهٔ بيا برابا آزاد کړو او عيسیٰ
يې په کوړو ووهلو او په سولیٰ کولو له يې ورکړو.

## د سپاهيانو په حضرت عيسیٰ پورې ټوقې کول

۲۷ بيا د ګورنر سپاهيانو عيسیٰ قلعې ته بوتلو او ټوله فوجی دسته يې ترې راچاپيره کړه.
۲۸ جامې يې ترې وويستلې او سره شان چُوغه يې پرې واچوله. ۲۹ او د ازغو تاج يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ کړو او ورته يې په سر کړو او يو بينت يې په ښى لاس کښې ورکړو، بيا د هغهٔ په
مخکښې په زنګنو شول او ټوقې يې ورپورې کولې چې، ”اے د يهوديانو بادشاه سلامت.“
۳۰ هغوئ په هغهٔ وتُوکل او بينت يې ترې واخستو او په سر سر يې پرې ووهلو. ۳۱ او
چې ټوقې يې بس کړې نو چُوغه يې ترې وويستله او خپلې جامې يې ورواغوستلې. بيا يې
هغه بهر په سولۍ کولو له بوتلو.

## د حضرت عيسىٰ په سولۍ کول

۳۲ کله چې دوئ په لاره روان وُو نو شمعون نومې کرينى سړے يې په نظر شو او هغه
يې په زور په بيګار راونيولو چې د عيسىٰ سولۍ يوسى. ۳۳ او بيا ګولګتا نومې ځائ ته
ورغلل چې مطلب يې د کوپړو ځائ دے. ۳۴ هلته يې عيسىٰ ته د تريخ څيز سره ګډ
کړى مے د څښلو دپاره ورکړل، خو د څَکلو نه وروستو يې ونهٔ څښل. ۳۵ او چې کله
يې دے په سولۍ وخېژولو نو د هغهٔ په جامو يې پچه واچوله. او په خپلو کښې يې تقسيم
کړې. ۳۶ نو بيا يې هلته څوکيدارۍ ته کښيناستل. ۳۷ د هغهٔ د سر دپاسه يې يوه تخته
چې جرم پرې ليکلے شوے وو ټک وهله چې، دا د يهوديانو بادشاه عيسىٰ دے. ۳۸ دوه
ډاکوان يې هم د هغهٔ سره په سولۍ کړى وُو، يو يې د هغهٔ ښى او بل يې د هغهٔ ګس لاس
ته راځوړند کړے وو. ۳۹ په لارې تېرېدونکو به عيسىٰ ته په چغو کنځل کول او په
مسخرو به يې سرونه ورپورې خوځول، ۴۰ ”اوس ځان ته وګوره، تهٔ به د خُدائ پاک دا
کور ورانوې او بيا به يې په دريو ورځو کښې جوړوې. ښه نو بيا کهٔ تهٔ په رښتيا د خُدائ
زوئ يې خپل ځان بچ کړه، او د دې سولۍ نه راکوز شه.“ ۴۱ دغه شان مشرانو
اِمامانو، د شرعي عالمانو او مشرانو هم ورپورې مسخرې کولې، ۴۲ او وئيل يې چې،
”هغهٔ خو نور خلق بچ کول خو خپل ځان نهٔ شى بچ کولے. بېشکه کهٔ دے د بنى
اِسرائيلو بادشاه وى نو اوس دې د دې سولۍ نه راکوز شى، نو بيا به پرې مونږ ايمان
راوړو. ۴۳ د دهٔ په خُدائ پاک باور وو، اوس دې دے خُدائ بچ کړى کهٔ هغه يې
غواړى، ځکه چې دهٔ وئيل چې، زهٔ د خُدائ پاک زوئ يم.“ ۴۴ تر دې چې د دهٔ سره په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سولۍ شوو مجرمانو هم دهٔ ته سپکې سپورې وئیلې.

## د حضرت عیسیٰ وفات کېدل

۴۵ د غرمې په وخت په ټوله زمکه تیارهٔ راخوره شوه او د تیر ماسپښین تر درېو بجو
پورې وه. ۴۶ او په تیر ماسپښین عیسیٰ په اوچت آواز نعرې کړې، ”ایلی، ایلی، لما
شبقتنی؟“ یعنې، ”اے زما خُدایه پاکه، اے زما خُدایه پاکه، زهٔ دې ولې پرېښودلم؟“ ۴۷
ځینې ولاړو خلقو چې دا واورېدل نو وې وئیل چې، ”وګورئ دے اوس الیاس ته نعرې
وهی.“ ۴۸ په هغوئ کښې یو سمدستی منډه کړه یو اسفنج یې د سرکې نه ډک کړو او د
هغهٔ شونډو ته یې د یوې چوکې په سر ونیولو چې وې څښی. ۴۹ خو نورو ووئیل چې،
”اوس به وګورو چې الیاس راشی او دے راکوز کړی.“ ۵۰ عیسیٰ بیا یوه تېزه کریکه
کړه او ساه یې ورکړه. ۵۱ هغه وخت د خُدائ د کور پرده د سر نه تر بیخه پورې په
مینځ دوه شوه. او زلزله راغله، ګټان وچاودل، ۵۲ او قبرونه وسپړدے شول او د خُدائ
پاک ډېر مقدسین د خوبه رابېدار شول. ۵۳ او د عیسیٰ د پاڅېدلو نه پس هغوئ د
قبرونو نه راووتل، یروشلم ته ننوتل او ډېرو خلقو یې ننداره وکړه. ۵۴ کله چې صوبه
دار او د هغهٔ سپاهیانو چې د عیسیٰ څوکیداری یې کوله زلزله او دا ټول واقعات ولیدل نو
په هغوئ هیبت راغلو او وې وئیل، ”بېشکه چې دا سړے د خُدائ پاک زوئ وو.“ ۵۵
ډېرې ښځې هم هلته موجودې وې او د لرې نه یې تماشه کوله. هغوئ د ګلیل نه په عیسیٰ
پسې خِدمت ته راغلې وې. ۵۶ په هغوئ کښې یوه مریم مګدلینی وه او بله د یعقوب او د
یوسف مور مریم، او د زبدی د زامنو مور وه.

## د حضرت عیسیٰ ښخول

۵۷ کله چې ماښام شو نو د ارمتیه یو مالداره سړے وو چې نوم یې یوسف وو او د
عیسیٰ مرید وو، راغلو. ۵۸ هغه پیلاطوس له ورغلو او د عیسیٰ لاش یې ترې وغوښتو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیلاطوس حکم وکړو چې ور دې کړے شی. ۵۹ یوسف هغه لاش یوړو او په صفا کتان
کښې یې ونغښتو، ۶۰ او هغۀ په خپل نوي غار کښې کېښودو کوم چې هغۀ په ګټ کښې
کنستے وو. او یو لوئ کاڼے یې د قبر خولې ته راورغړولو او ترې لاړو. ۶۱ او مریم
مګدلینې او هغه بله مریم دواړه یې قبر ته مخامخ ناستې وې.

## په قبر څوکیداران

۶۲ په بله ورځ چې د سبت ورځ وه مشران اِمامان او نور فریسیان په جمع پیلاطوس له
راغلل، ۶۳ او وې وئیل چې، "صاحبه، مونږ ته یاد دی چې هغه فریبی چې لا ژوندے وو
نو وئیلی یې وُو چې زۀ به په دریمه ورځ پورته کړے شم. ۶۴ نو تۀ بیا دا حکم ورکړه
چې تر دریو ورځو پورې دې د دغه قبر څوکیداری وکړے شی. هسې نه چې د هغۀ
مریدان راشی، لاش یې په غلا وباسی او بیا خلقو ته وائی چې هغه پورته کړے شوے
دے، او آخری فریب یې د وړومبی فریب نه ډېر بد وی." ۶۵ پیلاطوس ورته ووئیل چې،
"ځئ لاړ شئ، سپاهیان ځان سره بوځئ. څنګه مو چې خوښه وی نو هغه شان سخته
څوکیداری یې وکړئ." ۶۶ نو هغوئ لاړل، او د قبر د خولې په کاڼی یې مهرونه ولګول
او د څوکیدارۍ دپاره یې پرې سپاهیان مقرر کړل.

## د حضرت عیسیٰ بیا ژوندی کېدل

۲۸ ۱ د سبت ورځ تېره شوه او د اِتوار د ورځې سحر کېدونکے وو چې مریم
مګدلینې او هغه بله مریم د قبر لیدو له راغلې. ۲ ناګهانه یوه سخته زلزله راغله، د
آسمان نه د مالِک خُدائ یوه فرښته راکوزه شوه، غار له راغله او هغه کاڼے یې ورغړولو
او پرې کښېناسته. ۳ مخ یې د برېښنا په شان ځلېدو او جامې یې لکه د واورو په شان
سپینې وې. ۴ څوکیداران یې په لیدو د یرې نه په لړزېدو شول او لکه د مړو پرېوتل.
۵ فرښتې بیا ښځو ته وفرمائیل چې، "مۀ یرېږئ، ما ته پته ده چې تاسو د عیسیٰ لیدو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له راغلي يئ څوک چې په سولۍ شوے وو. ۶ هغه دلته نشته، هغه بيا پورته کړے
شوے دے لکه څنګه چې هغۀ فرمائيلي ؤو. راشئ، هغه ځائ وګورئ چرته چې هغه
پروت وو. ۷ نو بيا زر لاړې شئ او د هغۀ مريدان خبر کړئ چې هغه له مړو نه
ژوندے پاڅولے شوے دے او ستاسو نه وړاندې ګليل ته روان دے، تاسو به يې هلته
ووينئ. څۀ چې درته ما ووئيل هغه ياد ساتئ.“ ۸ هغوئ د قبر نه په هيبت او خوشحالۍ
لاړې او په منډه شوې چې مريدان خبر کړی. ۹ ناڅاپه عيسىٰ په لاره پرې پېښ شو او
په هغوئ يې سلام واچولو. هغوئ ورغلې او د هغۀ پښې يې ونيولې او سجده يې ورته
وکړه. ۱۰ بيا عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”يرېږئ مه، لاړې شئ او زما وروڼو له دا
پېغام ورکړئ چې هغوئ دې ګليل ته لاړ شی، ما به هلته ويني.“

## د څوکيدارانو خبر راوړل

۱۱ ښځې لا په خپله لار تللې چې ځينې څوکيداران ښار ته ننوتل او مشرانو اِمامانو ته
يې ټوله قيصه تيره کړه. ۱۲ بيا هغوئ مشران راغونډ کړل او صلاح يې وکړه. او
مشرانو اِمامانو سپاهيانو ته غټ رشوت ورکړو، ۱۳ او ورته يې ووئيل چې، ”تاسو به دا
ووايئ چې د شپې چې مونږ اودۀ شو نو د هغۀ مريدان راغلل او د هغۀ لاش يې پټ کړو.“
۱۴ او ورسره يې دا هم ووئيل چې، ”کۀ دا خبر د ګورنر غوږو ته ورسېدو نو مونږ به د
هغۀ سره خبره وکړو او تاسو ته به هيڅ نقصان نۀ درکوی.“ ۱۵ نو هغوئ پيسې
واخستلې او څۀ چې ورته وئيلے شوی ؤو هم هغه شان يې وکړل. دغه قيصه تر نن
ورځې په يهوديانو کښې خوره ده.

## مريدانو ته حُکم ورکول

۱۶ يوولس مريدان د ګليل هغه غر ته روان شول د کوم چې عيسىٰ ورته د تللو دپاره
فرمائيلي ؤو. ۱۷ کله چې هغوئ هغه وليدو نو ورته په سجده شول خو ځينې شکمن ؤو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ بیا عیسیٰ ورغلو او ورته یې وفرمائیل چې، ”د آسمان او د زمکې ټول اختیار ما ته
راکړے شوے دے. ۱۹ ځکه تاسو په زمکه خوارۀ شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ
او د پلار، د زوئ او د روحُ القُدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ. ۲۰ او دا تعلیم ورکوئ
چې په هغه ټولو خبرو عمل کوئ چې ما تاسو ته حکم کړے دے. او دا یقین ساتئ چې
زۀ به تل او تر قیامته پورې تاسو سره یم.“

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.